د افغانستان د څېړنې او ارزونې آداره

د ترکیبی څیړنو لړی

# برابر حقونه، نا برابر فرصتونه

## د افغانستان د پارلماني او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د ښځو ګډون





اولیور لو

او

چونا ایچاویز ، فرخ لقا امینی، فرید احمد بیات، ضیا حسین، ریحانه کلثوم حسینی او مسعوده کوهستانی



تلی ۱۳۹۱

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
دترکیبی څېړنو لړۍ

# برابر حقونه، نا برابر فرصتونه

## د افغانستان د پارلماني او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د ښځو ګډون

اولیور لو
او
چونا ایچاویز، فرخ لقا امینی، فرید احمد بیات، ضیا حسین، ریحانه کلثوم حسینی او مسعوده کوهستانی

دغه څېرنه د ملګروملتونو(د ښځو چاروڅانګې)
د جنسیت د یوالی او د ښځو د واکمنولو په مالی
مرسته سرته رسیدلی.

United Nations Entity for Gender Equality
and the Empowerment of Women

تلې ۱۳۹۱

## د لیکوالانو په اړه

اولیور لو د افغانستان د څیړنې او ارزونې د واحد (اریو) په ټاکنو کې د ښځو د ګډون د پروژې څیړونکې و او دغه راز دې د دغه واحد د اړیکو او دفاع د څانګې ایډیټور هم دی. مخکې له دې چې دی د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد ته راشي، ده په پیکینګ کې د ژورنالست په څیر کار کړی دی او د جان هاپکینز–نانجنګ د پوهنتون د چینایي او امریکایي څېړنو په مرکز کې یې د کلیوالو پرمختګونو په اړه زده کړې کړې دي.

چونا ایچاویز د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد یوه مخکښه څیرونکې ده. د ۲۰۱۰ په جنوري کې له اریو سره تر یو ځایه کیدو د مخه، کونا په کمبوډیا کې د سولې او جګړو د څیړنې په مرکز کې د اسیا فیلو په څیر کار کړی دی. په دې مرکز کې هغې د کمبوډیا د ځوانانو د درملنې، خوبونو، ارمانونو او د سولې او جګړې په اړه د هغوي د درک په اړه څېړنې کړې دي. دغه راز هغې د میندااناد د کتلور په اړه د څېړنې په انستیتوت کې د څیړنې د مخکښې همکارې په څیر کار کړی او د څیړنې پروګرام یې ترتیب کړی چې دغه مسالې په کې شامل دي: نفوس، روغتیا، سوله او د ژوند د وسایلو پروګرامونه او په جنډر پورې د تړلو مسالو مطالعه د عام شموله مسالو په څیر. دې د استرالیا له ملي پوهنتون، کانبیرا، استرالیا څخه د نفوس پیژندنې Demography په څانګه کې د دوکتورا تر درجې پورې زده کړې کړي دي. د دې د علمي څیړنې موضوع په فلپاین کې د دې اورو کاګایان په ښار کې په فابریکه کې د ښځو د کار په اړه وه.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څیړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څیړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره نوموړې اداره د پالیسي جوړونکو، مدني ټولنې، څیړونکو او زده کونکو سره ددوی د څیرنېزې وړتیا د پیاوړې کولو او ددوی په مینځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون څخه د ګټه اخیستنې دترویج په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې ادارې په ۱۳۸۱المریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته یې په کار پیل وکړ اود یو مدیره پلاوې درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د ، فنلند، او سویزرلند دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. اروپایې کمیسیون (EC)، او د نړیوالې پراختیا لپاره د څېړنیز مرکز (IDRC)، د اروپایی کمیسیون د بشری مرستو څانګه(ECHO) ، د نړیوال پراختیا انستیتیوت (ODI) اود ملګرو ملتونو د ښځو له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کیږي. د ملګرو ملتونو د ښځو چارو څانګې د جنسیت د یووالی او د ښځو د واکمنولو له خوا (UNWOMEN) او (MoWA) د افغانستان د ښځو د چارو وزارت له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کیږي.

ادیتور: توبی میلر د افغانستان د څیرنی او ارزونی اداری لپاره

ژباړونکی: سلیمان کتوازی د څیرنی او ارزونی اداری لپاره

د نشریې شمیره: ۱۲۰۵P

© ۱۳۹۱ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره. ټولې حقونه خوندي دي.دغه خپرونه ټبايي د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د لیکوال د لیکلې اجازه لیک د تر لاسه کولو سره بیا خپره، د موندلو وړ سیستم کې زیرمه او یا یوائې د غیر–سوداګریزو موخو لپاره ولیږدول شي. چیرې چې دغه خپرونه بیا خپره، زیرمه او یا د بریښنایي لارې لیږدول کیږي، د افغانستان د څیړنې او ارزونې دادارې د ویب پاڼې اړیکه باید ذکر شي www.areu.org.af. او ددې خپرونې په کارول له نوموړې موافقې پرته ، د خپرونکې یعنې د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې مخکیني لیکلې اجازه لیک ته اړتیا لري. دغه اجازه لیک کیدای شي د **areu@areu.org.af**

## مننه

د دې څېړنې لیکوالان تر ټولو د مخه د پروژې د څېړنې له ټیم، فرخ لقا امینی، فرید احمد بیات، ضیاحسین، ریحانه ګلثوم حسینی او مسعوده کوهستاني څخه د پروژې په ټول کار کې د دوي له نه ستړې کیدونکې او ډالۍ شوي زیار څخه مننه کوي. د مرکو لپاره د لومړنیو لاربښوونو له مسودې څخه تر وروستیو تحلیلي هڅو پورې دغه څېړنه دوي د مسلکی تجربو او د موضوع په اړه د دوید هر اړخیزې پوهې او درک په مرسته ترسره شوي. لیکوالان په خاص ډول د دې ټیم له مرستو څخه مننه کوي چې د دې څېړنې د میتودولوژي د برخې په مسوده کې یې کړی ده.

دغه راز دغه څېړنه د ۲۵ تنو شریکو کاندیدانو او ورسره د شپږو ټولنو خلکو د سخاوتمندانو مرستې څخه پرته به ممکنه نه وای. لیکوالان په خاص ډول د یکاولنګ د خلکوله تودې میلمه پالنې څخه ډیره مننه کوي چې د څېړنې ټیم ته یې د اوسیدلو ځای .ورکړی او له دوی سره څو ورځې پاتې شول چې په ترڅ کې یې داسې معلومات پیدا کړل چې په بل ډول به ممکنه نه وای

همدارنګه لیکوالان په خپل وار له (ملي دیموکراتیک انستیتوت) او پخواني د (ټاکنو خپلواک کمیسیون)، رییکاهاینس (د اغاخان موسسه، افغانستان) تیریسا لانګیس (پخوا د یونیفیم، افغانستان د پروګرامونو مرستیال) او نووا کوبورن، جای لیمي، انالارسن او ایملی وینټر بیتم څخه غواړي د هغو ارزښتناکه معلوماتو او مرستو څخه مننه وکړي چې د څېړنې په بیلا بیلو پړاوونو کې یې برابر کړي دي. په دې برسیره له میشایل لو مونتسیجو، جینفر لون باګاپورو لولی ویلفریدا څخه هم د .دوي د هغو مرستو په خاطر مننه وکړي، چې د پروژې ځینې لومړني ارقام او معلومات یې پروسس او چاپ کړي دي

اولیور لو او جونا ایجاویز

کابل، جنوری۲۰۱۲

# فهرست


قاموس (ګلاسوري) .......... ذ
مخففات .......... ذ
اجرایي لنډیز .......... ز
۱. پیژندنه .......... ۱
۱.۱ عمومي کتنه: په افغانستان کې د ښځو موقف .......... ۱
۱.۲ تاریخي پس منظر: له ۲۰۰۱ څخه مخکې د ښځو سیاسي ګډون .......... ۲
۱.۳ له ۲۰۰۱ څخه وروسته د ښځو لپاره په ټاکنو کې د ګډون شرایط .......... ۴
۱.۴ له ۲۰۰۱ څخه راهیسې ټاکنې .......... ۶
۲. میتودولوژي او د څیړنې شرایط .......... ۱۱
۲.۱ د څیړنې میتود .......... ۱۱
۲.۲ د ټولنې او ولایتي شرایط .......... ۱۲
۳. نوماندان .......... ۱۸
۳.۱ نوماندان او د هغوي کمپاینونه .......... ۱۸
۳.۲ عمومي تمایلات .......... ۲۸
۴. رایه ورکوونکي .......... ۳۴
۴.۱ د نوماندانو او رایه ورکوونکو په څیر د ښځو په اړه درک او پوهه .......... ۳۴
۴.۲ رایه ورکولو ته هڅونه .......... ۳۵
۴.۳ په دې اړه پریکړه کول، چې څرنګه باید رایه واچول شي .......... ۳۶
۴.۴ معلوماتو ته لاس رسی .......... ۳۹
۴.۵ د خبرتیا کچې .......... ۴۲
۴.۶ د رایې بکس ته لاس رسی .......... ۴۴
۴.۷ د ټاکنو اغیزه .......... ۴۶
۵. کلیدي موندنې او سپارښتنې .......... ۴۸
۵.۱ د نوماندانو لپاره کلیدي موندنې .......... ۴۸
۵.۲ د رایه ورکوونکو لپاره کلیدي موندنې .......... ۴۹
۵.۳ وړاندیزونه .......... ۵۱
کتاب پیژندنه (د کتابو او نسخو نېټه) .......... ۵۴
د څرګندونو لپاره ستاسي غوښتنې .......... ۵۹
د افغانستان د څیړنې او ارزونې د واحد وروستۍ خپرونې .......... ۶۰


## جدولونه او بکسونه


لومړی بکس: په افغانستان کې د ټاکنو په اړه مهمې محرکه قوې .......... ۵
لومړی جدول: په افغانستان کې له ۲۰۰۱ څخه وروسته په ملي کچه د ښځینه کاندیدانو نتیجې او د دوي شمېرې .......... ۷
دوهم جدول: ولایتي ارقام .......... ۱۳
دریم جدول: په ټاکنو کې د ولایت او ولسوالیو د برخې اخیستنې اندازه .......... ۱۳
څلورم جدول: د لیک لوست زده کړه، د ولایت په اساس د ښځو د تعلیم او نیستي اندازه .......... ۱۳
پنځم جدول: د کال او ټاکنو له مخې د ولایت په کچه د ښځینه او نارینه نوماندانو مقایسه .......... ۱۸
شپږم جدول: د ولایت په کچه د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ په ټاکنو کې د ښځینه نوماندانو ترمنځ د سیالۍ کچې .......... ۱۹
دوهم بکس: ګوښه شوي او مخالفې ښځې د بامیانو په ولسوالي کې .......... ۳۷
دریم بکس: لوستی نسل .......... ۴۱
د ضمیمې لومړی جدول: د مرکې د ډول او ساحې پر بنسټ په څیړنه کې د مرکه ورکوونکو او ګډونوالو معلومات ... ۵۳
د ضمیمې دوهم جدول: د عمر د اندازې او ساحې پر بنسټ په څیړنه کې د مرکه ورکوونکو او ګډونوالو معلومات .... ۵۳

او یا د ۰۰۹۳۷۹۹۶۰۸۵۴۸ شمیرې سره د اړیکې له لارې تر لاسه شي.

## قاموس (ګلاسوري)

| | |
|---|---|
| ایلاق | دوبې مالځړ |
| چادري | شال چې د یوې ښځې ټول ځان پکې پټ وی |
| نذر | مذهبی مراسم چې مخکې له یو مهم کار یا پیښې څخه په غاړه اخستل کیږی. |
| قوم | ګډې ډلې. داسې اصطلاحات په مختلفو مواردو کې استعمالیږی، د مثال په توګه، ټبر یا قوم، کهول ، قوم یا طائفه، سمیه او یا هغه خصوصیات چې په یو قوم پورې تړلې وی. |
| شورا | سیمیزې جرګې یا مرکې |
| ولسي جرګه | د افغانستان د استازو کور . یا ولسې جرګه |

## مخففات

| | |
|---|---|
| AREU | د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره |
| AWN | د افغانستان د ښځو شبکه |
| CSO | د مدني ټولنې سازمان |
| FGD | د ګروپي مباحثو موضوع |
| IDI | مفصله مرکه |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کمیسیون |
| EMB | د ټاکنو د تنظیم ګډه اداره |
| MoI | د کورنیو چارو وزارت |
| MOWA | د ښځو د چارو وزارت |
| MP | د ولسي جرګې غړی |
| NDI | ملي دیموکراتیک انستیتوت |
| NGO | نادولتي موسسه |
| NSP | د ملي پیستون پروګرام |
| PC | ولایتي شورا |
| BDPA | د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند |
| SNTV | د لیرد نه وړ انفرادي رایه |

# اجرايي لنډيز

د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون له مخې د يوه ديموکراتيک سيستم ايجادول بې له شکه په سياسي چارو کې د افغانستان د ښځو ونډه اخيستنه په بې ساري ډول پراخه کړې ده. له دې نېټې په وروسته کلونو کې په ميليونونو ښځو د ولس مشريزو، پارلماني او د ولايتي شورا په دورانيزو ټاکنو کې برخه اخيستې ده. په زرګونو نورو په پارلمان او ولايتي شوراګانو کې د څوکيو لپاره ځانونه کانديد کړي دي او په قانوني ډول يې په دواړو جرګو کې لېږ تر لږه د استازو څلورمه برخه د ځان کړې ده. په ټاکنو کې برخه اخيستنه ښځو ته د دې فرصت برابروي چې د هيواد د برابرو اتباعو په څېر خپل حقونه څرګند کړي اود خپلو ټولنو او په عموم ډولد هيواد د راتلونکي په تعينولو کې خپل اواز اوچت کړي. خو سره د دې، په دې ترڅ کې دوي بايد له ډېرو مهمو ګواښونو سره مخامخ شي چې له يو لړ عواملو څخه راولاړيږي لکه موجود کلتوري نورمونه، دوامداره نا امني او په افغانستان کې اوسنی سياسي چلند.

په ملګرو ملتونو کې د ښځو د دفتر له خوا تمويل شوې دغه څېړنه ځينې هغه عوامل څرګندوي چې د ۲۰۰۵ او ۱۰/ ۲۰۰۹ کلونو د ولايتي شوراګانو او پارلماني ټاکنو کې يې ښځې د برخې اخيستنې لپاره هڅولې او په دې زور اچوي چې په ټاکنو کې دوي شخصي تجربي څنګه وي، دوی څنګه بيلا بيلې ټاکنې سره پرتله کوي، د ټاکنو د جريان د ماهيت او اهميت په اړه دوي څه فکرکوي، او د دوي براخه اخيستنه د دوي په شخصي او ټولنيز ژوند څه اغيزه کوي. څېړنه د کابل، بلخ او باميانو په ولايتونو زور اچوي چې په نسبي ډول امنيت لري او لېږ محافظه کار ولايتونه دي؛ څېړنه په هغو مرکو او ګروپي مباحثو چې له ۲۵ تنو برياليو او ناکامو نوماندانو سره او له ۱۰۰ څخه زياتو ښځو او نارينه وو سره يې په هر ولايت کې له يوې کليوالې او يوې ښاري ټولنې سره ترسره کړي، تکيه کوي. څرنګه چې د څېړنې جغرافيايي ساحه او کيفي ميتودولوژي محدوده ده، داسې يوه هڅه نه ده چې په ټول هيواد کې د ښځو د انتخاباتی تجربو په اړه اوسني راپورونه وګواښوي او يا يې بدل کړي. بلکه څېړنه د دې هيله مندي لري چې ځينې هغه مهمې اضافي اجزاوې رابرسيره کړي چې تر اوسه لېږه پاملرنه ورته شوې ده.

د پارلماني او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې د نوماندانو د تجربو په څرګندولو کې، څېړنه دې نتيجې ته رسيږي چې د کاميابي ښځينه نوماندې د برياليتوب لپاره يوه طرحه(بلو پرينټ) نشته، او د انفرادي اشخاصو کيسې چې د دې ځيرنې لپاره ورسره مرکې شوې دي، دومره بيلا بيلې او پيچلې دي لکه څومره چې هغه سياسي چاپيريال بدل دی، چيرې چې دوي فعاليت لري. په داسې حال کې هغه نوماندان چې مرکې ورسره شوي دي، د خپلو ټاکنيزو مبارزو په دوران کې ډېر لېږ له جدي مذهبي يا محافظ کارانه مخالفتونو سره مخامخ شوي دي. دوي يا ډېر څله د نارينه وو له بې تفاوتي او دې عقيدې سره لاس او ګريوان وي، چې ښځې نه شي کولای چې په اغيزناک ډول استازيتوب وکړي او يا خدمتونه ارايه کړي. د دې په مقابل کې په حيرانتيا سره يو څو تنو ښځينه نوماندانو دا غوره کړه چې ښځينه رايه ورکوونکې دعوت ته راجع کړي، ښايي دليلی يې دا وي چې د دوي د محاسبې له مخې دوي د منابعو له کمبودي سره مخامخ شي ځکه چې دوي د خپلو ټولنو په بسيج کولو کې لېږ مهارت او نفوذ لري. نږدې په ټولو قضيو کې برياليو نوماندانو کولای شول چې مالي منابعو ته د لاس رسي او نفوذ لرونکو کورنيو يا سياسي ګوند سره د اړيکو د درلودلو او ډېر ځله – ترټولو مهمه– له يوې ټولنې يا جمعيت يا د رايه ورکوونکو له حوزې سره د ډيرو ښو اړيکو په درلودلو سره انتخابات وګټي.

د يادولو وړ ده، چې تر څېړنې لاندې په جمعيتونو کې ښځو په عموم ډول د رايو بکسونو ته بې له خنډه لاس رسي درلود او په دې پوهيدلې چې د ننه څنګه بايد رايه واچوي. سره د دې هم، دغه حقيقت ښايي د پروسې تخنيکي اړخ ته اشاره وکړي، خو ټول حقيقت نه څرګندوي. په داسې حال کې چې ښځې د ازادو انفرادي کسانو په شان په رايه اچولو کې ازادي درلوده، خو د جمعيت په کچه په مباحثو او د فيصلو کولو په پروسه کې د ښځو اوزا نه دی اوريدل شوی چې په اوسني افغانستان کې د انتخاباتي سياست يو ډير مهم جز ګڼل کيږي. که څه هم دوي په ندرت سره تر دې فشار لاندې راغلي چې يوه مشخص کانداید ته رايه ورکړي، خو د دوي مېړونه له هغوي سره په کورونو کې په سياسي مسالو خبرې نه کوي، د دوي زيات شمېر نه پوهيږي چې کوم نوماند ته رايه ورکړي. په داسې حال کې چې دوي د رايه ورکولو په تخنيکي ميکانيزم باندې پوهيدلې خو څرنګه چې رسمي روزنې ته يې لاس رسی نه و، له دې امله دوي ډيرې کمې په دې پوهيدلې چې د هيواد سياسي سيستم څرنګه کار کوي او څنګه کولای شي د دوي ګټې وساتي. بيا هم دا خبره بايد له دې حقيقت څخه راونه وځي چې په ټاکنو کې برخه اخيستنې د دې څېړنې په ښځو باندې ډيره مثبته اغيزه کړې ده. که څه هم دغه کار په حتمي ډول دوي ته زيات فرصت نه دی ورکړی او داسې ډيرې محسوسې ګټې نه دی رسولي، خو رايه ورکونه د دې مانا درلوده چې دولت د دوي د برابرو حقونو تاييد وکړ، د دوي په خپل ځان باو ر زيات شو او ددې هيله مندي پيدا شوه چې اوسنۍ وضعې ته بدلون ورکړي.

ټاکنې په عموم ډول او په خاص ډول په هغو کې د ښځو ګډون، په افغانستان کې په نسبي ډول يوه نوې پديده ګڼل کيږي او داسې يوه پديده چې لا تر اوسه هم د زيات بدلون او اوښتون تابع ده. ښځې لا تر اوسه هم په ملي او محلي کچه له زياتو خنډونو سره مخ دي چې د دوي غږ واوريدل شي او لا تر اوسه ډير څه بايد وشي چې په سياسي چارو کې له سړيو سره په يوه کچه او برابر ډول برخه واخلي. د تېرو لسو کلونو لاسته راوړنې په خپل ځای کې ارزښت لري، که څه هم لا يې ټينګښت نه دی موندلی. څرنګه چې له طالبانو او له ډيرو محافظه کارو خلکو سره د سولې خبرې د افغانستان په سياسي راتلونکی کې د ښځو د نقش په اړه ډيری شکونه او انديښنې شته، له دې امله ډيره ضروري ده چې افغان او نړيوال برخه وال دواړه په ګډه سره دې ته ادامه ورکړي او په دې زور واچوي چې څنګه کولای شي دغه لاسته راوړنې وساتي او د هغو پر بنياد پرمختګ وکړي.

# ۱. پيژندنه

دغه څیړنه د اریو د موسسې د ساحوي، کیفي مطالعې موندنې وړاندې کوي چې په ملګرو ملتونو کې د ښځو د دفتر له خوا تمویل شوي او په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ کلونو په ټاکنو کې د بامیانو، بلخ او کابل په ولایتونو کې د نوماندانو او رایه ورکوونکو په حیث د ښځو د ګډون په اړه ده. څیړنه د ولایتي شوراګانو او پارلماني ټاکنو له ۲۵ تنو بریالیو او ناکامو کاندیدانو او همدارنګه له سلو تنو زیاتو نارینه او ښځینه رایه ورکوونکو سره په مرکو باندې تکیه کوي چې په شپږو کلیوالي او ښاري جمعیتونو کې، په هر ولایت کې په دوو هغو کې ترسره شوې دي. د څیړنې اساسي هدفونه دا وو چې په دې برخه کې د ښځو د ونډې اخیستنې په وړاندې شته ګواښونه او فرصتونه په ګوته کړي، هغه و ارزوي او وښيي چې د وخت په تیریدو سره څنګه هغه بدل شوي او د راتلونکې پرمختګ لپاره لارې چارې څرګندې کړي. څیړنه په لاندې ډول جوړښت لري: د سریزې پاتې برخه د څیړنې تیوریتکي چوکاټ بیانوي، مخکې له دې چې په افغانستان کې اوسنی سیاسي وضعه او هغه چاپیریال توضیح شي چې په افغانستان کې په ټاکنو کې د ښځو ګډون او برخه اخیستنه هڅوي؛ دویمه برخه د څیړنې میتودولوژي او ورسره د ولایت او محل په کچه شرایط بیانوي؛ دریمه برخه د ګټونکو او بایلونکو کاندیدانو مختلفې تجربې پرتله کوي، مخکې له دې چې عمومي میلان څرګند کړي؛ څلورمه برخه د رایه ورکوونکو په څیر د ښځو د ګډون بعدونه بیانوي او پنځمه برخه بنسټیزې لاسته راوړنې او سپارښتنې توضیح کوي.

## ۱،۱ عمومي کتنه: په افغانستان کې د ښځو موقف

اوسنی افغانستان ښايي په ټوله نړۍ کې هغه هیواد وي چې د ښځو او نارینه وو ترمنځ د جنسیت پر بنیاد ډیره نابرابري موجوده وي. په ۲۰۱۱ کې افغانستان د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرامونو د جندر د نابرابري په انډیکس کې د ۱۴۵ هیوادونو له ډلې څخه ۱۳۹ ځای نیولی و. په داسې حال کې چې ښځې لا اوس هم ښوونې ته محدود لاس رسي لري؛ په ۲۰۱۰ کال کې افغانستان بیا هم له هغو هیوادونو څخه یو و چې ښځې د نارینه وو په پرتله د منځنی دورې تعلیم ته په محدوده کچه لاس رسي لري. که څه هم ښځې د هیواد په اقتصاد کې چې په عمده ډول کرنیز اقتصاد دی ډیره مهمه ونډه لري، د دغه حقیقت په ندرت سره داسې درناوي شوي چې دوي تنخواګانې واخلي او وکولای شي په مستقل ډول منابع راغونډې کړي. د ۲۰۰۷/ ۲۰۰۸ کال د ملي خطر او زیانمنتوب ارزونې ښيي چې ښځې د ټولو ملت په کچه د مزد په مقابل کې د کارګري قوی یوازې ۸ سلنه جوړوي.

د دې نا برابري بنیادي عواملو ته په پام کولو سره کبیرات آل د افغانستان موقف ته پام اړوي چې د کلاسیک پلار سالاري په ډول پیژندل شوي. کاندییوتي دغه ډول سیستم داسې پیژني چې ښځې دلته د کنترول د یوه ټولنیز سیستم تابع دي. عموما په کم عمر کې واده کیږي او هغه کورنۍ چې دوي ور واده کیږي د دوي د میړونو او پلرونو له خوا رهبري کیږي. دوي په دې کورنیو کې د ټولو نارینه وو او نورو مشرانو ښځو اطاعت کوي، دوي د پلرونو په میراث یا نور جایداد کې حق نه لري، د دوي د اولاد او کار د انتخاب د کورنۍ نارینه غړي نقش لري او کله دوي د یوه ګوښیتوب او محرومیت تابع وي چې موسساتي شکل لري، په تګ راتګ یې سخت بندیزونه موجود وي کارونه د جنسیت پر بنیاد سره جدا وي، یعنې کارونه د سړیو دنده وي او خصوصي کارونه د ښځو په دندو کې شمېرل کیږي. خو مهمه خبره دا ده چې دا حقیقت وپیژندل شي چې حد اقل په تیوري کې دغه سیستم د کنترول د متقابلو حقونو او مسوولیتونو د یوې ټولګې په ډول پیژندل شوي. دا په داسې حال کې دي چې له افغان نارینه وو څخه دا تمه کیږي چې د ټولې کورنۍ لپاره لګښتونه برابر کړي او له ښځو سره مناسب چلند وکړي او د ښځو لپاره دغه امکان شته چې په کور کې دننه تر یوه حده پورې له خپل نفوذ څخه کار واخلي.

د دې سیستم د تبرئیه کولو لپاره په دې سیستم کې شامل کسان او دغه راز بهرني مشاهده کوونکي دواړه په مکرر ډول اسلامي اصولو ته مراجعه کوي. سره د دې، ځینې نور تعبیرونه بیا وایي چې پورته یاد شوي عملونه د قران او شریعت پر بنسټ نه دي ولاړ او په اصل کې دغه دودیزې کړنې دي. په دې اړه یو مهمتکی په ځانګړې ډول په تاریخي لحاظ د دولت د هڅو په پوهیدلو کې چې د ښځو د حقونو د ساتنې لپاره یې کړی، د ناموس مفهوم دی. دوپري وايي:

> د پلار سالاري په سیستم باندې ټینګار تر یوې اندازې په دې پورې تړلی چې په افغانستان کې ښځې د ملت او د کورنۍ د ننګ او وقار سمبول ګڼل کیږي. د ښځو له خوا هر هغه عمل چې عزت او ننګ ته زیان ورسوي لکه څنګه چې د یوې ک ورنۍ یا یوې ډلې له خوا تعریف شوي وي، د دې مانا لري چې د واکمنانو ننګ او درنښت ته یې زیان رسولی او له دې امله د زغم وړ نه ګڼل کیږي. همدغه چلند او روش دی چې حمایتي موسسات او دود دستور لکه پرده او ګوښه کول ستایي او دایمي بڼه ورکوي.

اډوارډ خبره نوره هم توضیح او بیانوي چې په داسې شرایطو کې څنګه د دولت له خوا هڅې چې د ښځو په ژوند خپل اثر او نفوذ وساتي کله زورور غبرګونونه راپیدا کړي ځکه چې دا هڅې داسې انګیرل شوي چې ګویا د نارینه وو د عزت د ساتنې لپاره کیږي.

د افغانستان د پلار واکمني په دې عمومي منظر کې ځینې د پام وړ بدلونونه هم تر سترګو کیږي چې د داسې شیانو په ذریعه کنترولیږي لکه سیمه، ښاري/کلیوالي موقعیت، قوم، عمر، موقف، تعلیم او د کورنۍ یا محل خصوصي رواجونه. د مثال په توګه د پښتنو ټولنې په عموم ډول (که څه هم ټل داسې نه وي) د نورو قومونو په پرتله زیاتې محافظه کاري ګڼل کیږي، سره له دې چې ښځې په کلیوالي سیمو کې ښايي په ګرځیدو را ګرځیدو کې له لږ محدودیتونو سره مخامخ وي د هغو ښځو په پرتله چې په ښارونو کې ژوند کوي.

د پام وړ خبره دا ده، چې د جنسیت پر بنسټ اړیکې په افغانستان کې ساکنې او بې حرکته نه دي– لکه څنګه چې د لاندې شودل شوي، ریفورمونه، پرمختګ، اجتماعي بدلون او جنګونه په تیرو سلو کلونو کې د پام وړ بدلونونو سبب ګرځیدلی. د کاندیتوتي په وینا په دې

هیواد کې د تېرو لسیزو جګړو په زیاته پیمانه هغه بار نور هم درووند کړي دی چې د پلار واکمنۍ د دودیزو شکلونو له خوا د ښځو پر اوږو پروت دی، د نارینه وو هغه اراده او وړتیا کمزوري کړې ده چې خپل دودیز مسوولیتونه او دندې اجرا کړي او د تیري نوي شکلونه یې را پیدا کړي دي. دا لیکي چې حتي له ۲۰۰۱ څخه وروسته

> د جنډر پر بنسټ تعصب چې د بېلا بېلو قومي ډلو په خپل منځي دودونو کې ریښې لري نور هم د دې حقیقت په ذریعه ډېر شوي دی چې په کورنیو کې د همدردي اړیکې له لاسه ورکوي او ښایي د فقر او نیستي، په داخل کې د بې ځایه کېدنې او د نشه یي توکو د اقتصاد په ذریعه لا پسې کمرنګه شي. د جنډر پر بنیاد د نا برابریو پروسه، د ژوندانه د محلي شرایطو کمزوري کېدل، د اقتصادي ژوند غیر قانوني کېدل او محلي وسله والو ډلو او ګروپونو له خوا نا امني په ګډه او پرلپسې ډول د ښځو د زیانمنتوب ډېر شدید شکلونه رامنځ ته کوي.

د دغو شدیدو زیانونو په وړاندې، ښځو بیا هم په ۲۰۰۱ کې د نړیوالې مداخلې راهیسي موده کې ډېرې لاس ته راوړنې درلودلې دي. که څه هم د نارینه وو په پرتله اوس هم له ډېرو ګټو څخه محرومي دي، ښځو د خپل حالت په ښه کولو کې د پام وړ تجربې کړي دي، لکه تعلیم او روغتیا ته لاس رسي پیدا کول چې د ۲۰۰۱ څخه د پخوا په نسبت ډېر ښه شوي. د ډېرې مودې او په پراخه کچه ګاونډیو هیوادونو لکه ایران او پاکستان ته کډوالۍ د جګړو په موده کې ډېری خلک د جنډر د مسالې په اړه له داسې بدیلو او په نسبي ډول له لیرو محدودو نورمونو سره مخامخ کړل، چې په ځینو سیمو کې یې که څه هم ډېر کرار خو مهم بدلونونه په فکر او عمل کې را پیدا کړل، خاصتا په ځوانانو کې. دغه اوسني رژیم چې د نړیوالې ټولنې ملاتړ ورسره دي یو لړ داسې محافظتي اقدامات ونیول چې په اساسي قانون او نورو قوانینو کې د ښځو لپاره برابر حقونه خوندي کړي، چې د هیواد اتباعو په څېر په دیموکراتیک سیستم کې ګډون وکړي او دغه راز د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان چې په ۲۰۰۸ کې تصویب شو یو عملي چوکاټ بیانوی چې د ښځو د توانمند کولو پروسه او د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي تر لاندې د جنډر پر بنسټ د برابري اصل غښتلي کوي.

سره له دې هم، په تیرو وروستیو کلونو کې د ښځو د توانمند کولو پروسه له یو څه ځنډ سره هم مخامخ شوه. د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې ځینې حقونه چې ښځو ته یې ژمنه ورکړي لا تر اوسه په ټول هیواد کې نه دي تطبیق شوي او وروستیو قوانینو لکه د شعیه وګړو د شخصیه احوالو قانون، چې ډېر بد نوم لري یا د ټاکنو په قانون کې د ۲۰۱۰ کال تعدیلاتو (د لاندې برخه وګورئ) حتی ځینې لاس ته اروړنې خنثي کړي دي. په اوس مهال کې چې هیواد د طالب شورشیانو له خوا له پراخې نا امني سره مخامخ دی، په سیاست کې یې ډېر محافظه کار عناصر (که څه هم ښایي په عملي لحاظ ګټور وي) لاس لري، او هم د حکومت له خوا او هم د ستومان شویو نړیوالو ډونرانو له خواد ارادي نشتوالی څرګندېږي چې د ښځو د حقونو اجنډا پر مخ یوسي، یو داسې احساس راپیدا کوي، چې ښځې به په راتلونکو ټاکنو کې کمزوری نقش ولري. دغه خبره د ۲۰۱۲ کال د مارچ په دریمه نېټه هغه مهال ښکاره شوه کله چې د هیواد د علماوو شورا– د مذهبي معروفو پوهانو یوه کمیټه– یوه بیانیه خپره کړه او ویلي وو، چې ښځې باید په تعلیم او یا کار ځایونو کې له نابلدو نارینه وو سره یو ځای کار و نه کړي او له کور څخه د یوه محرم تن (نږدې خپل نارینه) څخه پرته له کوره و نه وځي. دغه بیانیه په ښکاره د طالبانو فرمانونه منعکسوي او که چیرې عملي شي نو له مخي یې ښځې باید له ټولو سیاسي دفترونو څخه منع شي. ښایي تر ټولو د حیرانتیا خبره دا وي چې وروسته دغه بیانیه د ولسمشر کرزي له خوا هم تایید شوه، امکان لري دده هدف دا و چې د سولې د خبرو په شرایطو کې د طالبانو له هدفونو سره توافق او نرمښ څرګند کړي.

دا هغه بدلېدونکي او خوځنده شرایط دي چې پر بنسټ یې دغه څېړنه سرته رسیدلې ده. په لاندنۍ برخه کې په افغانستان کې د دیموکراسي په پروسه کې د ښځو د ګډون اوسني سیاسي او مساعد شرایط او د هغو تاریخي پس منظر توضیح شوي. په دې برخه کې په افغانستان کې د ښځو د سیاسي برخې اخیستنې تاریخي او اوسني شرایط تر څېړنې لاندې نیول شوي.

## ۱,۲ تاریخي پس منظر: له ۲۰۰۱ څخه مخکې د ښځو سیاسي ګډون

د افغانستان په تاریخ کې په سیاست کې د ښځو د ګډون خبره تل داسې مساله وه چې یو ګام په وړاندې او دوه ګامونه شا ته پورته شوي. له ۲۰۰۱ څخه پخوا په سیاسي ساحه کې د ښځو د پرمختګ نږدې ټولې داسې هڅې وې چې د دولت له خوا پر مخ بیول شوي دي، او د هغوي اغیزې تر ډېره بریده په ښارونو کې د یوه محدود تعلیم یافته اشرافي قشر پورې تړلې پاتې شوي. د ۱۹۲۰ کلونو په موده کې د امان الله خان د ریفورمونو او د ۱۹۷۸– ۱۹۷۹ په موده کې د خلک د دیموکراتیک ګوند په وخت کې دولت هڅې وکړي چې د ښځو د حقونو اجنډا تحمیل کړي خو دغه هڅې په کلیوالي سیمو کې د خلکو او مذهبي مشرانو له خوا د شدید عکس العمل باعث وګرځیدلې. سره د دې هم دا خبره د ټینګار وړ ده چې د ښځو د حقونو مسالې په دواړو حالاتو کې که څه هم د بغاوت د محتوا یوه مهمه برخه جوړوله دغه حقونه د ځو نورو ټکو سره یو ځای د اختلاف وړ خبرې وې چې د مرکزي دولت د ځواک له یوې خواو کلیوالي سیمو د خپلواکي د هڅو ترمنځ له بلې خوا د انډول موندلو په موخه د پراخې تاریخي مبارزې یوه برخه وه. د دې په پرتله، کله چې دولت یو تدریجي روش اختیار کړي، د حقونو وړاندې کول چې کیدای شواي د ټولنې د دود په چوکاټ کې یا د داخلي شرایطو په لمن کې د خلکو له خوا په داوطلبانه ډول ومنل شي بې له دې چې د دوي دارادې په خلاف په هغوي تحمیل شي، په داسې حالاتو کې منفي غبرګون تر ډېره حده پورې ډېر پڅ و.

د ښځو د برابري مساله د لومړي ځل لپاره په ۱۹۲۳ اساسي قانون کې چې د امان الله خان له خوا د فرمان په ذریعه تصویب شوي، راپورته شوي. دغه حقونه ټولو افغاني اتباعو ته چې په افغانستان کې ژوند کوي په عمومي ډول د شخصي ازادي حق ورکوي. امان الله چې په ترکیه کې د مصطفی کمال د هغه وخت له ریفورمونو څخه اغیزمن شوي و، یو عصري غوښتونکی شخص و او دا هڅه یې وکړه چې د چادري اغوستل غیر قانوني وګرځوي او د نجونو لپاره تعلیم کول جبري کړي، که څه هم دغه قواعد یوازې د ښاري خلکو په کوچنیو برخو باندې عملي شول. که څه هم امان الله په لومړیو وختونو کې له انګلستان څخه په ۱۹۱۹ کال کې د ازدي د اخیستلو په وجه

ډېر وپیژندل شو، خو د ده د حکومت په دوران کې د هغه سیاسي بنسټ سخت ولړزیده او په ۱۹۲۸او ۱۹۲۹ کلونو کې د قبیلوي بغاوتونو په پایله کې له ځواک څخه گوښه کړای شو.

مهم راپورونه او بیانیې داسې استدلال کوي چې امان الله د ده له ریفورمونو سره د محافظه کارانو د مخالفت له وجې، خاصتا له هغو ریفورمونو سره چې له ښځو سره تړلي و، له ځواک څخه ایسته کړای شو. که څه هم پولادا او نور داسې وایي، چې د ۱۹۲۸ کال اغتشاش په ماهیت کې یوه سیاسي پېښه وه، چې (د نورو عواملو ترڅنگه) د مذهبي مشرانو له خوا پیل شوه ځکه چې د امان الله هڅې د دوي د ټولنیز او سیاسي ځواک ترتهدید لاندې نیولی و او له دوي سره فرصت غوښتونکي قبیلوي قوتونه چې له دولتي ځواک څخه یې د خپلواکي هڅې کولي مله وو. د ښځو د موقف لپاره تهدیدونه له امان الله سرهد مخالفو مذهبي مشرانو له خوا د پاریدونکي تبلیغاتي وسیلي په شکل کې د سیاسي حربې په څیر وکاریدل– ځکه د ځینو وروستیو راپورنو له مخې دوي په دې پېښو کې دومره مهم نقش پیدا کړي، سره له دې هم، لکه څنگه چې پولادا اشاره کوي، دا پېښه نه د مذهبي، بلکه د سیاسی او اقتصادي ځواک تعصب گڼل کیږي. په داسې حال کې چې قیلو تر هر څه د مخه عملي سیاسی هدفونه په پام کې نیولي وو– که څه هم د ښځو په ژوند کې د دولت له مداخلې سره مخالف وو–: چې د قبیلې لپاره تر ممکن حده پورې مادي گټې تر لاسه کړي.

سره له دې، کله چې په ۱۹۲۹ کې د امان الله د ځای نیوونکي، نادر شاه تر مشري لاندې نظم او ارامي بیا ټینگښت پیدا کړ، د ده ټولنیز ریفورمونه فسخ شول او په ځای یې په تدریجي اجتماعي بدلون باندې زور واچول شو، چې له اقتصادي پرمختگ سره یو ځای و، او دولت د ښځو د حقونو په اړه په عموم ډول په وروسته ۳۰ کلونو کې چپ پاتې شو. بیا هم، په دې دوره کې د ښځو موقف په یو مخیز ډول بې تحرکه پاتې نه شو. د کلونو په تېریدو سره دولت په دې وتوانید چې هغه روحاني کړۍ چې له ښځو څخه یې د امان الله په مقابل کې د سیاسي وسیلې په څیر استفاده کړې وه، پهارامه سره گوښتوب ته اړ باسي. له ۱۹۴۰ کلونو څخه ۱۹۶۰ هغو پورې د ظاهر شاه (۱۹۳۳– ۱۹۷۳ پورې په ځواک کې) اداري احتیاطي تدابیرو یوه لړۍ پیل کړه چې په عامه ژوند کې د ښځو نقش ته ارتقا ورکړي، په ښاري سیمو کې یې د نجونو لپاره جلا ښوونځي پرانستل، د ځینو دولتي ادارو لپاره ښځینه کارمندانې په دندو وگمارل شوې، ملگرو ملتونو ته یوه ښځینه استازي ولیږل شوه او د کابل پوهنتون د ښځینه محصلانو په مخ پرانیستل شو.

د مخالفت د دریځ په پرتله چې د امان الله له خوا غوره شوي و، د ښځو د حقونو په اړه د دولت بل اقدام ډېر په چټکتیا او بې له دې چې د عامو خلکو پام ځان ته واړوي، ترسره شو. په ۱۹۵۹ کې ظاهر شاه په ښځو باندې د دولت له خوا د چادریو د اغوستلو د تحمیل شوي دود د پای ته رسولو اشاري په پټه خوله په هغه وخت کې ورکړي، چې کله د شاهي کورنۍ ښځینه غړي په دولتي مجلسونو کې په لوڅ مخ راښکاره شوې. په هر حال د ۱۹۶۴ اساسي قانون تر تصویب پورې بیا داسې بله ریښتیني هڅه نه وه شوې چې افغان ښځو ته د خپل هیواد په اداره کې نقش ورکړي. ظاهر شاه هڅه وکړه چې افغانستان په یوه دیموکراتیک مشروطه شاهي رژیم بدل کړي او لویه جرگه (لوی مجلس یوه دودیزه موسسه ده چې مخور کسان د خلکو د استازو په نوم راغونډوي) یې را وغوښته چې په اساسي قانون په جدي توگه بیا کتنه وکړي. که څه هم جرگه له داسې کسانو څخه جوړه شوې وه چې انتصاب شوي وي او حکومت ته ژمن خلک و، خو د نورو تېرو جرگو په پرتله دا جرگه په ماهیت کې یوه مشورتي هغه وه او د یوې وسیلې دنده یې اجرا کړه چې د پاچا د ځواک د تایید مانا یې درلوده. د لومړي ځل لپاره د هیواد په تاریخ کې ۶ تنه ښځې د دې جرگې لپاره گمارل شوې وې.

هغه سند چې د دې جرگې په پایله کې تصویب شو د افغانستان د اوسني قانون لپاره یو پوخ بنیادي او پارلماني سیستم یې ایجاد کړ چې دوه مجلسونه لري. په دې سیستم کې ښځو کولای شوای چې هم رایه ورکړي او هم د افغان اتباعو په څیر د خپل ظرفیت په دننه کې ځآنونه کاندید کړي. ټاکنې په ۱۹۶۵ کې ترسره شوې؛ که څه هم له ښارونو څخه بهر د ښځینه نوماندانو شمېر په هیڅ شمار وو، خو ۳۲، څلور تنه ښځینه نوماندانې د استازو په څیر وټاکل شوې. په وروسته ټاکنو کې چې په ۱۹۶۹ کې وشوې هیڅ یوه ښځینه کاندیده ونه ټاکل شوه؛ دوو تنو ښځو ځآنونه کاندید کړي وو خو یوه هم بریالۍ نه شوه.

دغه تجربه په نا څاپي ډول هغه وخت پای ته ورسیده، کله چې پخواني صدر اعظم محمد داود خان په ۱۹۷۴ کې د کودتا له لارې ځواک ته ورسید او پارلمان یې معطل کړ. د ظاهر شاه ا حتیاطي او مشرقي اجنډا په پرتله، داود ډېر زیات له دې سره لیوالتیا درلوده چې خپل شخصي موقف تقویه کړي او دولتي ځواک ته ټینگښت ورکړي، خو باید یاده شي چې د هغې لویې جرگې غړي، چې د ده نوي اساسي قانون یې تصویب کړ، چې له مخې یې یو حزبي دولت تشکیل کړ، ۱۵ په سلو کې یې ښځې وي، او دا لومړي اساسي قانون و چې په ښکاره ډول یې ښځو او نارینه وو ته یو ډول مسوولیتونه او حقونه ورکړي وو. داود پخپله د افغانستان خلک د دیموکراتیک گوند له خوا په پلان شوې کودتا کې په ۱۹۷۸ کې ووژل شو او نوي حکومت په چټکتیا سره په متجاوزه روحیه یوه لړۍ د ډېرو نا شوني اجتماعي ریفورمونو چې د مارکس د نظریاتو تمثیل پلي کیده پیل کړه لکه د گروي لغوه کول، د ځمکو بیا ویشل، او نورې هڅې چې په دودیزه طریقه یې ودونه منع کړي وو.

د افغانستان د خلک د دیموکراتیک گوند لومړني کلونو د امان الله له ریفورمنونو سره، خاصتا د ښځو د گډون په اړه له هڅو سره ډېر ورته والی درلود چې نیمه پېړۍ له هغو مخکې پیل شوي وو. په داسې حال کې چې د امان الله د ښځو د حقونو اجنډا تر ډېره بریده تیوریکي ماهیت درلود، یو زیات شمېر ښځو د خلک د دیموکراتیک گوند له هڅو څخه متاثره شوي او د دوي په لیکو کې ودریدي. په کابل او په نور هیواد کې زیات شمېر ځواني نجونې، د منځنۍ طبقې څخه د خلک دیموکراتیک گوند له خوا د ځوانانو په سازمانونو کې منظمي شوي (که څه هم د دوي گډون په ظاهري ډول د احساساتو او هیجان او فرصت موندلو یوه نمونه وه، تر دې چې ایدیالوژیکي بیاد ولري) په داسې کې چې یو کم شمېر ښځو لکه ډاکټرې اناهیتا راتب زاد د رژیم په لوړو پوړونو کې قرار درلود. په کلیوالي سیمو کې ښځې د خلک د دیموکراتیک گوند له کدرونو سره مخامخ شولې چې هغوي دوي ته د سواد د زده کړې د کورسونو وړاندیز وکړ چې له سوسیالستي افکارو سره گډو او کله به یې دغه وړاندیزونه په دوي باندې په جبري ډول تحمیل کول.

دغه دویم ټکی یو بل مهم توپیر یا اختلاف هم رابرسیره کوي: امان الله په عموم ډول هڅه کوله چې د اسلامي عقیدې پر بنیاد خلک تشویق کړي او د عصري کمولو پلان پر مخ یوسي، د خلک دیموکرتیک ګوند هڅه کوله چې خپل ریفورمونه په جبري ډول او له خشونت سره یوځای عملي کړي او په دې ترڅ کې یې داسې تبلیغات کول چې د خلکو لپاره اجنبي او پردي بریښیدل. څومره چې د نوي رژیم په وړاندې مقاومت ډېریده، هغومره د خلک دیموکراتیک ګوند کسات او غچ اخیستنې ته تیار شو او په بې رحمانه ډول یې په سلګونو مخور مشران د مرتجعینو په نوم زندانونو ته وغورځول او ورک یې کړل، او په ځینو قضیو کې یې ټول جمعیتونه قتل عام کړل.د دې په پایله کې د حکومت ریفورمونه د عامو خلکو د مقاومت په اړه یوه تصادفي خبره نه بلکه د دې مقاومت یوه مرکزي برخه وګرځیده. ددغې بې نظمي او نا ارامي اغیزې شوروي اتحاد ته چې دغه هیواد یې د ثبات د بیا راوستو په غرض لاندې کړی و، هم یو کال وروسته ننوتي.

د شوروي د اشغال په لسیزه کې یو ډېر ښکاره توپیر د هغو پراخو او اساسي فرصتونو چې د حکومت تر ولکې لاندې کابل کې د ښځو لپاره په سیاسي ژوند کې د ګډون په غرض ایجاد شوي وو او د هغو محافظه کار غبرګون په منځ کې موجود وو چې په پاکستان کې د مجاهدینو تر ولکې لاندې سیمو او د کډوالو په پنډغالو کې لیدل کیدل. مقدم دغه توپیر داسې توضیح کوي:

> په ۱۹۸۰ لسیزه کې ښځې د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند په لیکو او حکومت کې موجودي وي خو د وزیرانو شورا استثنا وه. په لویه جرګه کې (دودیزه شورا) هم ښځې استازي موجودې وي، او د ۱۹۸۹ پارلمان اووه تنه ښځې وکیلانې لرلې... د افغانستان په خلک دیموکراتیک ګوند په مرکزي کمیټه کې څو تنو ښځو غړیتوب درلود.

له بده مرغه، د خلک دیموکراتیک ګوند د جنسیت پر بنسټ د برابري غوښتنې او ارمانونه د افغانسان د مذهبي محافظه کاره مجاهدینو لپاره، چې نږدې ټول یې نارینه وو او د هغوي د مذهبي مشرانو لپاره داسې هدفونه و چې ډېر په اساني سره تخریب کیدلای شواي. دوېري د ۱۹۸۰ لسیزې په پیل کې لیکي چې د ښځو د حقونو د اجنډا تړل له رژیم سره او د هغه د شوروي ملاتړو سره د ښځو لپاره ډېر په زیان تمامه شوه. دې حقیقت محافظه کار عناصر او عصریت غوښتونکي دومره له یو بل څخه بیل کړل چې بنسټ پالانو په پای کې د ښځو د جنبش ټولې پخوانۍ لاس ته راوړنې هم تر تهدید او تخریب لاندې ونیولې. که څه هم د مجاهدینو ځینو مشرانو په دې وخت کې د ښځو برابر حقونه په خوله یادول، خو کله چې دوي ځواک ته ورسیدل، محافظه کار روش دغه ټوله اجنډا تر ولکې لاندې راوسته. په دې قرینه کې، دا خبره زیاتره له یاده وځي چې په ۱۹۹۰ لسیزه کې د ښځو د حقونو په سیستماتیک ډول لغوه کول د طالبانو په وخت کې نه، بلکه له دوي پخوا د مجاهدینو د حکومت په مهال چې په ګروپونو ویشل شوی وو، رامنځ ته شول. د خلک دیموکراتیک ګوند د رژیم له سقوط څخه وروسته په ۱۹۹۲ کې، نوي حکومت چې د جمعیت اسلامی د مشر برهان الدین رباني تر مشرتابه لاندې و یو فرمان صادر کړ چې په کې ویل شوي دي:

> اوس چې ... زموږ اسلامی هیواد د بې دینو له اسارت څخه خلاص شو، موږ په دې ټینګار کوو، چې الهي فرمانونه په فوري ډول عملي شي، خاصتا هغه حکمونه چې د ښځو په پردې پورې اړه لري. ښځې اجازه نه لري، چې په دفترونو، راډیو سټیشنونو او یا تلویزیونونو او د ښځو په ښوونځیو کې کار وکړي چې د فساد او زنا کاري مرکزونه دي او باید وتړل شي.

کله چې طالبانو په ۱۹۹۴ کې ځواک تر لاسه کړ، دوي په چټکۍ سره دغه فکري لار وغځوله او فرمان یې وایست، چې خویندي نه شي کولای چې له کور څخه له خپل نږدي نارینه له موجودیت پرته ووځي او د ښځو مسلکی فعالیتونه باید په ټولو ښځینه روغتونونو کې د ډاکټرانو تر خدمت پورې محدود شي. د سپټمبر د ۲۰۰۱ د مخه ښځې د افغانستان د عامه او سیاسي ژوند له ډګرونو څخه په بشپړ ډول و وتلې.

## ۱,۳ له ۲۰۰۱ څخه وروسته د ښځو لپاره په ټاکنو کې د ګډون شرایط

د ۲۰۰۱ کال په اکتوبر کې په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې د مداخلې لپاره د امنیتي هدفونو تر څنګه، یو هدف د ښځو د وضعې ښه کول ګڼل شوي. د ډسمبر په همدې کال کې د بن په موافقه کې نړیوال شریکباڼي او شمالي ټلواله په دې سلا شول چې پراخ بنسټه او داسې حکومت چې د جندر د مسالو په وړاندې حساس وي تشکیل او عملي کړي او د مؤقتې اداري په چوکاټ کې د ښځو د چارو وزارت تشکیل کړي، چې د ښځو د لوړې اتحادې د پخوانیو دفترونو ځای ونیسي چې د ښځو د هوساینې لپاره یې کار کاوه. د راپوررونو له مخې د ښځو د حقونو په برخه کې د فوري او محسوسو نتایجو د غوښتلو لپاره د بین المللي زیات فشار له وجې مؤقته اداره بې له کومې ملاحظې څخه د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو له نړیوال تړون سره چې د ملګرو ملتونو له خوا تصویب شوی دی، د ۲۰۰۳ کال په مارچ کې یو ځای شو. دې پیښې افغانستان ته مسوولیت ور په غاړه کړ چې د جنسیت پر بنسټ برابري ته د رسمي قوانینو پر بنیاد ارتقا ورکړي او دارنګه د ښځو په وړاندې اوسني تبعیضي قوانین او عملونه بدل یا لغوه کړي. د ښځو د حقونو داخلي او نړیوالو پلویانو همدغو مسوولیتونو ته ګوته ونیوله کله چې دوي د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون په اړه په مذاکراتو کې شامل شول.

د اساسي قانون لویې جرګې چې د ۲۰۰۳ په ډسمبر کې د دې لپاره جوړه شوه چې د افغانستان د دولت راتلونکی وټاکي، له ۵۰۴ منتخبو استازو څخه ۱۱۴ تنه ښځې په ګوته کړي. د دې قانون تر تصویب پورې په وروستیو میاشتو کې د ښځو چارو وزارت او د ملګرو ملتونو ادارو له افغان مدني ټولنې سره څو غونډې ترسره کړي او هدف یې دا و چې نوی اساسي قانون باید د ښځو غوښتنې په پوره اندازه تضمین کړي. د دې پروسې په ترڅ کې د انفرادي اشخاصو یوه وړه ډله چې د افغاني ښځو د شبکې په مشرتابه سره راغونډی شوه، د راپوررونو له مخې په دې برخه کې مهم نقش درلوده چې په راتلونکی کې په هر انتخاباتي ارګان کې د ښځو د تضمین شوې ونډې غوښتنه وړاندې کړي. په نومبر کې د اساسي قانون د مسودې له تصویب څخه وروسته د ښځو چارو د وزارت تر مشرتابه لاندې یو بل ګروپ تشکیل شو چې د ښځو د داخلي او نړیوالو ګروپونو، یونیفیم، د افغانستان د سترې محکمې او د لوي څارنوالي استازي او قانون پوهان په کې شامل وو. دې ګروپ په بریالیتوب سره وکولای شو چې په پارلمان کې د ښځو لپاره د ونډې اندازه دوه برابره کړي.

د ۲۰۰۴ د جنوري په ۲۶ اساسي قانون تصويب شو او د ښځو لپاره يې د رايې ورکونې حق تضمين کړ او حکم يې صادر کړ چې لېږ تر لېږ له هر ولايت څخه دوه تنه ښځې ولسي جرګې ته راتلای شي (د خلکو کور)، د هيواد د پارلمان لومړی مجلس). له دې څخه په وروستيو مياشتو کې د اساسي قانون شرطونه په بيړې سره د ټاکنو د قانون د مسودې لپاره وکارول شول چې د ۲۰۰۵ د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو لپاره په پام کې و. دې خبرې روښانه کړه چې ۶۸ څوکۍ چې په پارلمان کې د ښځو لپاره ټاکل شوې وې (له ۲۴۹ څوکيو څخه) يا ۲۷ سلنه) به په ټول هيواد کې د ولايت په کچه، د نفوسو په اساس د انتخاباتي حوزو په سر چې ډېر نفوس ولري، وويشل شي، چې په يوه کوچني ولايت لکه کندز کې له دوو څخه يوه څوکۍ او په کابل کې له ۳۳ هغو څخه نهه څوکۍ رسيدلې. مهمه خبره دا ده ې په قانوني لحاظ (خو نه د اساسي قانون له مخې) د ولايتي ښورا د ټولو څوکيو څلورمه برخه بايد د ښځو لپاره خوندي وي چې په مجموع کې له ۴۲۰ څوکيو څخه ۱۲۴ هغې جوړوي، د کلونو په تېريدو سره،د ټاکنو قانون او د رايو د واحد او غير انتقالي سيستم چې دې قانون وړاندې کړي و د افغانستان له اجتماعي او سياسي واقعيتونو سره په ټکر کې راغلي چې د ټاکنو لپاره د فعاليتونو يوه ځانګړې مجموعه رامنځ ته کړي (۱ بکس وګورئ).

## لومړی بکس: په افغانستان کې د ټاکنو په اړه مهمې محرکه قوې

محل پرستي: په افغانستان کې ټاکنې تر ډېره بريده د محل پرستي پر بنياد ترسره کيږي. په ټوليز ډول، د متحدو ګروپونو (قومونو) او د متقابلو حمايتي ګروپونو اهميت په افغان ټولنه کې د دې مانا لري چې ټاکنې په افغانستان کې د هر اړخيزه مسالو او ايډيالوژيو په غوض د محلي ګټو او سياليو په محور باندې راڅرخي. د محلي ګټو لومړيتوب د دې ميلان په ذريعه نور هم قوت پيدا کوي چې د پارلمان استازي او د ولايتي شوراګانو غړي د داسې کسانو په څير انګيرل کيږي چې په مستقيم ډول خدمتونه برابروي، ځکه د دې محاسبې له مخې له نوماند څخه د يوې ټولنې حمايت په ټاکنو کې د برياليتوب په صورت کې بايد مشخصې ګټې دې ټولنې ته ورسوي.

ګروپي رايه اچونه: ګروپي رايه اچونه د افغانستان د ټاکنو يو منظم خصلت دی، که څه هم د ټولو رايو دقيق شمېر د محلي شرايطو تابع وي. د زيات شمېر ګروپي رايو بسيج کول د ټولنو لپاره يوه لار ده، چې په ذريعه يې دوي خپل سياسي قوت او نفوذ څرګندوي او دغه راز له ټاکنو څخه وروسته داسې يوه وسيله ده چې له نوماند څخه چې د دوي مرسته ورسره وه منابع تر لاسه کړي. د قوم يا قبيلې مشران جهادي قوماندانان، د ټولنې مشران لکه ملکان او کلانتران او د محلي شورا غړي ټول هغه فعالين دي چې د ګروپي رايو په بسيج کولو کې نقش لري او نړدې ټول سړي دي.

د رايې اچونې سيستم: د افغانستان د انفرادي د لېږد نه وړ رايې اچونې سيستم هم ګروپي رايه اچونه په هغو ځايونو کې هڅوي، چيرې چې ولايتونو ته د وکيلانو يو مشخص شمېر تعيين شوي وي او د هغه شمېر مستقيمو رايو په ذريعه انتخابيږي چې دوي يې ګټي. د دې مانا دا ده چې څو تنه وروستي کامياب کانديدان په هر ولايت کې په نسبي ډول په کمو رايو سره برياليتوب ته رسيږي. دغه طريقه د ښځو له قضيې سره دير شباهت لري چې د ونډې څخه برخمنې وي. په دې ډول دغه طريقه ټولنې يا جمعيتونه په مشخص ډول هڅوي چې په اتفاق سره رايه واچوي د دې لپاره چې د هغه نوماند د برياليتوب چانس زيات شي، له چا سره چې دوي تړلي دي.

### د ټاکنو د قانون مسالې

سره له دې چې د ټاکنو قانون په کمي لحاظ د ښځو د سياسي ګډون په اړه لوړ ګام اوچت کړ، خو په دې برخه کې له عيبونو څخه خالي نه و.

ونډه

که څه هم په پارلمان او ولايتي شوراګانو کې د ښځو ونډه په اصل کې د دې لپاره وه چې په دې ارګانونو کې د ښځو د ګډون په اړه د يوه اساس په څير کار ورکړي، خو په قانون کې په دې اړه داسې څرګندوالی نه و چې څنګه کيدای شي هغه عملي کړي. د دې په پايله کې د هر ولايت ونډه داسې پوره شوه چې ښځو زياتې رايې وګټلې– حتی که ځينو ډيرو سړيو ته يې ماتې ورکړه چې يوه ازاده څوکۍ وګټي. د دې مانا دا وه چې د ازادو څوکيو لپاره نوماندې ښځې هغه وي چې په ونډه کې د خپلو شاملو همکارانو په پرتله لېږ رايې ګټلې وي، خو په پای کې د ټولو رايو شمېر اعظمي حد ته ورسيد. ورېږ ورت هم د نارينه وکيلانو ځينې ادعاګانې را اخيستی دي چې دغه ونډه ديموکراتيکه نه ده، ځکه په ټاکنو کې نارينه نوماندان د هغو ښځو په ګټه وباسي چې په ټاکنو کې يې د برياليتوب چانس لېږ وي. د مثبتو او د تبعيض ضد ګامونو په وړاندې، دغه ادعاګانې د دې لپاره کارول کيدای شي چې د افغانستان په ټاکنيزو ارګانونو کې د ښځو سياسي مشروعيت کمزوري کړي. دې د دې عامې انګيرنې ثبت هم وړاندې کړی چې د نارينه او ښځينه وکيلانو ترمنځ معلوماتو ته د نشتوالی له امله شته چې ونډه په حقيقت کې د نارينه وو او ښځو د څوکيو ترمنځ يو نه بدليدونکی سرحد دی، نه دا چې په پارلمان کې د ښځو د موجوديت لپاره يو اساس وګڼل شي.

په دغو مسالو برسيره، د ونډې سيستم هم په پارلمان او هم په ولايتي جرګو کې د ښځو د توجه وړ موجوديت په ساتلو کې مهم نقش لوبولای دی. لکه څنګه چې لومړی جدول ښيي که چيرې د ونډې سيستم نه وای معرفي شوي، يوازې څو تنه ښځې به توانيدلای وای چې د برياليتوب لپاره لازم شمېر رايې وګټي دغه شمېر رايې په ورپسې ټاکنو کې بيا کمې شوي دي.

په ۲۰۱۰ کې د ټاکنو د قانون تعديل

په يوه ممکن خطرناک پرمختګ کې، ولسمشر کرزی په يو اړخيز ډول د ۲۰۱۰ په پسرلي کې په دې قانون کې د فرمان په ذريعه تعديل راوست. په دې بدلون کې يو هغه شرط و چې که چيرې د يوې ښځې څوکۍ د پارلمان يا ولايتي شورا د دورې په جريان کې خالي پاتې شي، ځای يې کولای شي يو نارينه وکيل ونيسي، که چيرې ښځينه نومانده موجوده نه وي. په دې شرط سره د ځواکمنو نارينه برخه والو لپاره دا امکان پيدا شو چې ښځې په خپلو څوکيو کې وبېروي خصوصا په هغو ولايتونو کې چې نا امنه وو او يا د ښځينه کانديدانو شمېر لېږ و. تعديل شوې قانون دغه راز نور داسې احکام درلودل چې اغيزه يې په ښځو نوماندانو باندې منفي وه. دې قانون د نوماندنو له خوا د نغدو پيسو بېرته نه ورکېدونکې مقدار درې برابر کړ چې له لسو زرو څخه ديرش زره افغانۍ شوې (نږدې ۶۰۰ ډالر). دې شرط په راتلونکو کې د ښځينه نوماندانو په اوږو په غير متناسب ډول يو دروند بار و ځکه چې د سړيو په پرتله مالي منابعو ته د دوي لاس رسي محدود دی. په دې برسيره، دې قانون په ښکاره ډول ښوونکې هم په دې شرط کې سامل کړل چې ټول ملکي کارمندان بايد له کانديدي څخه د مخه خپلې وظيفې پرېږدي او غوښتنه يې دا وه چې د دوي استعفا بايد دايمي وي (نه داسې چې دوي کولای شي د ناکاميدو په صورت کې خپلې وظيفې بيرته دوباره اشغال کړي، لکه څنګه چې د ۲۰۰۵ کال قانون ويلی و). دې شرط يو ځل بيا د ښځو نوماندانو لپاره د کانديدو لګښتونه لوړ کړل، خاصتا که دا حقيقت په پام کې وساتو چې په عموم ډول دولتي کارونه او په ښوونځيو کې د ښوونې وظيفې د ښځو لپاره د عايداتو عده منابع دي. په پايله کې، دغه تعديلات دا حقيقت څرګندوي، چې د ښځو د ګډون په اړه د دغې ادارې په لومړيو کلونو کې لاس ته راوړنې ماتيدونکې بريښي او تر يوه دايمي خطر لاندې راغلي، حتی که دغه خطر د احتکال د يوې تدريجي عمليي شکل ولري.

## ۱،٤ له ۲۰۰۱ څخه راهيسې ټاکنې

دغه برخه پرلپسې ټاکنې په لنډ ډول بيانوي او هغه مرستې توضيح کوي چې ښځينه کانديدانو او رايه اچوونکو ته ورکړل شوي دي او هغو ستونزو ته اشاره کوي چې دوي ورسره مخ وي.

### د ۲۰۰۴ ولسمشريزې او ۲۰۰۵ پارلماني او ولايتي شوراګانو ټاکنې

د افغانستان د ۲۰۰۴ کال ولسمشريزې ټاکنې په هر معيار يوه تاريخي پيښه وه. د لومړی ځل لپاره، داسې ټاکنې وې چې د ستونزو سره سره په ټوليز ډول د عامو خلکو استازيتوب يې تمثيل کړ، افغانانو وکولای شول چې په مستقيمه توګه د خپل دولت د مشر په ټاکلو کې برخه واخلي. د رايه ورکوونکو له جملې څخه ۲.۶ ميليونه تنه ښځې وې (لومړی جدول) دغه رقم په خپله څرګندوي چې له ۲۰۰۱ څخه را پدې خوا څومره بدلونونه راغلي دي. د ۲۰۰۵ کال په پارلماني او ولسمشريزو ټاکنو کې د برخه اخيستنې کچه راولوېده– په مشترک ډول زياتيدونکي نا امني، د کرزي له لومړۍ دورې د ولسمشري څخه نا رضايتي او له ټاکنو څخه بېزاري، د دغې پيښې عوامل ګڼل کيږي.په دې برسيره امنيتي وضعه له دغه کال څخه يو کال د مخه وضعې په پرتله ويجاړه شوې وه، چې خاصتا په جنوب او جنوب ختيځ برخو کې يې د ښځو لپاره جدي ستونزې راپورته کړې وې چې په ټاکنو کې برخه واخلي. په سلوګونو ښځو د سړيو سره يو ځای د ولايتي شوراګانو او پارلمان څوکيو د ګټلو لپاره ځانونه کانديد کړل [سره له دې هم ټاکنې په عموم ډول وستايل شوې ځکه چې د ستونزو په موجوديت کې ترسره شوې] او د ښځو ونډه اخيستنه دټولو رايه اچوونکو په مجموعي شمر کې په تيورتيکی ډول (د لاندې برخه وګورئ) په سلو کې ۴۱ ته ورسيده.

لومړنی ټاکنې، چې د ټاکنود ګډې ادارې، د ملګرو ملتونو او افغان حکومت له خوا جوړه شوې ادارې په ذريعه اداره شوې د ښځو او نارينه وو لپاره په بيلو مرکزونو کې ترسره شوې، ځکه چې اوسنې مسلط نورمونه د جنډر په برخه کې د ګډو مرکزونو ايجادول نه مني. په دې اړه، ښځينه رايه ورکوونکو ته دا اختيار هم ورکړل شوي و چې د رايې د ثبت د کارتونو په اخيستلو کې خپل تصويرونه ور نه کړي، ځکه ښايي دغه عمل ښځې په ډېرو محافظه کارو سيمو کې له رايې ورکونې څخه منع کړي.

جی ای ايم بی د رايې ورکوونکو لپاره په عمده ډول د روزنې پروګرامونه تطبيق کړل، چې د ملي او نړيوال غير حکومتي سازمانونو له خوا تقويه شول، لکه د ټاکنو د سيستمونو نړيواله موسسه او د افغانستان د مدني ټولنې مجتمع. له ټاکنو وروسته راپورنه څرګندوي چې د وخت د ليږوالي له امله د روزنې فعاليتونه په عمده ډول د رايې اچونې په پروسه متمرکز وو او د دې وخت نه و چې وښيي د هيواد انتخاباتي ارګانونه څنګه بايد خپلې دندې اجرا کړي. د همدغو عواملو له کبله دوي و نه شو کولای چې په ډېرو محافظه کارو يا ليرې پرتو سيمو کې د ښځو لپاره د روزنې کارونه ترسره کړي او نه يې د دې توان درلود چې په کافي شمېر ښځينه مدني روزونکي استخدام کړي. د ښځينه روزونکو شمېر د ۱۸۰۰ مجموعي شمېر څخه يوازې ۳۵ سلنه وې.

ملي ديموکراتيک انستيتيوت يوازينی سازمان و چې په ۲۰۰۵ کې د ښځينه کانديدانو په روزنه کې مصروف و. دې سازمان د خپلو کمپاينونو له لارې چې په کابل او سيمه ييزو مرکزونو کې د ښوونځيو په ودانيو کې تنظيم شوی و ښځو کانديدانو ته د ټاکنو د سيستم او دغه راز د کمپاين د مهارتونو او په عامه محضرونو کې د خبرو او تبليغاتو په اړه روزنه ورکړه. د دې موسسې راپور ښيي چې له ۲۰۰۰ څخه زياتو ښځو ته يې روزنه ورکړې ده او په دې موده کې يې د کمپاين نورو ګډون والو ته هم روزنه ورکړې ده. په دې برسيره د ښځو د حقونو لپاره د روقيه مرکز هم د ښځينه کانديدانو لپاره په ۱۴ ولايتونو کې سيمنارونه تنظيم کړل، چې تر نيمايي ليږ کانديدانو ته يې لاس رسي درلود.

لومړی جدول: په افغانستان کې له ۲۰۰۱ څخه وروسته په ملي کچه د ښځینه کاندیدانو نتیجې او د دوي شمېرې

| ټاکنې | ټولې رایې | د ښځینه رایه ورکوونکو سلنه | ټول نوماندان | ښځینه نوماندانې | ښځینه نوماندانې چې د بریالیتو لپاره یې بسیا رایې خوندي کړي وي |
|---|---|---|---|---|---|
| ولسمشریزې ۲۰۰۴ | میلیونه ۷.۳ | ۳۷ | ۱۸ | ۱ | -- |
| ولایتي ۲۰۰۵ شوراګانې | میلیونه ۶.۴ | ۴۱ | ۳۰۲۵ | ۲۴۷ | ۲۴ |
| پارلماني ۲۰۰۵ | میلیونه ۶.۴ | ۴۱ | ۲۷۷۵ | ۳۳۵ | ۱۹ |
| ولسمشریزې ۲۰۰۹ | میلیونه ۵.۹ | ۳۹ | ۳۹ | ۲ | -- |
| ولایتي ۲۰۰۹ شوراګانې | میلیونه ۵.۹ | ۳۹ | ۳۱۹۶ | ۳۲۸ | ۲۰ |
| پارلماني ۲۰۱۰ | میلیونه ۴.۲ | ۳۹ | ۲۵۷۷ | ۴۰۶ | ۱۸ |

سرچینی: "د لوست زده کړی د ښځو ګډون د افغانستان په ۱۳۸۹ کال د پارلماني ټولټاکنو په اړه " (کابل: د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون د جندر څانګه، ۲۰۱۰.) اټکل شوی فصیدی چی د ښځینه رآیه ورکونکو د کوچیانو د ښځو رایه ورکونکی په دی کې نه شاملیږی

د۲۰۰۵کال ټاکنې سره له دې چې په نسبي ډول کامیابې پېژندل شوي، له یو لړ خطاګانو او ګواښونو سره ملې وې، چې ډېر وي د ښځو په وضعیت په غیر متناسب ډول منفي اغیزې کړې دي. څرنګه چې رسمي احصاییه یا د رایې ورکوونکو لست نه و موجود، یوه لویه ستونزه دا وه چې ښځینه رایه ورکوونکې یا څوځله راجستر شوي او یا بل چا د دوي نوmonه ثبت کړي دي (حقیقي یا خیالي شمېر)، خصوصا په زیاتره محافظه کار جنوبي سیمو کې، چیرې چې د ټاکنو کارمندانو سړیو ته اجازه ورکړه چې د سلګونو ښځو په استازیتوب د دوي لپاره رایه ورکړي. د ښځو لپاره دغه امتیاز چې مجبورې نه وې چې د راجستر په کارتونو خپل تصویرونه وښیې، که څه هم د ځینو لپاره عادي خبره وه، هم په دې پروسه کې یو مهم عامل ګڼل کیږي. د ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ کلونو په ټاکنو کې دغه حالت و – د ښځو د رایو نتایج باید په احتیاط سره ولیدل شي ځکه د یوه مقدار مبالغې احتمال شته.

د راپورونو له مخې د ټاکنو تر ورځې پورې جی ای ایم بی یا د ټاکنو ګډې اداره د ټاکنو لپاره د ښځینه کارمندانو د ګمارلو په ترڅ کې له امنیتي، اجتماعي محدودیتونو سره مخامخ وه. دې حقیقت دا امکان را پیدا کړ چې د رایو اچولو په ځینو مرکزونو کې چې په ډېرو محافظه کاره سیمو کې و سړي ځای ونیسي او ښځې د رایې اچونې له حق څخه محرومې کړی ځکه هلته د جنسیت پر اساس د ګډون په اړه اجتماعي محدودیتونه موجود وو. د بې سواده رایه اچوونکو لپاره یوه بله ستونزه دا هم وه چې د رایې اچونې پاڼې ډیرې اوږدې او پیچلې (د کابل په ولایت کې دې پاڼو د کتاب شکل درلود) وي، دې مسالې بیا هم په غیر متناسب ډول بیا زیات شمېر ښځې اغیزمنې کړي– په ځانګړی ډول د دې لپاره چې د رایې په پاڼو باندې د کاندیدانو نښلول شوي تصویرونه ډېر ځله د پېژندلو نه و.

د نارینه کاندیدانو په پرتله د ښځینه هغو د ثبت شمېر هم په غیر متناسب ډول ډېر لیږ و. د دې خبرې یو عامل دا هم کیدای شي چې حکومتي کارکوونکي کاندیدانو باید په قانوني ډول د ټاکنو د مبارزې لپاره خپلې وظیفې پرې ایښې وای (دا شرط اوسهم په خپل ځای پاتې دی). څرنګه چې د مسلکي ښځو لپاره دولتي کارونه د کار یوه ډېره مهمه منبع ده، امکان لري چې ډېر شمېر ښځې له دې وجې له قطار څخه وتلې وې چې نه یې غوښتل د ټاکنو لپاره د کار او ژوند امکانات له لاسه ورکړي. د کمپاین په موده کې ښځینه نوماندانو راپورونه ورکړي دی چې د ټاکنو د طرز العمل په باب معلوماتو ته محدود لاس رسي لري، په ګرځیدو را ګرځیدو کې خصوصا له ښاري سیمو څخه بهر له ستونزو سره مخامخ دی. د نارینه کاندیدانو په پرتله یې مالي منابعو ته لاس رسي محدودو او د هغو په پرتله یې د زیات خطر احساس کاوه. دغه راز، دوی د دې تجربه هم وکړه چې په عام محضر کې د دوي له موجودیت سره یو ډول حساسیت او دښمني شته دغه روش ښایي په نورو ټاکنو کې هم تکرار شي، د دوي موجودیت د محافظه کاره ملایانو له خوا "غیر اسلامي" (په ډېرو محافظه کاره سیمو کې ښایي د مرګ له خطر سره مخامخ شي)، ډیرې یې د اوازو او بې بنیاده تبلیغاتو تر برید لاندې راغلي او یا یې تصویرونه پرې شوي دي.

## د ټاکنو ترمنځ موده

د ۲۰۰۵ کاله له ټاکنو وروسته یو شمېر نړیوالو سازمانونو په هیواد کې د منتخبو ارګانونو ښځینه غړو ته روزنه ورکړه او هغه یې تقویه کړلې. په دې سازمانونو کې دا لاندې سازمانونه شامل وو. د یونیفیم له خوا د ښځو د پارلماني منابعو مرکز، د این ډی آی، یونیفیم او نړیوالو حقونو د موسسې په مرسته په پارلمان کې د ښځو د شبکې ایجادول او له مدني ټولنې سره د هغوي اړیکې، د پارلمان او د ولایتي شوراګانو د ښځینه غړو لپاره د این ډي آی له خوا د پیژندنې غونډې (په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کې هم تکرار شوې)؛ او د ښځو د نړیوال کمپاین موسسې له خوا فعالیتونه چې له ۲۰۰۶– ۲۰۰۸ پورې یې د ولایتي شورا د ښځینه غړو او د ۲۰۱۰ کال له ټاکنو وروسته یې د پارلمان د غړو د ظرفیت په لوړولو کې ترسره کړي دي.




۱ انځور : د عامه پوهاوی لپاره د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۲۰۱۰ ولسی جرگی ټو لټاکنو پوسټر چې دا بیانوی چې د نارینو او ښځینه مرکزونه بیل دی. نوټ درېٖ ښځي چې د انځور په چپ خوا کې خپل انتخاباتی کارتونه بی له عکس څخه په خپلو لاسونو کې نیولی.

له دغو هڅو څخه وروسته له ټاکنو سره د دونرانو لیوالتیا په ډیرې تیزئ سره لیږ شوه. په دې ډول په هیواد کې د ټاکنو نوي کمیسیون و نه شو کولای چې په کافي اندازه وړتیا پیدا کړي او د راتلونکو ټاکنو لپاره تیاري ونیسي او نورې موسسې چې د دونرانو له خوا تمویلیږي لکه د افغانستان لپاره د ازادو او عادلانه ټاکنو بنیاد د خپل موجودیت لپاره هلې ځلې کوي. دغه راز، دې خبرې د اوږدې مودې د مدني روزنې او ظرفیت لوړونې فعالیتونه هم له ډیرو خنډونو سره مخامخ کړل. ډېر شمېر نړیوالو نادولتي موسسو لکه د افغان ښځو خدمتونه او تعلیمي سازمان یا د فریدریښ ایبرټ موسسه داسې پروگرامونه پر مخ بیول چې هدف یې په عام ډول د ښځو د حقونو او دیموکراتیکو ارزښتونو په اړه د پوهاوي لوړول و یا یې هغو ښځو ته روزنه ورکوله چې غوښتل یې په سیاسي ژوند کې برخه واخلي. که څه هم د دې فعالیتونو ډیرى ارزښتناکو و، خو داسې ژورې او پراخې د مدني روزنې هڅې نه وې چې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو د ټاکنو لپاره ضروري فعالیتونه بشپړ کړي. په یوه هیواد کې چې دیموکراسي ډیره نوې وه داسې هڅې و نه شوې چې د ښوونې د وزارت له خوا په ټولګیو کې د مدني روزنې کورسونه معرفي شي. دغه حقیقت په ټولنه کې د ځینو کسانو له خوا چې د دې ځېرنې په ترځ کې خبرې ورسره شوې دي، په حیرانتیا سره یاده شوی دي. رسمي سیاسي گوندونه د پوهنتونونو له انګړ څخه چې د حکومت له خوا داره کیدل، منع شوي وو.

## د ۲۰۰۹ ولسمشریزې او د ولایتي شوراګانو ټاکنې

که د هیواد د لومړئ دورې ټاکنې له لیږو برياوو سره ملې وې، د دویمی دورې دټاکنو تصویر د یوه ناورین شکل درلود (په ځانګړي ډول په نړیوالو رسنیو کې) په دې توصیف کې په یقینی ډول یو څه مبالغه شته، خاصتا که دا خبره وسنجوو چې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو ټاکنې څومره ناسمې وې. سره له دې، د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو د بې نظمیو په اړه انګیرنو د کرزي له حکومت څخه د عامې نارضایتي په زیاتولو کې مرسته کړې ده او د هیواد د منتخبو ادارو مشروعیت یې تر پوښتنې لاندې راوستي او په عموم ډول په دیموکراتیکه پروسه یې د خلکو باور کمزوری کړ.

د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو لپاره تیاري د مالي منابعو د ځنډ له امله له خنډونو سره مخامخ شوې. څرنګه چې د ټاکنو د کیدلو په اړه شکونه موجود و، نړیوالو ډونرانو له دې امله دوي ته د لګښتونو دورکولو فیصلې وځنډولې. د ډونرانو د ژمنو کنفرانس د ۲۰۰۹ تر جنوري پورې وځنډېده، د رایو ورکولو د ځایونو د تنظیم لپاره هڅې– د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا رهبري شوې افغان رسمي پروسه– هم تکنی شوې او د ټاکنو ورځ تر دریو میاشتو پورې شاته وغورځیده، یانې د مئ له میاشتې څخه د اګست تر میاشتې پورې وغځیده. د امنیتي وضعې له خرابیدو سره، طالبانو او نورو وسله والو ډلو په ټاکنو کې د ګډون په خلاف اخطارونه صادر کړل، نوماندان او د ټاکنو کارمندان یې خپل هدف وګرځول، هغوي یې وبېرول، او په ځینو قضیو کې یې په فیزیکي خشونت سره تهدید کړل. په رقابت کې ښکېل شامل برخه وال له هغو منابعو څخه خبر و چې تر پوښتنې لاندې وو، ټګي او فساد په سیستماتیک ډول پراختیا پیدا کړه، په ولسمشریزو ټاکنو کې ۱۸ سلنه د رایې پاڼې د وروستیو پایلو له اعلانولو مخکې له شمېر څخه غورځول شوې وې. د رایې ورکولو په وخت کې بې نظمي د ټاکنو په پروسې باندې د خلکو اعتماد کمزوري کړ او د ټاکنو د خپلواک کمیسیونمشروعیت یې هم بې اعتباره کړ. دغه کمیسیون په پراخ ډول په منصفانه یا غیر منصفانه ډول په درغلیو کې په ښکیلتیا باندې تورن شو. که څه هم د ښځو کاندیدانو شمېر چې د ولایتی شوراګانو لپاره رقابت ته راوتلې وې د ۲۰۰۵ په پرتله ۲۱ سلنه زیات شوې و، خو د ښځینه رایه ورکوونکو شمېر ۳۹ سلنه راټیټ شو (که څه هم د هغو درغلیو په پام کې نیولو سره چې مخکې یادې شوې، ګرانه ده چې د رایه ورکوونکو د شمېر ارزښت تعیین شي).

په ۲۰۰۹ کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د ګډې ادارې څخه د رایه ورکوونکو د روزنې نقش په خپله غاړه واخیست. له عامو خلکو سره د کار په ترځ کې دې کمیسیون ۱۶۰۰ تنه کارمندان استخدام کړل چې په ټول هیواد کې له ټولنو سره مخامخ د روزنې فعالیتونه سرته

ورسوي. دغه هڅې يا د مستقيمو روزنيزو غونډو شکل درلود چې په مسجدونو يا نورو عامو ځايونو کې ترسره شوې او يا يې په غير مستقيم ډول د روزونکو د روزنې د غونډو له لارې شوي دي. د کميسيون غړو چې په دې ځيرنه کې مرکې ورسره شوې دي، د داسې فعاليتونو يادونه هم کړې ده چې ملايانو او نورو مخورو کسانو ته يې د ښځو د رايه ورکولو له اهميت څخه قناعت ورکړی دی. دغه هڅې د راديو تلويزيون له اعلانونو او په لويو مرکزونو کې له پوسترونو سره ملې وې. خو لکه په تېرو ټاکنو کې د ټاکنو خپلواک کميسيون بيا هم د ښځينه کارمندانو په استخدام کې له ستونزو سره مخامخ و. په پای کې وتوانيد چې يوازې ۴۰۰ تنه داسې کارمندانې استخدام کړي. يو ځل بيا کميسيون خپلې هڅې په دې متمرکزې کړې چې د رايه اچونې ميکانيزم دوی ته وښيي، د دې په ځای چې په عموم ډول د سيستم څرنګوالی توضيح کړي.

ملګرو ملتونو هم هڅې وکړې چې دټاکنو د خپلواک کميسيون کوښښونه بشپړ کړي او په دې ترڅ کې يې محلي غير حکومتي سازمانونو ته مالي مرستې ورکړې چې دمدني روزنې پروګرامونه پرمخ يوسي، خو د مرستو ځنډيدل د دې سبب شو چې د دوی هڅې هم ډيرې وځنډيږي. د يوې محلي غير حکومتي موسسې هڅې يوازې تر دې پورې ورسيدې چې د تلويزيون د کمپنۍ مصرفونه ادا کړي. له ټاکنو څخه يوه مياشت دمخه د افغاني ښځو شبکې او ايفيس «د پنځو ميليونو ښځو کمپاين» تر سر ليک لاندې يو وروستي خو ډېر څرګند کمپاين پيل کړ چې د ښځو رايه ورکوونکو شمېر زيات کړي. په دې هڅو برسېره، د افغاني ښځو شبکې او نورو ملي غير حکومتي سازمانونو د يونيفيم په مرسته وکولای شو چې د راديو او تلويزيون له لارې هغه مباحثې ژوندۍ وساتي چې د ولسمشرۍ لپاره عمده کانديدانو د ښځو د بشري حقونو په مسالو خبرې کولې.

ملي ديموکراتيک انستيتوت يو ځل بيا د نوماندانو په روزنه کې خپل عمده نقش څرګند کړ او نږدې د ټولو ښځينه نوماندانو له ۶۲ سلنې سره يې همکاري وکړه. په دې برسېره، نړيوال جمهوري غوښتونکی انستيتوت يو لړ علمي کمپاينونه ترسره کړل چې يوه نامعلوم شمېر ښځو ګټه ترې پورته کړې ده. دې سازمان دغه راز، له يوه همکار سازمان، د افغان خويندو جنبش سره هم کار کړی دی، چې د ولايتي شوراګانو لپاره د ښځينه کانديدانو شبکه جوړه کړي چې په نتيجه کې يې ۲۷ تنه ښځې نوماندانې چې له دغه سازمان سره يې اړيکې درلودې، انتخاب شوې. دغه راز يونيفيم له هغو ښځينه نوماندانو سره له دې لارې مرسته کړې ده چې هغو ته يې د بزنس کارتونه او د ای فور اندازه پوسترونه وړيا چاپ کړي، او د ۲۴ ساعتو معلوماتي چينل يې خلاص ساتلی او په کابل کې د ښځو لپاره د منابعو مرکز پرانستي چې په سياسي ژوندکې فعالې وې. په ټاکنو کې د ښځو د ګډون په اړه د هڅو يقيني کول تر ډېره بريده ډيرې اغيزمنې وختلې. يونيفيم او د ټاکنو خپلواک کميسيون د جندر څانګې له ملي او نړيوال برخه والو سره د ټاکنو په دوران کې د همغږۍ غونډې تنظيم کړې

د دې ځيړنې لپاره څو تنو مهمو مرکه ورکوونکو چې په غير حکومتي موسسو يا نړيوالو موسسو کې په کار بوخت وو، دا حقيقت روښانه کړ، چې په ټاکنو کې د ښځو د ګډون او د مدني روزنې په هکله د وروستۍ شېبې هڅې په عموم ډول په دې تمامې شوې چې د دوی اغيزې تر ځارنې لاندې ونيسي، خاصتا په هغو قضيو کې چې همکار سازمانونه په کې شريک وو. دغه حقيقت د امنيتي لاملونو له کبله نور هم پسې سخت شو، ځکه په ډېرو سيمو کې د ځارنې او ارزونې کارونه نه شو کيدلای. خو بايد وويل شي چې نورو سازمانونو بيا داسې احساس کاوه، چې د ځارنې په کار کې يې ستونزې نه درلودې.

د ټاکنو په دوران کې د امنيت د نشتوالي او هم د منابعو او د اوږدې مودې د پلان د نه درلودلو له امله هغه ستونزې ببرته را پيدا شوې، چې ښځې د ۲۰۰۵ په ټاکنو کې ورسره مخامخ وې د ښځو په استازيتوب او د دوی لپاره د رايو اچونه او ثبتول بيا د يوې ستونزې په څېر راښکاره شوه او د ښځو د رايو کارتونه – لا تر اوسه هم تصوير نه لري – په عموم ډول د رايو په ډيرولو کې کارول شوي و چې د دې دورې د ټاکنو يوه ځانګړنه وه. د مدني روزنې لپاره د ښځينه کارمندانو د کافي شمېر پيدا کول يوه بله ستونزه وه، د راپوررونو له مخې نارينه وو د ښځو لپاره د رايه ورکولو په مرکزونو کې د کارمندانو يو پر څلورمه برخه جوړوله، په داسې حال کې چې ۶۵۰ مرکزونه (د ټولو له جملې څخه نږدې پنځه سلنه، په خاص ډول په نا امنه سيمو او محافظه کار ولايتونو لکه اروزګان کې) په بشپړ ډول تړلي پاتې شول.

په دې لړ کې يوه بله ستونزه د رايو اچونې په مرکزونو کې دا وه، چې د نوموړو مرکزونو په طرح او نقشه کې د جنسيت پر بنسټ حساسيتونه په پام کې نه و نيول شوي. په ځينو هغو کې د ښځو او سړيو لپاره يوه دروازه وه او په ځينو نورو کې بيا ښځې اړ وې چې د سړيو د رايې اچونې له مرکزونو څخه مخامخ تيرې شي چې رايه واچوي. داسې شکايتونه هم را رسيدلي دي چې ډير شمېر مرکزونه ليرې واټن کې پراته و او د ښځو لپاره هلته ورتګ، د هغو ټولنيزو بنديزونو په پام کې نيولو سره چې له کورونو څخه بهر د دوی په ګرځيدو راګرځيدو شته ګران و او د دوی اړتياوو ته په هغه وخت کې لير پاملرنه شوې وه، چې کله افغان او نړيوال ځواکونه د ځينو مرکزونو د تقويې لپاره په حرکت کې وو. د امنيتي لاملونو سره يو ځای د حکومت له اجرااتو څخه نارضايتي د دې سبب ګرځيدلی چې د ښځينه رايه ورکوونکو شمېر ډېر لير و، لکه څنګه چې د ټاکنو مشاهده کوونکو خصوصا له جنوبي او جنوب ختيځو برخو څخه راپور ورکړی.

ډارونې، په نښه شوي تهديدونه او د ناامنيو څخه عمومي ببره يو ځل بيا د داسې لويو ستونزو په څېر تاييد شوی دی چې د ولايتي شوراګانو نوماندان ورسره مخامخ وو؛ په خاص ډول په جنوب کې يوازې څو تنو ښځيو د کمپاين په وخت کې په عامو خلکو کې د امنيت احساس کاوه. د نورو ټاکنو په خلاف د ښځو د ساتنې لپاره د کورنيو چارو د وزارت له خوا ساتونکي ګمارل شوي وو، ځکه چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون د جندر د څانګې له خوا د دې غوښتنه شوې وه او د نړيوالو او ملي برخه والو له خوا يې ملاتړ وشو. که څه هم په عمل کې دغه غوښتنه په بشپړ ډول نه وه عملي شوې، او دغه راز د امريکايي ځواکونو له خوا د ښځو د رايې اچونې په مرکزونو کې د ښځو د تلاشي لپاره د ښځينه کارمندانو په استخدام کې پوره پاملرنه نه وه شوې. د ۲۰۰۵ د ټاکنو په خلاف نوماندانو اجازه نه درلوده چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ په ټاکنو کې له حکومتي ښوونځيو يا کلينيکونو څخه ظاهرا د امنيتي انديښنو له امله د کمپاين د ځايونو په څېر استفاده وکړي. دې حقيقت د ښځينه نوماندانو لپاره نوې ستونزې راپيدا کړې، ځکه چې نور ځايونه چې په نسبي ډول

ښځې هلته په خوندي توګه کمباین وکړي، خصوصا په محافظه کاره سیمو کې ډېر کم دی. دغې پریکړې چې رایې د رایې اچونې په انفرادي مرکزونو کې وشمېرل شي، نه په ولایتي مرکزونو کې، هم ښځینه نوماندانې د درغلیو له خطر سره مخامخ کړي، ځکه چې د دوي ډېرى د نارینه نوماندانو په پرتله د دې کم وس درلود چې د رایې اچونې د مرکزونو لپاره مشاهده کوونکي استخدام کړي. په پای کې، د رایې ګیرې وخت چې د روژې له میاشتې مخکې پیل شو، هم د ښځو په اوږو یو بار و (تر یوې اندازې پورې د رایه ورکوونکو لپاره هم) ځکه چې دوي اړ وې د کمپاین فعالیتونه له نورو هغو کورنیو مسوولیتونو سره په انډول کې راولي چې په دودیز ډول په دې موده کې د دوي په غاړه وي.

## د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنې

زیات شمېر هغه فعالیتونه چې پورته یاد شول د ۲۰۱۰ په ټاکنو کې هم تکرار شول. د لوژیستکي، مالي او امنیتی اندیښنو له امله، د ټاکنو خپلواک کمیسیون یو ځل بیا د ټاکنو وخت د مې له میاشتې څخه تر سپتمبر پورې وغځاوه. امنیتي وضعه په همدې ډول مخ په خرابیدوه وه او په جنوب او جنوب شرق کې د وضعې له خرابیدو سره یو ځای په شمالي ولایتونو لکه کندز کې هم نا امني زیاته شوه. دغه حقیقت د نا امني د هغو پیښو په شمېر کې ښکاریدلې چې د ټاکنو په ورځ بې راپورونه را رسیدلي، چې که څه هم په خپل ماهیت کې بې دومره اهمیت نه درلود، خو د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۵۶ سلنه زیاتې شوې دي. که چیرې افغان او نړیوال ځواکونو په خپل وخت او ښه توګه نه وای تنظیم کړي، کیدای شوای چې حالت تر دې هم نور خراب شوي وای. سره د دې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون څه هڅې کړي دي چې د درغلیو مخنیوي وشي، دغه ستونزه په ۲۰۱۰ کې هم په خپل قوت پاتې شوه او د ولسمشریزو ټاکنو په پرتله په دې ټاکنو کې ډېر شمېر رایې له اعتبار څخه ولویدې. خو باید وویل شي چې د تېرو کلونو په پرتله د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې د ښځو په استازیتوب او د دوي لپاره د نومونو د ثبتونې پیښې کمې وې.

د رایو اچوونکو د شمېر ریکارډ د ۲۰۰۹ کال په پرتله یو پر دریمه راولوید. د زیاتیدونکې نا امني او په نتیجه کې بې د رایو ورکولو لپاره د خونو په تعداد کې لیږوالی (په ۲۰۱۰ کې ۴۶۹۱ او په ۲۰۰۹ کې ۶۲۱۰ وې، یو په څلورمه برخه کموالی) او لکه څنګه چې د دې څېړنې لپاره ځینو مرکه ورکوونکو ویلی دي، خلکو د حکومت په اجرااتو باندې باور نه درلود او د ټاکنو په پروسه بې شکونه درلودل. سره د دې هم، د یادونې وړ ده چې د ښځو تناسب د مجموعي په پرتله په خپل حال پاتې شوی دی او د ښځینه نوماندانو شمېر ۳۳ سلنه زیات شوی (که څه هم د ټاکنو زیاته برخه د کابل ولایت په مربوطاتو کې وشوه چې په نسبي ډول له خطر څخه خوندي وو).

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون فعالیتونه بیا هم د ټاکنو په دوران کې نا وخته پیل شول او د ښځینه کارمندانو شمېر بې چې له ښځو سره کار وکړي بیا هم د ټولو کارمندانو د عمومي شمېر له نیمایي څخه کم و. د امنیتی اندیښنو له امله دغه هڅې یوازې د ولایتونو او ولسوالی په مرکزونو پورې محدودې پاتې شوې او تر زیاته برېده د راډیو او تلویزیون په خپرونو پورې تړلې وو. غیر حکومتي موسسو لکه د بی بی سی تعلیمي پروژې هم د مدني روزنې په پروسه کې ونډه درلوده، دغه راز د کونټر پارت/ایفیس له خوا په افغانستان کې د ټاکنو له پروسې سره د مرستې د پروژې له لارې همکاري کړې ده. دغه پروژه یو ښه مثال و چې په ښه ډول تمویل شوې وه او د یوه خپلواک مهال ویش په اساس بې کار کاوه.

له ښځینه نوماندانو سره د مرستو په لړ کې د ملي دیموکراتیک انستیتوت، نړیوال جمهوریت غوښتونکي انستیتوت او یونیفیم خپل د ۲۰۰۹ کال نقشونه بیا تازه کړل او د ښځو نړیوال کمپاین موسسې د روزونکو د روزنې پروګرام بې پر مخ بووت چې د پارلمان لپاره د ښځینه کاندیدانو د کمپاین په ستراتیژۍ بې زور اچولی و. دغه راز د ښځو چارو وزارت د افغاني ښځو د شبکې سره په هکاري کې ښځې د دې لپاره وهڅولې چې ځانونه راجستر کړي او تر ټاکنو د مخه بې د کابل په باغ زنانه کې د شبکې د جوړولو غونډې وکړې. یو وار بیا د جندر د مسالو د همغږي غونډې جوړې شوې. په دې ځل د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د جندرد ځانګې د نړیوالو شریکبانو د راغونډولو مسوولیت درلود.

د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې د ښځینه کاندیدانو او رایه ورکوونکو لپاره مستندو ګواښونو له هغو سره ډېر ورته والی درلود چې په ۲۰۰۹ کې لیدل شوی وو: عامو خلکو ته رسیدنه ډېر ناوخته وشوه چې په خاص ډول له ښځو رایه ورکوونکو سره مرسته وشي؛ د ښځینه کارمندانو شمېر چې د ټاکنو لپاره ګمارل شوې وې، کم و؛ د کمپاین موده بیا د روژنې په میاشت کې وه او د رایو شمېرنه په محلي کچه وشوه؛ د ښځو په ځای د رایو اچونې دوام درلود؛ او امنیتی ستونزې لا همغسې په ځای پاتې وې (په یوه بده پیښه کې چې په هغه کال کې د ټاکنو په وخت کې وشوه، د هرات د کاندیدې فوزیه ګیلاني په کمپاین کې پنځه تنه کار کوونکي اختطاف او بیا ووژل شول. د کورنیو چارو د وزارت هڅې چې ښځینه کاندیدانو ته ساتونکي ورکړي تر هغه د مخه کال کې بې نظمې وې او د رایې اچونې د مرکزونو لپاره د ښځو د تلاشي لپاره د ښځینه کارمندانو د ډېر شمېر استخدامول په بریالیتوب سره سرته و نه رسیدل.

په دې څېرکی کې په افغانستان کې په ټاکنو کې د ښځو د ګډون لپاره تاریخي، قانوني شرایط او پالیسي بیان شول او ورسره له ۲۰۰۱ څخه راهیسې د ټاکنو ځینې مهمې او عمومي ځانګړنې هم بیان شوې. د دې لیکنې په پاتې برخه کې هغه سندونه راغلي دي چې له مخې بې د ټاکنو په اړه د ښځینه نوماندانو او رایه ورکوونکو هغه شخصي انګیرنې او تجربې بیانې شوی دي چې دوی په مرکو کې ویلی دي.

# ۲. میتودولوژي او د څیړنې شرایط

## ۲،۱ د څیړنې میتود

د دې مطالعې لپاره څیړنه د ۲۰۱۱ له جولای څخه تر ډسمبر پورې په کابل، بلخ او بامیانو ولایتونو کې ترسره شوې. په دې برسیره، په کابل کې یوه امتحاني دوره هم ترسره شوې چې د مرکې تکنیکونه او پوښتنې روښانه شي. د ساحې کار له جولای څخه پیل شو او د ۲۰۱۱ د اکتوبر په لومړۍ اونۍ کې پای ته ورسید. د دې لپاره چې د ښځو د ګډون د امکان تر حده پورې یو بشپړ تصویر ولرو، د معلوماتو او ارقامو د راغونډولو پروسه په موازي ډول په دریو لیکو کې پرمخ تللې: د پارلمان او ولایتي شوراګانو لپاره له کامیابو او ناکامو ښځینه نوماندانو سره مرکې؛ د هر ولایت په ښاري او کلیوالي سیمو کې له ښځینه مرکه کوونکو سره مرکې؛ او د هر ولایت په مرکز کې له مهمو شریکانو سره اضافي مباحثې او خبرې اترې.

څرنګه چې څیړنه یو کیفي ماهیت لري،په لومړي سر کې په نیمه ساختاري خو په انفرادي لحاظ ډیرو ژورو او هر اړخیزو مرکو باندې زور اچوي؛ په هغو ټولنو کې چې څیړنه په کې ترسره شوې له دې سره ګروپي او مشخصې مباحثې هم شوې دي، څو د ټولنې په کچه انګیرنې او نظریات څرګند کړي او د دې کار په ترڅ کې د څیړنې د ټیم غړو غیر رسمي مطالعې او کتنې هم پای ته رسولې دي. د ټولنې د غړو او کاندیدانو سره په مرکو کې پوښتنې په دې نظریاتو او انګیرنو متمرکزې وې: د مرکه ورکوونکی شخص تجربې د ټاکنو په پروسې کې د ګډون پر مهال؛ د دې ګډون د اهمیت او ماهیت پېژره د دوی شخصي نظریات او درک؛ د ټولنې د درک په اړه د دوي شخصي نظریې؛ د ټاکنو په مسلسلو دورو کې د ښځو د ګډون په اړه او له نارینه وو سره د هغو د مقایسې په اړه د دوي نظریې؛ او په ټاکنو کې د ښځو ګډون د دوي په شخصي او د ټولنې په ژوند، د هغوي له نظره څه اغیزې درلودې.

په دې مشخصه څیړنه کې، د څیړنې ټیم په یوه کلیواله ټولنه کې له یوې کورنۍ سره پاتې شوی او په دې ډول یې زیات فرصت درلود چې په ټولنه کې له خلکو سره راشه درشه او رابطه ټینګه کړي. د ټیم غړو په بله طریقه د ټولنې غړو ته د دې وخت ورکړ چې له دوي سره تجربې شریکې کړي او له څوانانو سره یې د لوبو په کولو وخت تېر کړ، له نجونو سره یې د دوبیه درسونو کې مرسته کړې او ټولنې ته یې ددې فرصت ورکړ چې دټیم له غړو څخه پوښتنې وکړي.

د څیړنې په ټولو مرحو کې د اجتماعي علومو د څیړنې اخلاقي موازینو ته پاملرنه شوې، لکه په څیړنه کې د ټولو ګډون کوونکو په خپله خوښه اشتراک او د معلوماتو په رڼا کې د دوي د قناعت حاصلول، د پروژې او د هغې د هدفونو بشپړه توضیح، د ولایت، ولسوالي او ټولنې په کچه له مشرانو څخه اجازه اخیستل او هغوي ته معلومات ورکول څو د دوي په ساحه کې کار وکړي او د څیړنې په وخت کې کلتوري او د جنسیت پر بنسټ حساسیتونو ته پام کول. د پارلمان او ولایتي شوراګانو غړو چې ددې څیړنې لپاره ورسره مرکې شوې دي موافقه وکړه چې په دې لیکنه کې ددوي خپل اصلي نومونه رابنکاره شي ځکه دوي په ټولنو کې معروف کسان دي او ډیری یې په اسانۍ سره پیژندل کیدای شي. خو باید وویل شي چې د ناکامو نوماندانو نومونه اصلي نومونه نه دي څو د دوي راز وساتل شي. څیړنه د یوه ټیم له خوا وشوه چې تاجک او هزاره څیړونکي په کې شامل وو، دری تنه ښځې او دوه یې سړي وو.

### د ساحې انتخاب او د معیارونو نمونه

د څیړنې لپاره ولایتونه په ملګرو ملتونو کې د ښځو د دفتر له خوا لا پخوا غوره شوي وو. خو په هر ولایت کې دننه یوه ښاري او یوه کلیواله ټولنه انتخاب شوه څو هغه بیلا بیل قوتونه سره پرتله کړو چې په هره قضیه کې دخیل دي. ټولنې د بلخ او کابل ولایتونو کې تر ډیرې اندازې پورې د هغوي د سیاسي، کلتوري او اقتصادي– اجتماعي شرایطو پر بنیاد د پخوانیو څیړنو او هغو اړیکو او معلوماتو پر بنیاد غوره شوي وې چې د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد له دې سیمو څخه درلودل. دغه راز هڅه شوې وه چې په قومي لحاظ او اقتصادي جوړښت له مخې د بیلا بیلو ټولنو او دغه راز د هغو ټولنو ترمنځ موازنه برابره شي چې د پارلمان او ولایتي شورګانو لپاره د نوماند سره قوي اړیکې لري (بامیان: ښاري او کلیوالي؛ کابل: کلیوالي) او هغه چې نه یې لري (بلخ: ښاري او کلیوالي؛ کابل: ښاري). دغه راز امنیتی اندیښنې هم دساحې په انتخاب کې یو مهم فکتور و.

څیړنې ۷۹ انفرادي او ۱۲ ګروپي مباحثې رانغاړلي دي چې په مجموعي ډول ۱۴۳ تنه انفرادي کسان په کې شامل وو (لومړۍ ضمیمه وګورئ چې مرکه ورکوونکي د نفوس پیژندنې په لحاظ ویشي). په دې ډله کې ۲۵ تنه پارلماني او د ولایتي شوراګانو نوماندان شامل وو چې ۱۵ تنه یې کامیاب او لس تنه نور یې ناکام پاتې شول. د ټولنې په کچه په مرکه ورکوونکو کې د څواک خاوندان، مذهبي مشران او عادي رایه ورکوونکي شامل وو. هڅې شوي دي چې له سړو او ښځو سره په مساوي شمېر کې مرکې ترسره شي ترڅو په ټاکنو کې د ښځو د ګډون په اړه د مختلفو جنسونو نظریات سره مقایسه شي. په هره یوه ټولنه کې، مرکه ورکوونکي په دې ډول په ګوته شوي او غوره شوي چې د ټولنې له غړو سره مباحثې او له دوي سره په تصادفي ډول مراوده سره یو ځای شوي دي. د مهمو شریکانو په اړه، دټاکنو د خپلواک کمیسیون، د ښځو د چارو وزارت او د ملګرو ملتونو په مرکزي او ولایتي دفترونو کې له کارمندانو سره او دغه راز له محلي او نړیوالو نادولتي موسسو سره چې د دیموکراسي د رایجولو او مدني روزنې په برخو کې کار کوي، هم مرکې شوي دي.

گواښونه او شرطونه

د دې څېړنې په ترڅ کې له لاندنيو گواښونو او محدوديتونو سره مخامخ شوی يو:

- د وخت محدوديتونه: د دې څېړنې لپاره يو ډېر لنډوخت په اختيار کې و. دغه حقيقت چې د ارقامو او معلوماتو لويه برخه بايد د روژې په مياشت کې راغونډ شوي وای د څېړنې د ټيم لپاره ډېر مهم لوژيستکي گواښونه برابرکړي وو؛ په دې وخت کې مرکه ورکوونکي ډېر ځله ستړي ستومانه وو او يا يې نه غوښتل چې خبرې وکړي او په ځينو حالاتو کې مرکه بايد تر وخت د مخه بنده شوې وای. بل حقيقت چې د پارلمان له غړو سره مرکې د يوه سياسي بحران په منځ کې وشوې. هم د ځينو مرکو په کيفيت او اوږدوالي باندې اغيزه درلوده او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د بلخ ولايت د ولايتي دفتر په قضيه کې له مرکې کولو څخه ممانعت وشو. څرنگه چې ځينې نوماندان بريالي و نه ختل او له کابل ښار څخه بهر يې لير وخت په اختيار کې درلود مانا يې دا وه هغو کانديدانو ته لاس رسي ممکن نه و چې په بلخ او باميانو کې يې بايللي وه خو له دوي سره کتل لا پخوا پلان شوي و. په دې برخه کې له ناکامو نوماندانو سره مرکې کول يو گواښ و، ځکه ځينې يې له تماس نيولو وروسته هم حاضرې نه وې چې مرکې وکړي او يا په دې برخه کې زړه نا زړه وې، د دې نتيجه دا شوه چې په باميانو کې يوازې له کامياب کانديدانو سره مرکې کول ممکن و.
- نا موزون ارقام: څرنگه چې پښتانه څېړونکي نه و موجود او له بلې خوا د وخت کمبودي او امنيتي انديښنې هم وسره وې په هغو سيمو کې چې ډېری ميشت خلک يې پښتانه وو، د ټولنې په کچه څېړنه و نه شوه. په دې ډول په ارقامو او معلوماتو کې يوه لويه تشه ده چې د راتلونکو څېړنو لپاره يوه مهمه خبره ده. (که څه هم بايد وويل شي چې د ټولنې په يوه گډه څېړنه کې پښتانه هم چې څو تنه يې کانديدان هم وو په مرکو کې برخه اخيستې ده). څرنگه چې د کتل شويو ټولنو شمېر محدود و، نو ځکه ممکنه نه وه چې د ښاري او کليوالو هغو ټولنو ترمنځ مقايسه وشي چې په هر ولايت کې يې له يوه کانديد سره اړيکې درلودې يا يې نه درلودې. د دې مانا دا هم وه چې که څه هم په ځينو قضيو کې د ښځينه نوماندانو وصيتونه موجود و او د دوي د خپلو ټولنو له مالوماتو سره يو ځای يې د دوي د کمپاين يو درې اړخيز تصوير وړاندې کاوه، په ډېرو نورو قضيو کې په خپله د کانديدانو له خوا کره او موثقه بيانيو د تحليل لپاره يو بنياد جوړ کړی و.

## ۲،۲ د ټولنې او ولايتي شرايط

د بلخ ولايت

د بلخ ولايت د افغانستان د شمال سياسي او اقتصادي مرکز دی، د شمال او جنوب د لوی لارې او د امو سند له لارې ازبکستان ته په لويه لار پروت دی. د دې ولايت زياتره اوسيدونکي تاجکان او پښتانه دي چې ورپسې ازبکان، هزاره گان او کم شمېر ترکمنان عربان او بلوچ دي. په تيرو لسو کلونو کې دغه ولايت په نسبي ډول ارام و او مرکز، د مزار شريف ښار چټکه اقتصادي وده کړې. د دې ودې لوی دليل د دې ولايت د ځواکمن والي استاد عطا محمد نور هڅې وې. والی عطا چې د شمالي ټلوالې او د جمعيت اسلامي سياسي گوند سره تړاو لري او د ازبکانو د جنبش ملي او هزاره گانو حزب وحدت سره اړيکې لري، په اقتصادي او سياسي منابعو په ولايت کې پوره انحصار لگولی دی. په دې لار کې ده د کليو د وفاداره مشرانو، ولسوالانو، قومي مشرانو، قوماندانانو او منتخبو استازو د شبکې په ذريعه کار کړی دی چې دوی هم په خپل وار د خپل مؤفقيت لپاره په ده تکيه کوي.

په ځينو لحاظونو دغه روش ډېر ښه کار ور کړ او يو ترلې سيستم يې ايجاد کړ چې د بهرنيو مداخلې يې تر ډېره کمې کړي او قومي اختلافات يې هم کړي دي. خو سره د دې د ولايت ډېری اوسيدونکو له فساد او هغې نا برابري څخه شکايت وکړ چې د هغې په پايله کې رامنځ ته شوي. د اريو له دغې او نورو څېړنو سره ډېری مرکه ورکوونکو احساس کاوه چې د راپې له حق څخه محروم کړای شوی وو او ويل يې چې يوازې څو تنو د ډېرو ارزښتناکو ساختماني قراردادونو له لارې ډېر شتمن شوی او اکثريت نور چې له والي يا د ده له تنې کړی سره اړيکی نه لري هير شوی او په گوښه کې پاتې شوی دي. د نا برابري دغه احساس په هغه حقيقت کې منعکس دی چې د ښاري مرکزونو له پرمختگ سره بيا هم د بلخ ولايت په ټول هيواد کې د نيستي او فقر لوړه اندازه ساتلې ده. د دې شواهد هم شته چې د حکومت ضد عناصرو د چمتال او چهاربولک په ولسواليو کې، چې لا پخوا دولتي ضد مرکزونه وو، زيات نفوذ کړی دی. سره له دې خطرناکو تمايلاتو، دغه ولايت لير تر لير د يوې لنډې مودې لپاره د نور هيواد په پرتله په نسبي ډول با ثباته پاتې شوي. لکه تر څېړنې لاندې په نورو ولايتونو کې د ۲۰۰۵ کال د پارلماني او ولايتي شوراگانو له ټاکنو څخه وروسته د رايه ورکوونکو شمېر ډېر کم شوی دی. خو د ښځينه رايه ورکوونکو شمېر تقريبا د ۴۰ سلنې په شا و خوا کې ثابت پاتې شوي.

ښاري ساحه: د دهدادي ولسوالي

دهدادي د مزار شريف د ښار په څنډه کې يوه هوسا سيمه ده چې نفوس يې نږدې ۶۴۵۰۰ تنو ته رسيږي. په دې سيمه کې د حکومت له خوا د تعليم او روغتيا په برخه کې ښه کار شوی دی او ښار ته د يوه ښه پاخه سرک په لرلو سره اسان لاس رسي لري. په دې سيمه کې دغه راز د افغان ملي اردو يو لوی بېس هم شته. ډېری اوسيدونکي يې لوستي دي، زياتره يې په حکومتي دفترونو کې يا په نږدې د کيمياوي سرې په فابريکه کې کارونه کوي چې د شوروي اتحاد له خوا جوړه شوې وه. ځينې يې له تنخواگانو او هم له هغو عايداتو څخه ژوند کوي چې د ښو شخصي کرنيزو ځمکو څخه لاس ته ورځي. په قومي لحاظ دغه سيمه ارامه او موزونه ده، زياتره تاجکان او عرب اوسي خو يو شمېر هزاره گان او پښتانه هم هلته استوگنه لري. د دې جمعيت بيلا بيلې برخې جلا قريه داران (د ټولنې استازي چې په نيمه رسمی ډول د دې صلاحيت لري چې د خلکو او حکومت ترمنځ منځگړيتوب وکړي)، چې ډېری يې په قومي لحاظ له سياسي گوندونو لکه جمعيت اسلامي يا حزب وحدت سره تړاو لري. د استازو دغه ډله په مياشت کې يو ځل د ولسوالي په دفتر کې سره گوري او په محلي مهمو مسالو بحث او خبرې کوي. سره له دې هم، په سيمه کې د بيلا بيلو قومونو ترمنځ اړيکې کمزوري دي او داسې احساسيدله چې دغه گروپونه ځواک او

## دوهم جدول: ولایتی ارقام

| والي | د ولسي جرګې څوکۍ | | د ولایتی شورا څوکۍ | | اټکلي نفوس | ولایت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | تخصیص شوي | ټولټال | تخصیص شوي | ټولټال | | |
| محمد عطا نور | ۵ | ۱۹ | ۳ | ۱۱ | میلیون ۱.۲ | بلخ |
| حبیبه سرابی | ۳ | ۹ | ۱ | ۴ | ۴۱۸۰۰۰ | بامیان |
| – | ۸ | ۲۹ | ۹ | ۳۳ | میلیون ۳.۸ | کابل |

د نفوس احصائیه له " د احصائیې مرکزي اداره نفوس تاریخ ۱۳۹۰ (۱۲-۲۰۱۱)" (کابل : د احصائیې مرکزي اداره ، ۱۳۸۹)، http://www.afghaneic.org/ Data/CSO%20Population%20Data/Afghanistan%20CSO%20population%20data%201390%20(2011%20-12).pdf (دلاسرسی نیټه ۲۰ دسامبر ۲۰۱۱)

## دریم جدول: په ټاکنو کې د ولایت او ولسوالیو د برخې اخیستنې اندازه

| ولایت / ولسوالی | د ښځینه فیصدي | | | د نارینه فیصدي | | | فیصدي اندازه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۲۰۱۰ (WJ) | ۲۰۰۹ (PC) | ۲۰۰۵ (WJ/ PC) | | ۲۰۰۹ (PC) | ۲۰۰۵ (WJ/ PC) | ۲۰۱۰ (WJ) | ۲۰۰۹ (PC) | ۲۰۰۵ (WJ/ PC) |
| بلخ | ۴۱ | د جنډر پر بنسټ جلا معلومات او ارقام موجود نه و | ۴۰.۳ | ۵۹ | د جنډر پر بنسټ جلا معلومات او ارقام موجود نه و | ۵۹.۷ | ۴۴ | ۴۱ | ۵۱ |
| دهدادي | ۴۲.۲ | | – | ۵۷.۸ | | – | ۴۵ | – | – |
| شورتپه | ۳۶.۵ | | – | ۶۳.۷ | | – | ۵۳ | – | – |
| بامیان | ۴۸.۷ | | ۴۵.۵ | ۵۱.۳ | | ۵۴.۵ | ۶۲ | ۶۱ | ۷۱ |
| د بامیانو ولسوالي | ۵۲.۴ | | – | ۴۷.۶ | | – | ۵۲ | – | – |
| یکاولنګ | ۴۹.۸ | | – | ۵۰.۲ | | – | ۶۴ | – | – |
| کابل | ۳۳ | | ۲۹.۲ | ۶۷ | | ۷۰.۸ | ۲۵ | ۳۲ | ۳۳ |
| د کابل ښار | ۳۳.۷ | | – | ۶۶.۳ | | – | ۲۴ | – | – |
| ګلدره | ۳۹ | | – | ۶۱ | | – | ۱۸ | – | – |

یادونه د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون د افغانستان د ولسمشر ټولټاکنی او د ولایتي شورا ګانې په ۲۰۰۹ کال کې د جنډر په اساس نه دی بلی کړی، او دا معلومات تنها د ولسوالی په ابتدای کچه په عمومی ټولګه د ۲۰۱۰ ټولټاکنو لاس ته راغلی. سرچینی . ملی دیموکراتیک انستیوت< افغانستان د ټاکنو معلوماتی اډه http://2010.afghanistanelectiondata.org/ ( د لاسرسی نیټه ۴ دسمبر ۲۰۱۱)؛ د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته – ۲۰۰۹ ، ولسمشری او ولایتی شوراګانې ټولټاکنی : افغانستان ۲۰۰۹ ټولټاکنی" http://www.iec.org.af/results_2009/Index.html ( د لاسرسی نیټه ۴ دسمبر ۲۰۱۱) ۲۰۰۵ – د ټاکنو د تنظیم ګډ کمیسیون ۲۰۰۵ افغانستان، ولسی جرګه او د ولایتی شوراګانو ټاکنی ۲۰۰۵ افغانستان " .http://d8680609.u106. forthost.com/home.asp?Language=E ( د سرلاسی نیټه ۴ دسمبر ۲۰۱۱)

## څلورم جدول: د لیک لوست زده کړه، د ولایت په اساس د ښځو د تعلیم او نیستي اندازه

| ولایت | دلوستو د عمر اندازه مجموعه | د ښځینه لوستو د عمر اندازه | د ښوونځي د شاملیدو د عمر اندازه | د نجونو او هلکانو د ښوونځیو د شاملیدو تناسب | د نېستی اندازه |
|---|---|---|---|---|---|
| بلخ | ۲۶.۸ | ۱۶.۸ | ۵۳.۵ | ۰.۸۶ | ۶۰.۳ |
| بامیان | ۲۰.۲ | ۶.۱ | ۵۷.۹ | ۰.۸۵ | ۵۵.۷ |
| کابل | ۴۶.۸ | ۳۰.۲ | ۶۵.۲ | ۰.۷۹ | ۲۳.۱ |
| ملي اوسط | ۲۵ | ۱۱.۴ | ۴۶.۳ | ۰.۶۹ | ۳۵.۸ |

که چیری مختلف دریځ وی، د بیوزلی په اړه معلومات، د سواد اندازه او ټولنیز – اقتصاد په دی فصل کی تشریح شوی دی "د ولایتونو په اړه لنډ معلومات" (کابل : د افغانستان حکومت او نړیوال بانک، ۲۰۱۱).

او منابعو ته د لاس رسي لپاره او د سياسي نفوذ د پيدا كولو په مقصد له يو بل سره په رقابت كې وو. په دې ټولنه كې د ښځو څو شوراګانې هم شته چې تر يوې اندازې په هغو مسالو باندې د خپلواكو پريكړو كولو اختيار لري چې په ښځو پورې يې تړلې ګڼې.

سره له دې چې دغه سيمه په اقتصادي لحاظ په نسبي ډول هوسا او اباده سيمه ده، خو له حكومت څخه د نارضايتي كچه يې لوړ ده. ډيرى احساس كوي چې حكومت يوازې د يوې كوچنۍ اشرافي ډلې د ګټو لپاره كار كوي، چې موجوديت يې مزار ته د ښار په لوري د لويو او رنګينو ماڼيو په ذريعه احساسيږي. د دولت په وړاندې دغه ګډ احساس د نارضايتي او پلويتوب په هغه وخت كې هم راڅرګند شو چې كله مركه وركوونكو د ټاكنو په اړه خبرې او بحثونه كول. په دې ولسوالي كې د رايو وركوونكو شمېر (چې ۵۸ سلنه يې نارينه او ۴۲ سلنه يې ښځينه رايه وركوونكې وې) د ۲۰۱۰ كال په پارلماني ټاكنو كې ۴۵ سلنه وه. كه څه هم ډيرى مركه وركوونكو وويل چې د كمپاين په غونډو كې يې فعاله برخه اخيستې وه، خو دوي په دې ډير ناراضه و چې استازو په خپلو ژمنو وفا و نه كړه او فساد دومره خپور شوى و چې د ټاكنو پروسه يې په هره برخه كې بدنامه كړې وه. همدا ډول تر يوې اندازې قومي جلاوالي هم ددې سبب شوى چې دغه جمعيت و نه توانيده چې د يوه انفرادي كانديد تر شا ودريږي او پارلمان ته خپل استازى واستوي. كه څه هم په تيوريكي لحاظ په ولايتي شورا كې د محبوبې سعادت د دوي استازې وه (دريمه برخه وګورئ)، مركه وركوونكي په دې ډاډه نه وو چې دې په ټولنه كې څومره مهم نقش درلود او ځينو يې دا په دې تورنه كړې وه چې يوازې د خپل قوم سيدانو لپاره كار كوي.

كليوالي ساحه: شورتپه

د شورتپه په ټولنه كې نږدې ۲۰۰ كورنۍ ژوند كوي او د آمو سيند په يوه حاصلخيزه څنډه كې موقعيت لري چې له هغه سيند څخه اوبه كيږي او د پنبې او نورو غلجاتو كښت په كې كيږي. په دې ټولنه كې نږدې ټول اوسيدونكي تركمنان دي چې درى يې دويمه ژبه ده (په ځينو حالاتو كې). مركه وركوونكو څرګنده كړه چې د دې ځاى د اوسيدونكو قومي احساس څنګه د دوي ترمنځ ټولنيز يووالي ټينګ كړى دى. كه څه هم بندري معرف ښار، حيرتانو ته نږدې اوسي، خو دوى احساس كوي چې له خپل ځانه پوره يو واحد دى او تر ډيرې اندازې له هغو جريانونو څخه ګوښه دي چې په نور ولايت يې اثر غورځولى دى. د طالبانو په وخت كې په دې سيمه كې ډيرې جګړې شوي دى او ډيرى اوسيدونكي يې په مزار، كابل او باندنيو هيوادونو كې د پنا په لټه كې وو. ټولنې اوس هغو پروګرامونو ته لاس رسي درلود چې د غير حكومتي موسسو له خوا د روزنې او كرنيزې پراختيا په برخو كې تنظيم شوي وو او د ملي پيوستون يوه فعاله شورا موجوده وه چې نارينه يې غړي وو. دغه راز د انرژي د تهيې او د اوبو يوه باوري او با ثباته منبع يعنې د آمو سيند موجود دى يو لومړني ښوونځى چې نجونې او هلكان په كې ګډې زده كړې كوي هم ۴۰ دقيقې لرې پروت دى، او په عمده ډول په تركمني ژبه درس وركوي؛ د كلي اوسيدونكي د ليسو او روغتيايي كلينيک لپاره بايد د حيرتان تر ښار پورې اوږده لار ووهي.

په عمومي ډول دغه ټولنه تعليم ته په لومړيتوب نه ګوري، ځكه چې په كرنيزو څمكو كې كارونو ته ډيره اړتيا شته او ماشومان په نسبي ډول په كم عمر كې په كارونو اخته شي. په خاص ډول ښځې چې د توليدوونكي سرمايې په ډول ليدل كيږى ځكه د غالیو د اوبدلو په كسب كې مهارت لري او په نتيجه كې د دوي د ودولو بيه ډيره لوړه تماميږي. له دې سره يو ځاى، د جنسيت پر بنسټ مسلط معيارونه و چې د ښځو موقف يې ټيټ كړى دى، دوي خپل زيات وخت له كور څخه بهر تېروي او په عمومي ډول د ښځو او نارينه وو يو ځاى كيدل منع دي. د ملي پيوستون د پروګرام په دننه كې د ښځو شورا شته، كه څه هم دغه شورا د پريكړو كولو لپر ځواک او پانګې او منابعو ته محدود لاس رسي لري. سره له دې، په دې شورا كې غړيتوب او ګډون د ښځو ترمنځ يو احساس را پيدا كړى دى چې دوي بايد د نارينه وو په پرتله دټولنې په چارو كې فعاله برخه واخلي.

په دې سيمه كې د ښځو ټيټ موقف د ۲۰۱۰ كال په پارلماني ټاكنو كې د شورتپه په ولسوالي كې د ښځو د لږ شمېر ګډون كوونكو له اندازې څخه معلوميږي. په دې ټاكنو كې د ټولو رايو له شمېر څخه ۳۴ سلنه د ښځو هغې وې (په عموم ډول د رايو شمېر ۵۴ ٪). له دې پخوا، دې ټولنې په پارلمان كې د استازې، روز ګلدي سره چې يو تركمن دى نږدې اړيكه ټينګه كړې وه. سره له دې هم، روز ګلدي د ۲۰۱۰ په ټاكنو كې ناكام پاتې شو، خو په ټولنه كې د ده په پلوي ډيرې زياتې مشورې شوې وې چې په متحد ډول د ده تر شا ودريږي.

د باميانو ولايت

د باميانو ولايت د افغانستان په مركزي لوړو برخو كې پروت دى، يو غرني ولايت دى چې اقتصاد يې په عمده ډول كرنيز محصولات دي، او د ځارويو روزل او د الوګانو كښت په كې زيات كيږي. د نفوس ډيرى يې شيعه مذهبه هزاره ګان دي، په لږ تعداد تاجكان او پښتانه هم په كې اوسي. په تاريخي لحاظ مركزي لوړې سطحې د هيواد له اقتصادي او سياسي مركزونو څخه ګوښه پاتې شوى او د لیرې پرتې سيمې **backwater** حيثيت يې درلود. د نولسمې پيړۍ تر پايه پورې دغه سيمه خپلواكه پاتې شوې وه، خو امير عبد الرحمن خان دغه سيمه تر خپل واک لاندې راوسته او خپل نظامي عمليات يې په دې ذريعه تقويه كړي وو چې په هزاره ګانو يې د كافرانو تور لګولى و. له افغان دولت سره د يو ځاى كولو وروسته، هزاره ګان د يوه ګروپ په څير تر ډيرې اندازې دقومي تعصب ښكار ګرځيدلي او د ۲۰ پيړۍ په زياته موده كې په اقتصادي لحاظ په ګوښه كې پاتې شوى دي. كه څه هم د مجاهدينو د دوران او د داخلي جګړو له سختو مصيبتونو څخه تر زياته بريده خوندي پاتې شوي دي، خو په ۱۹۹۸ كې د طالبانو د ولكې په موده كې هزاره ګان د سيستماتک او پراخ تيري ښكار ګرځيدلي دي. دوي هم د شيعه مذهبه خلكو په څير او هم د طالبانو په وړاندې د مقاومت د منبع په څير تر بريد لاندې وو او په ټوليز ډول جمعيتونه ګاونډيو ولايتونو يا ايران او پاكستان ته كډه شول چې د طالبانو له راپرځيدو وروسته په ۲۰۰۱ كې بېرته راستانه شول.

د مرکه ورکوونکو ترمنځ یو قوي احساس ښکاره شو چې د هیواد نوي دیموکراتیک رژیم چې د لویدیځ له خوا تقویه کیږي زیات شمېر فرصتونه برابر کړي چې د نورو قومونو په پرتله د دوي اقتصادي او سیاسي دریځ بهتره شي، چې دغه فرصتونه په عمده ډول د ښوونې د وضعې د ښه کولو لپاره په قوي ژمنو کې لیدل کیږي. دغه وضعه له ښځو سره په تړاو کې د ټولنیزو نورمونو په پراخولو سره یو ځای شوي چې د ښوونکو او مسلکي کارمندانو په حیث د ښځو رول د ټولنې په هوساینې کې زیات ارزښت پیدا کړي. د بامیانو والي په ټول هیواد یوازینۍ ښځینه والۍ ده، چې حبیبه سرابي نومیږي. د طالبانو په وړاندې د اوږدې مودې مقاومت او دښمني د دې سبب ګرځېدلې چې بامیان په تېره لسیزه کې یو تر ټولو خوندي ولایت پاتې شوی دی. سره له دې هم یو داسې قوي احساس لیدل کیږي چې بامیان د هغو پرمختیاي چارو څخه ګوښه پاتې شوی چې په نور هیواد کې ترسره کیږي. څرنګه چې د مرستو اندازه په نا کراره سیمو کې زیاتې لګیدلې ده، د بامیانو ولایت په مقایسوي ډول د لویو پروژو له پانګوالی څخه محروم پاتې شوی، په داسې حال کې چې د شورشیانو فعالیتونه د ګاونډي پروان ولایت د غوربند په دره کې- چې د ۲۰۱۱ په جون کې د بامیانو ولایت د ولایتی شورا مشر وواژه- او ولایت ته په نورو لارو کې زیات شول او ولایت یې بیا له کابل څخه ګوښه کړ.

په سیاسی لحاظ، دغه ولایت د شیعه حزب وحدت ګوند لپاره یوه اساسي پایګا ګڼل کیده، خو د دې ګوند او د مجاهدینو د نورو ګوندونو د بې اعتمادي له کبله چې و یې نه شو کولای دغه ولایت د طالبانو له ننوتو څخه وژغوري، له ۲۰۰۱ وروسته دې ولایت دغه مشروعیت له لاسه ورکړ. که څه هم مرکه ورکوونکو وویل چې زیات شمېر هزاره ګان لا اوس هم د وحدت ل ګوند سره د یو والي احساس کوي، د دې ګوند بې اعتباري او ناکامي چې خپل فعالیتونه په ولایت کې انسجام او همغږي کړي، د دې سبب شوه، چې سیاست دلته په عمده ډول دقومي او محلي ډلو له خوا تنظیم کیږي. په بامیانو ولایت کې په ټاکنو کې په فیصدي لحاظ د زیات شمېر ګډون کوونکو برخه اخیستنه چې د هیواد په تاریخ کې تر ټولو لویه ونډه وه، په ځانګړي ډول د ښځو هغه، دا په ډاګه کوي چې هزاره ګان په عمومي ډول د هیواد اوسنی دیموکرتیک سیاست قوم ته د سیاسي ځواک د ورکولو د یوې وسیلې په سترګه ګوري او هم د ولایت نسبي ثبات منعکس کوي.

ښاري ساحه: د بامیانو ولسوالي

د بامیانو د ولسوالي ټولنه له نږدې ۲۰۰ کورنیو څخه جوړه ده او د بامیانو له مرکز د بامیانو له ښار څخه د څلوېښتو دقیقو په واټن سفر کې لیرې پرته ده. په نسبي ډول یوه شتمنه سیمه ده، چې د اوبو ډېرې سرچینې لري او د عایداتو عمده سرچینې یې د الوګانو کښت او نورې غلې دي. دغه سیمه حکومتي خدمتونو او د غیر حکومتي سازمانونو له خوا تهیه شویو خدمتونو ته ښه لاس رسي لري، لکه کریدیټ او د سپما خدمتونه، زراعتي پرمختیاي او مسلکي روزنې، او دغه راز د ښځو او نارینه فعاله شوراګانې چې د ملي پیوستون د پروګرام په دننه کې فعالیت کوي. دغه ټولنه د قوم په لحاظ هم شکلّه ده، چې هزراه ګان په کې اوسي او زیاتره یې د تولی رضا له قوم څخه دي؛ که څه هم د طالبانو په دوران کې زیات خلک په داخل کې بې ځایه شول، زیات شمېر کورنۍ په دې سیمه کې د لسیزو راهیسې اوسیدلې دي او په وروستیو وختونو کې د مهاجرت کمې پیښې لیدل شوي. د دې په نتیجه کې په ټولنه کې دننه د عمده سیاسي ویش امکانات کم لیدل کیږي.

په ۲۰۰۱ کې د طالبانو له سقوط څخه وروسته، دې ټولنې یوه شورا جوړه کړه چې د محلي چارو په اړه سلا مشورې ورکړي او پریکړې صادرې کړي. شورا د راپورونو له مخې یو مشر لري چې انتخاب شوی وي او د کورنیو له اکثریت څخه استازیتوب کوي او په دې ډول شورا په ټولنه کې یوه مهمه قوه ده. د مثال په ډول، مرکه ورکوونکو توضیح کړه، چې شورا له جوړېدو څخه وروسته څنګه فیصله وکړه چې ټول محلي سیاسي ګوندونه خلع سلاح کړي او په سیمه کې یې د دوي فعالیت منع کړ. ډېرو مرکه ورکوونکو وویل چې ټولنه اوس د ګوندونو له نفوذ څخه خلاصه ده، ځکه ډېرو خلکو فکر کاوه چې دغه ګوندونه په دې کې ناکام پاتې شول چې سیمه د طالبانو له نفوذ څخه وژغوري (که څه هم ځینې یې په دې باور دي چې حزب وحدت لااوس هم په دې سیمه کې تر یوې اندازې له نفوذ څخه برخمن دی). د راپورونو له مخې ، شورا په دې اړه چې کوم کاندیدان د ټاکنو په وخت کې د ملاتړ وړ دي د معلوماتو په خپرولو او فیصلې کولو کې عمده نقش درلود. دغه ټولنه په ولایتی شورا کې دوه تنه استازي لري: یو تن یې سړی دی چې اوس د مشرانو په جرګه کې غړیتوب لري او بله یې عاقله حسیني ده (دویمه برخه وګورئ).

امنیتي وضعه په سیمه کې په عمومي ډول ښه ده او مرکه ورکوونکو راپور وکړی چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو د پارلماني او ولایتي شوراګانو لپاره د ټاکنې په کمپاین کې یو شمېر نوماندانو له سیمې څخه لیدنه کړې ده څو د ځان لپاره ملاتړ پیدا کړي. د پام وړ خبره وه چې د ټاکنو په ورځ د درغلی کوم شکایت نه دی ورکړل شوی او د مرکه ورکوونکو په وینا یوازینۍ ستونزه دا وه چې د رایه ورکوونکو د روزنې او تعلیم کچه لوړه وه او دغه مساله په وروستیو ټاکنو کې د ښه والي په لوری تللې ده.

په دې ټولنه کې د تعلیم د اهمیت په اړه، خصوصا د نجونو د تعلیم په اړه یو قوي احساس شته. تر یوې اندازې پورې دغه حقیقت د هغه تمایل څرګندوی ده چې له ۲۰۰۱ څخه وروسته یې په سیمه کې پراختیا موندلې لکه څنګه چې مخکې توضیح شوه. باید وویل شي چې د محلي مخورو شخصیتونو فعالیت لکه حسیني او د ټولنې نورو ملایانو په دې اړه ډېر نفوذ درلود. د ټولنې ښځې د نجونو یوه ښوونځي ته چې په دې وروستیو کې جوړ شوی لاس رسي لري او ډېرو باور درلود چې په ولایتي شورا کې د حسیني د هڅو په نتیجه کې وژغورل شو. په دې کې د غیر حکومتي موسسې له خوا د لویانو لپاره د سواد د زده کړې کورسونه هم جریان لري. د دې جمعیت نارنیه هم په دې باور دي چې ښځې باید په سیاست کې نقش ولري، که څه هم ځینو ښځینه مرکه ورکوونکو راپور ورکړی چې دوي له سیاسي مذاکرو څخه د ایتسلو احساس کوي او د ټولنې د شورا په غونډو کې هم برخه نه اخلي.

کلیوالي ساحه: د یکاولنګ ولسوالي

د یکاولنګ ټولنه یو کلی دی چې نږدې ۳۰۰ کورنۍ په کې ژوند کوي، او له مرکز یانې نایک څخه د موټر له یوې ګړۍ سفر څخه وروسته هلته رسیږي. د بامیانو د ولسوالي په پرتله نیستمنه ده، خو اقتصاد یې بیا هم په پښو ولاړ دی. د دې جمعیت اقتصادي منبع په

عمده ډول د څارويو روزل دي. دغه راز د دوي د عايداتو يوه بله سرچينه د ژمي د ازوغ له پلورلو څخه لاس ته راځي چې په ايلاق کې يې راغونډوي (د دوبي په موسم کې د څارويو د څرلو لپاره لوړې ځمکې) او په همدې موسم کې يې د دهغه ځآی په اوسيدونکو ښځو باندې خرڅوي. د ټولنې نارينه د ملي پيوستون په شورا کې را ټوليږي چې د ډيرو کورنيو لپاره يې د لمر د انرژۍ څخه بريښنا برابره کړې او له دې لارې د بريښنا د کمښت تلاقي کوي. خو د باميانو د ولسوالۍ په پرتله غير حکومتي موسسې دلته دومره فعالې نه دي. نږدې ښوونځي دلته هغه لويه ليسه ده چې– ۱۹۲۰ کلونو کې جوړه شوې– نږدې پنځه کليو متره لرې د درې په بله غاړه کې جوړه شوې. که څه هم کلينيک نشته، د روغتيايي خدمتونو اسانتياوې په ګاونډي کلي کې، چې په همدومره واټن کې لرې پروت دی، شته.

د هزاره ګانو يوه هم شکله ټولنه ده چې په عمده ډول د ميرال خاني د قوم خلک او څو نور واړه ګروپونه په کې اوسي. دغه ټولنه هم د طالبانو د تاوتريخوالي قرباني شوې او ګاونډيو ولايتونو او هيوادونو ته يې کډې کړې وې. په سياسي لحاظ، کلي د الخاني د مخورې کورنۍ تر نفوذ لاندې دی. دغه کورنۍ له حکومتي چارواکو او پخوانيو مجاهدينو له شبکو سره پراخې اړيکې لري او په سيمه کې ډيره اندازه ځمکه په اختيار کې لري. دغه کورنۍ دغه راز د ښځينه استازې صيفورا ايلخاني په ذريعه له ټولنې څخه په پارلمان کې استازيتوب کوي. په محلي کچه، محلي مهمې چارې په شورا کې د نارينه غړو له خوا تر بحث لاندې نيول کيږي. د ملي پيوستون له پروګرام څخه د مخه پريکړې په مشترک ډول نه نيول کيدې او د ښاري ساحې په پرتله په ټولنه کې د سياسي موافقې د تر لاسه کولو لپاره تياري کم و او ټولنه لېږ متحده پريښيده. په خاص ډول د ايلخاني په اړه بيلې انګيرنې موجودې وې. ځينې مرکه ورکوونکي د هغې له اجرااتو څخه راضي وو، ځينو نورو ويل چې هغې خپله ټولنه پرې ايښې او کابل يې غوره کړی دی او هغه يې د باميانو له استازي عبد الرحمن سره پرتله کوله. د عبد الرحمن په اړه عمومي احساس دا وه چې لا اوس يې هم له خپلو مؤکلينو سره نږدې اړيکې ساتلې دي. تر يوې اندازې پورې ښايي دغه خبرې په ډيرو برخو د ټولنې کې د صيفورا ايلخاني د کورنۍ د اقتدار په اړه نارضايتي ښکاره کوله.

لکه څنګه چې په ښاري سيمو کې و، دلته هم داسې باور موجود و چې د ځوانانو تعليم او روزنه د ټولنې په برخليک کې ډير مهم او مثبت رول درلودلای شي. مرکه ورکوونکو دغه راز دا هم ياده کړه چې د ايلخاني موقف چې د لومړنۍ ښځې په څير يې ښوونځي ته د تلو اجازه دلوده څنګه د ښځو په اړه د ټولنې په روش باندې اثر غورځولی دی. هغه شهرت چې دې وروسته لاس ته راوړ او د ښځو د ليک لوست د زده کړې په اړه د هغې هڅو (د غير حکومتي موسسو له خيرونو سره يو ځای) له ۲۰۰۱ څخه وروسته د ډيرو نجونو لپاره ښوونځيو ته د تګ لار پرانيسته.

د کابل ولايت

د کابل ولايت د افغانستان اقتصادي او سياسي مرکز دی، پارلمان او مرکزي حکومت دلته ځای لري او د ډيری ملي او نړيوالو غير حکومتي موسسو او پرمختيايي ادارو د فعاليتونو مرکز هم دی. د کابل ښار له ۲۰۰۱ راهيسې درې برابره شوي، ځکه کډوال د هيواد له مختلفو قومونو له بيلا بيلو ولايتونو او بهرنيو هيوادونو څخه دلته راغلي څو له اقتصادي فرصتونو څخه برخمن شي او له نا امنيو څخه خوندي پاتې شي. د ښار اوسيدونکي په نسبي ډول روغتيايي اسانتياوو او ښوونې ته ښه لاس رسي لري او ورسره د اوبو او انرژۍ تهيه په منظمه توګه رسيږي. په حکومتي او بهرنيو هدفونو باندې د کله کله مهمو بريدونو څخه پرته، د کابل ښار په نسبي ډول د امنيت څخه برخمن دی. په مقايسوي ډول د کابل د ولايت په کليوالي سمو کې لږ اسانتساوې شته او ډيری ټولنې د شورشيانو يا د رقيبو سياسي ګروپونو تر تاوتريخوالي او که څه هم د معمولي خو دايمي تهديد او تاړاک لاندې دي. په ښار کې د قومونو د تعدد يا ډير والی په پرتله، کليوالي سمو کې په عمده ډول تاجاکان او پښتانه اوسي. په عمومي ډول دغه ولايت په ټول هيواد کې له ۱۶ کلنی څخه پورته د لوستو تر ټولو زيات شمېر لري او د نيستي اندازه په ټول هيواد کې تر ټولو ټيټه ده (څلورم جدول وګورئ).

سياست په عموم ډول په دې ولايت کې محلي بڼه لري: په کليوالي سمو کې قاعده داسې ده چې د طرفداره شبکو ترمنځ چې کله بدلون مومي يا يو له بل سره ګډيږي رقابت جاري وي او په معمول ډول په انفرادي يا نفوذه اشخاصو لکه ملک يا قوماندانانو باندې سره راغونډيږي. په ښاري سيمو کې، په مقايسوي ډول سياسي ګوندونه زيات نفوذ لري، خاصتا د هزاره ګانو، په ټولنه کې، په دواړو ښاري او کليوالي سيمو کې رايې په ټاکنو کې په عموم ډول په قومي لحاظ ويشلي وي. د کابل په ولايت کې تر اوسه په څلورو ټاکنو کې د رايه اچوونکو شمېر په ټول هيواد کې ډير کم و، همدغه راز د پکتيکا او خوست ولايتونو کې چې شورشيان ډير نفوذ په کې لري او محافظه کاره ولايتونه دي، هم د رايو شمېر کم و. که څه هم ښايي د دې حقيقت په کابل کې دا وي چې خلک ښاري ژوندلري: په ښاري سيمو کې رايه اچوونکي د کليوالي سيمو په پرتله چې زياتي سره نږلی او متحدې وي، تر کم اجتماعي فشار لاندې وي چې رايې واچوي او په عين وخت کې ښايي د تعليم لوړه کچه هم د دې سبب شوی وي چې په عموم ډول د ټاکنو د پروسې په باب شک او ترديد را پيدا شي. دغه راز په کابل کې د نورو دوو تر څيرنې لاندې ټولنو په پرتله د ښځو ونډه په ټاکنو کې ډيره کمه وه، که څه هم د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۰ کلونو د ټاکنو ترمنځ تر يوې اندازې پورې زياته شوې وه.

ښاري ساحه: دشته برچي

دشتي برچي د کابل ښار په جنوب لويديځ خوا کې پرته ده، چې دوه امنيتي حوزې شپږمه او ديارلسمه هلته شته، اوسيدونکي نږدې ټول هزاره ګان دي، او يو ډير کم شمېر پښتانه هم په سيمه کې اوسيږي. د نفوسو تعداد يې مختلف ښودل شوي، رسمي احصايه نږدې ۴۶۰۰۰۰ (د دواړو حوزو لپاره) ښوولی، محلي خلک يې له اتو لکو څخه تر دوو ميليونو پورې اټکل کوي. دغې ساحې له ۲۰۰۱ څخه وروسته په چټکتيا سره پراختيا موندلې چې په عمده ډول هزاره ګان له وردګو او غزني ولايتونو څخه او يا د پاکستان او ايران څخه راستانه شوي دي. دغه چټکه پراختيا د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ ټاکنو پر مهال ستونزمنه واقع شوه، ځکه چې نوي کسان چې کابل ته راغلي وو، په دې هڅه کې وو، چې د کابل د ښار د رايه اچونې کارتونه تر لاسه کړي. محلي مرکه ورکوونکو شکايت کاوو، چې د ټاکنو خپلواک کميسيون د دې ساحې نفوس کم شمېرلی و او په نتيجه کې د رايې اچونې مرکزونه ډير کم وو، او هم د رايه اچونې د پاڼو شمېر کم و، او ځکه ډيری

خلک د رایې اچولو څخه پاتې شول (ځینو لا دا ادعا هم کوله، چې په دې عمل سره د هزاره ګانو د سیاسي ځواک د محدودولو کوشش شوی و). که څه هم د دې ساحې اوسیدونکي تعلیم او روغتیایي اسانتیاوو ته ښه لاس رسي لري، خو بیا هم د چټکې پراختیا له امله داسې ساختیارونه، چې ناپاکه اوبه وباسي، بریښنا برابره کړي، په بشپړ ډول بسنه نه کوي.

په داسې حال کې، چې په دې ساحه کې د هزاره ګانو، د مجموعي هویت احساس موجود دی، سره له دې هم د دوي ترمنځ سیاسي ویش او مختلف قومونو شته، چې په خپلو پخوانیو ولایتونو کې یې درلودل. شیعه مذهبه ګوندونه لکه حزب وحدت او حرکت اسلامي په دې ساحه کې فعاله دي او د راپورونو له مخې په ټاکنو کې د خلکو په بسیج کولو کې ډیر اغیزناک رول درلود چې د ځانګړو نوماندانو لپاره ملاتړ برابر کړي، په ځانګړي ډول د ۲۰۰۹ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې، کله چې د هزاره ګانو لکه محقق او خلیلي د ولسمشر کرزي شا ته ودریدل. سره له دې هم، مرکه ورکوونکو ادعا کوله، چې د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو په موده کې د دوي نفوذ کم و، ځکه خلک ناراضه وو او ویل یې، چې دو دې ټولنې ته کومې خاصې ګټې نه دي رسولي. دشت برچي دغه راز د ۲۰۰۹ کال د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې هم د هزاره نوماندانو ترمنځ د کمپاین یوه مهمه ساحه وه. د دې څېړنې لپاره دوو مرکه ورکوونکو، انیسه مقصودی او شریفه شیرزاد الله داد (دوهمه برخه وګورئ) دې دواړو نوماندانو له دغې ساحې څخه ډیر ملاتړ تر لاسه کړی و. خو محلي مرکه ورکوونکو د دوي یادونه و نه کړه او په عام ډول د دیموکراتیکو ټاکنو په وړاندې شکمن وو او دغه راز دوي د ټاکنو د پروسې ماهیت له فساد څخه ډک ګڼلو.

کلیوالي ساحه: د ګلدرې ولسوالي

دغه کلیوالي ټولنه چې تر څېړنې لاندې نیول شوې وه، د ګلدرې په ولسوالی کې وه، چې له کابل څخه ۲۰ کیلو متره د شمال لویدیځ په لور پرته ده. نفوس یې نږدې ۱۵۰۰ ته رسیږي، چې په عمده ډول تاجکان او یو کم شمېر یې پښتانه دي. زیات شمېر پخواني اوسیدونکي یې کروندګر دي او د دوي عواید په عمده ډول د میوو له باغونو او ونو څخه لاس ته راځي، چې دغه ساحه یې نیولې ده. ځوانان یې زیاتره د کابل په ښار کې د روز مزد کارګرانو په څیر د کابل په ښار کې کارونه ترسره کوي. که څه هم په کلی کې یو کلینیک شته او ښوونځي هم په نسبي ډول په اساني سره د لاس رسي وړ دي، خو اوسیدونکو یې د بریښنا او د څښاک د پاکو اوبو له نشتوالی څخه شکایت کاوه. مرکه ورکوونکو وویل، چې نږدې ټولې ځوانې ښځې په دې ټولنه کې نالوستې دي خو زیات شمېر اوسیدونکي یې خپل لونې ښوونځیو ته لیږي. د راپورونو له مخې څو نادولتي موسسې د چرګانو د روزنې د فارمونو او د لویانو لپاره لیک لوست کورسونه برابروي. د طالبانو د واکمني پرمهال، دغه کلی نږدې په بشپړ ډول تخریب شوی و، او اوسیدونکو یې ویل، چې دوي د شکنجې او وژنې له ویرې څخه غرونو ته تښتیدلي وو.

د دې ټولنې اصلي سیاسي څېرې فوزیه ناصریار ګلدره یې په پارلمان کې ښځینه استازې (دویمه برخه وګورئ)، ځینې پخواني جهادي قوماندانان دي، د دغو کسانو پیسې او نفوذ د ټاکنو په موده کې د خلکو په پریکړو باندې زیات اثر غورځولی و، او همدارنګه د ټولنې د شورا غړي یې هم تر نفوذ لاندې وو. مرکه ورکوونکي په عمومي ډول د ګلدره یې له اجرااتو څخه راضي وو او ویل یې چې هغې د خپل کار په موده کې له ټولنې سره په پرلپسې ډول اړیکې ساتلې وې او له همدې امله د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې بیا انتخاب شوه. سره له دې هم، مرکه ورکوونکو داسې احساس کاوه، چې د شورا غړو د نادولتي موسسو څخه مرستې تر لاسه کولې او هغه یې د خپل قوم نږدې کسانو ته ورکولې، چې په دې ډول ډیر اړ خلک له مرستو څخه محروم شول. بل سیاسي شخصیت چې د ټولنې ترمنځ نفوذ لري، د ۲۰۰۹ کال د ولسمشریزو ټاکنو لپاره نوماند د شمالي ټلوالې غړي ډاکټر عبد الله و، داسې فکر کیده، چې هغه دغه ټولنه د طالبانو له تاړک څخه خلاصه کړې وه. د ولایتي شورا غړي په دې ټولنه کې زیات نامي نه وو، او هیڅ یو هم له دې ټولنې څخه د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې نوماند نه و.

# ۳. نوماندان

د ناکامو یا بریالیو ښځینه نوماندانو لپاره کوم یو ځانګړی موډل نشته. په دې څېړنې کې د مرکه ورکوونکو په نظر ګټونکي یا بایلونکي نوماندانو د دوي په انفرادي او کورنۍ سابقې، د منابعو په شتون او د کمپاین پرمهال د تکنیکونو په کارولو پورې اړه درلوده او دغه راز مهمه خبره دا وه، چې دغو عواملو د دوي په ټولنو او ولایتونو کې له سیاسي او ټولنیزو تحرکاتو سره څه اړیکه او اغیزه درلوده. له دې امله دغه څېرکی د څېړنې لاندې په هر ولایت کې د ګټونکو او بایلونکو نوماندانو ترمنځد سابقې او تجربو په یوې ژورې مقایسې او تشریح پیل کوي، مخکې له دې چې د دوي د انفرادي تجربو څخه په راوتلو عمومي تمایلاتو باندې رڼا واچوي. د یادونې وړ ده، چې په دې برخه کې کارول شوې شمېرې د دې څېړنې د میتودولوژي په پایله کې څه نا څه ستونزې لري. د ډېری نوماندانو په برخه کې د هغوي په اړه معلومات د هغوي له خپلو څرګندونو څخه راخیستل شوي او همدارنګه د موجوده راپورونو او د افغان څېړونکو له شخصي معلوماتو او تجربو څخه ترلاسه شوي. د یو ډېر کم شمېر نورو نوماندانو په برخه کې مفصل معلومات د دوي په ټولنو کې د مرکه ورکوونکو څخه تر لاسه شوي دي. هڅه شوې ده چې په لاندې راپورونو کې دغه ټول معلومات راونغاړي.

## ۳,۱ نوماندان او د هغوي کمپاین‌ونه

پنځم جدول: د کال او ټاکنو له مخې د ولایت په کچه د ښځینه او نارینه نوماندانو مقایسه

| ولایت | د نوماندانو شمېر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 2009 (PC) | | 2005 (PC) | | 2010 (WJ) | | 2005 (WJ) | |
| | ټولټال | ښځینه | ټولټال | ښځینه | ټولټال | ښځینه | ټولټال | ښځینه |
| بلخ | ۱۶ | ۱۳۸ | ۱۵ | ۱۱۸ | ۱۴ | ۸۰ | ۱۴ | ۱۱۶ |
| بامیان | ۶ | ۹۴ | ۹ | ۶۸ | ۶ | ۴۳ | ۷ | ۵۴ |
| کابل | ۶۴ | ۵۲۴ | ۳۳ | ۲۱۷ | ۱۰۲ | ۶۶۳ | ۴۳ | ۳۹۰ |

سرچینې د لاندنې جدول لپاره: له دیموکراتیک ملی انستیتوت څخه< افغانستان د ټاکنو معلوماتی اډه، د ولسمشری او ولایتی شوراګانو ټولټاکنی : افغانستان ۲۰۰۹ ټولټاکنی " http://www.iec.org.af/results_2009/Index.html ( د سر لاسی نیټه ۴ دسمبر ۲۰۱۱) د ۲۰۰۵ -- د ټاکنو د تنظیم ګډ کمیسیون ۲۰۰۵ افغانستان، ولسی جرګه او د ولایتی شوراګانو ټاکنی ۲۰۰۵ افغانستان " http://d8680609.u106.forthost.com/home.asp?Language=E ( د سرلاسی نیټه ۴ دسمبر ۲۰۱۱).

### د بامیانو ولایت

د بامیانو په ولایت کې د ښځینه نوماندانو شمېر په تیرو پرلپسې ټاکنو کې تر لیرې اندازې پورې راولویدې (پنځم جدول وګورئ، چې تر څېړنې لاندې ولایتونو کې په پرلپسې ټاکنو کې د نوماندانو شمېر څرګندوي)، دغه جدول د ۲۰۰۹ کال د ولایتي شوراګانو ټاکنې په دغو ولایتونو کې لیږ رقابتي ښودلې، تر کومه ځایه چې د هرې یوې څوکۍ لپاره د نوماندانو شمېر مطرح و (شپږم جدول وګورئ). سره له دې، د ۲۰۰۹/۱۰ کلونو ټاکنې د کابل یا بلخ په پرتله په یوه لحاظ ډیرې له رقابت سره ملې وې، چې ګټونکو نوماندانو باید د ډیر شمېررایه اچوونکو زیاته برخه ګټلې وای، یعنې نوماندانو نه شو کولای چې یوازې په خپلو ټولنو/ساحه کې د کمپاینونو له لارې ټاکنې وګټي.

له درې واړو موافقو نوماندانو – یو د ولسي جرګې او دوه د ولایتي شورا غړي – سره په دې ولایت کې مرکې وشوې. درې واړو په خپلو اړونده ټولنو کې د ښوونکو په حیث اوږدې تجربې درلودې، چې دوو تنو یې د طالبانو په وخت کې هم درسونه ورکول. که څه هم د ولایتي شورا یوې غړې راضیه اقبالزاده ادعا کوله چې یوازې د دغه شهرت له لارې یې رایې ګټلې دي او نورو دوو کسانو هم په همدې ډول په خپلو پخوانیو کارنامو، ټولنې ته په خدمتونو او مسلکي تجربو او په قوي سیاسي شبکو او نږدې اړیکو باندې تکیه کړې ترڅو بریالۍ شي.

د ولسي جرګې اوسنۍ غړې صیفوره ایلخاني مخکې له دې چې د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې انتخاب شي، په خپله ټولنه کې د ښځو د سواد یا لیک لوست کورسونه رهبري کړي او کله یې له دغې لارې څخه هم د دې احترام وړ ګرځیدلې ده. نوموړې ادعا کوله چې له دې تجربې سره په څنګ کې د یوې غیر حکومتي موسسې سره هم کار کړی و، چې په ټول ولایت کې غذایي توکي ویشل. پر دې برسیره، دا د یوه محلي مخور شخص لور وه او ورور یې د داخلي جګړو په وخت کې قوماندان و، چې اوس هم د کورنیو چارو په وزارت کې یو مهم پوست لري او اوازې داسې وې، چې د حزب وحدت له ګوند سره ټینګې اړیکې درلودې. د دې ټولنې د ډېری غړو لپاره هغې ته د رایې ورکولو مانا دا وه، چې د دې له کورنۍ سره ملاتړ څرګند کړي او په بدل کې یې مرسته تر لاسه کړي، لکه څنګه چې د پارلمان له یوه غړي سره ښایي – څرنګه چې د هغې کورنۍ په دې سیمه کې د ځمکو پر حقونو باندې کنټرول درلود، هغې ته د رایې نه ورکول یو ګواښ ګڼلی و. د راپورونو له مخې د ۲۰۱۰ کال د بیا ټاکلو په کمپاین کې ایلخاني په خپله ټولنه کې په دې زور واچوو، چې د قومی اتحاد احساس راژوندی کړي او داسې تبلیغ یې کاوه، چې د یو قوم په حیث د یوه نوماند تر شا دریدل د نورو رقیبانو په وړاندې د هغه قوم قوت او یوالی څرګندوي. هغې همدغه راز د محلي ښځو ترمنځ له خپل شهرت څخه هم ګټه پورته کړه او دوي یې د کمپاین په پروسې کې د

يوې مشخصې انتخاباتي حوزې په څير تر هدف لاندې وي. په يوه کوشش کې چې د ډېرو له نظره يوه مؤفقانه هڅه وه، او هدف يې دا و چې د نارينه نوماندانو مجللې ميلمستياوې په دې طريقه شنډې کړي چې دې د ټولنې ښځې په يوه محلي مسجد کې سره را غونډې کړي چې نذر ورکړي (دا يو مذهبي رسم دی، چې عبادت کوونکو ته د يوه مهم عمل په شروع کې ورکول کيږي او يوه ساده ډوډۍ ورسره وي). خو سره له دې، د هغې فعاليتونه داسې نه ښکاريدل چې د هغو ښځو ګټې په پام کې ونيسي او پيغامونه چې دې ورکړل په اساسي ډول همداسې وو. د يکاولنګ د ولسوالۍ د ښځو د شورا د يوې غړې له قوله، چې په دې کمپاينونو کې يې ګډون کړی و، د هغې خبرو په دې زور واچو، چې د هرې ټولنې د خلکو لپاره د شرم خبره ده که چيرې دوي خپلو نوماندانو ته رايه ور نه کړي.

په مالي لحاظ هغه د خپلو ورونو له خوا تقويه کيدله او څرنګه چې دې په خپل ځای کې ډير پراخ کمپاينونه شروع کړی وو، نو معلومه نه ده چې د ولايت په نورو برخو کې د دې کمپاينونه څومره پراخ وو. په هر حال، داسې معلوميږي چې د دې له کورنۍ سره تړلې شبکې- د قومي ملاتړ او يا له ګوند او حکومت سره د هغې د ورونو د اړيکو له امله- د دې په رايو کې زياته مرسته وکوله. په ۲۰۱۰ کې دغه برياليتوب له دې امله هم ممکن شو، چې هغې د باميانو ډيرو کسانو ته امکان برابر کړو، چې کابل ته راشي، خصوصا شاګردانو ته يې د خپل کار په دوران کې مالي مرستې او د اوسيدلو امکانات برابر کړل، په دغه کار سره دې په ټول ولايت کې ډير شهرت تر لاسه کړ. د ولايت په مرکز کې د حکومتي او غير حکومتي موسسو د کارمندانو په وينا د انسجام ملي يو کوچني ګوند هم له دې سره لوجستکي مرسته کړې وه (د پوسترونو په چاپ او ځړولو کې). د دې رابطې اصلي ماهيت څرګند نه ده، ځکه چې نه پخپله نوماندې او نه د هغې ټولنې په دې باب څه ويلي دي، لکه څنګه چې د ټاکنو خپلواک کميسيون کارمند څرګنده کړې ده، امکان لري چې دغه رابطه په عمدي ډول د دې لپاره پټه پاتې شوې وي چې په عموم ډول خلک د سياسي ګوندونو په وړاندې حساسيت او بد ګماني لري. خو سره له دې، د شيعه مذهبه ګوند په حيث د دې ګوند تاريخي اړيکې د وحدت له ګوند سره څرګندوي چې دغه اړيکې د پراخو سياسي اړيکو يوه برخه جوړوي، په کومه کې چې د دې کورنۍ هم شامله ده.

شپږم جدول: د ولايت په کچه د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ په ټاکنو کې د ښځينه نوماندانو ترمنځ د سيالۍ کچې

| ولايت | نهاد | د ښځو لپاره تخصيص شوې څوکۍ | خلاصې څوکۍ | د هرې څوکۍ لپاره د نوماندانو شمېر (ښځې) | د هرې څوکۍ لپاره د نوماندانو شمېر (سړي) | د ګټلو لپاره په فيصدي حد اقل رايې (ښځې) | د ګټلو لپاره په فيصدي حد اقل رايې (سړي) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بلخ | ولايتي شورا | ۵ | ۱۴ | ۳.۲ | ۸.۷ | ۰.۷ | ۱.۴ |
| | پارلمان | ۳ | ۶ | ۴.۷ | ۱۱ | ۱.۱۹ | ۴.۲ |
| باميان | ولايتي شورا | ۳ | ۶ | ۲ | ۱۴.۷ | ۰.۸ | ۳ |
| | پارلمان | ۱ | ۳ | ۶ | ۱۲.۳ | ۴.۶ | ۸.۹ |
| کابل | ولايتي شورا | ۸ | ۲۱ | ۸ | ۲۱.۹ | ۰.۵ | ۰.۶ |
| | پارلمان | ۹ | ۲۴ | ۱۱.۳ | ۲۳.۴ | ۰.۲۵ | ۰.۶ |

د مفصل مباحثې لپاره د سنجش سيستماتيک سيالی ته د ټولټاکنو مراجعه وشی، د مثال په توګه ، ستيفن ريد او کای شيميزو "د سيالی سنجش په څو ډوله ولسوالی کی" (بالو التو, کاليفورنيا: ستانفورد پوهنتون ۲۰۰۷)، http://iis-db.stanford.edu/evnts/4905/Reed-Shimizu.Paper.pdf ( د سرلاسی نيټه ۲ جنوری ۲۰۱۲) . دا لاسته راوړنه اقتباس د دی پاڼې ليکوالانو له وارندی شوی چې بدبختانه د سياسی ګوندونو د نشتوالی ليست له امله مناسب ندی .

د دې په ټولنه کې د خلکو نظريات د هغې د لومړۍ دورې خدمت په موده کې د دې د اغيزمنتوب په اړه مختلط وو. خصوصا ښځو د هغې په اړه په عموم ډول مثبتې انګيرنې درلودې، او د هغې هغه کاميابۍ هڅې يې يادولې چې په نتيجه کې يې يو نوی پل جوړ شو چې سيمه يې له لوی لارې سره د درې له لارې وتړله. خو په ټولنه کې نارينه وو يو څه انتقادي نظريات هم درلودل او ويل يې چې هغې له انتخابيدو څخه وروسته ټولنه پريښوده. په پارلمان کې چپه خوله وي، او دغه پل هم په حقيقت کې (د يوې نړيوالې موسسې له خوا تمويل شوی) د ولايت د ښځينه والی، حبيبې سرابي له خوا جوړ شو. سره له دې هم يوه نارينه مرکه ورکوونکی دا هم وويل چې سره د دې له هغې سابقې چې په پارلمان کې د استازې په څير يې لري، خلکو "بله چاره" نه درلوده يې له دې چې هغې ته رايه ورکړي، ځکه چې په يوې ځواکمنې کورنۍ پورې تړلې وه.

له ډيرو خواوو، د صفورا ايلخاني سابقه د ولايتي شورا د غړی عاقلې حسيني له هغې سره يو شانته وه. په خپله ټولنه کې هغې هم د ښوونکی او اجتماعي کار کوونکې په څير کار کړی دی، له ملګرو ملتونو سره هم د کار تجربه لري او دغه راز د هغې ورور هم يو معروف پخوانی قوماندان و چې په کمپاين کې يې له دې سره مالي او سياسي مرسته کړې ده. سره د دې، د ځينو لپاره کورنۍ په لويه او پراخه ساحه کې يوه وسيله وه، او د هغې له کانديدې سره موافقه نه وه.

حسيني په ۲۰۰۵ کې د ولايتي شورا په ټاکنو کې ناکامه پاتې شوه. د دې په خپله ټولنه کې د هغې ناکامي نړدې د ټولو له خوا د هغې د پلويانو په منځ کې د ليک لوست او خبرتيا د ټيټې کچې شته والي ته منسوب شوې وه. له دې سره دا خبره يو ځای شوې وه چې له بده مرغه د هغې يو مغشوش تصوير درايو په پاڼه لګيدلی و. د ۲۰۰۹ په ټاکنو کې عاقلې په سيستماتيک ډول له معينو هدفونو سره په کمپاين کې برخه واخيسته. رايه ورکوونکو ته په خبرو کې هغې هڅه وکړه چې د ناکامي لامل له منځه يوسي او دا يې وښووله چې څنګه په مناسب ډول رايه واچول شي او تشريح يې کړه چې څنګه رايه اچوونکي کولای شي هغه د رايه په پاڼه کې پيدا کړي. دغه راز هغې راپور ورکړی چې د ښځينه ښوونکو او ډاکټرانو د يوې شبکې په مرسته يې د ښځو په منځ کې رايې پيدا کړي. دغه خبره د هغې په ټولنه کې د ښځينه مرکه ورکوونکو له خوا هم تاييد شوه. دوی راپور ورکړ چې څنګه يوې ښځينه ښوونکې يوه غونډه برابره کړې وه چې په ترڅ کې يې د ښځو لپاره په هغه ضرورت بحثونه وشول چې د ښځينه کانديدې لپاره رايه ورکړي څو دوي له نارينه وو څخه ځواک بېرته تر لاسه کړي (د زياتو جزياتو لپاره دويم بکس وګورئ). مهمه خره دا هم وه چې د خپلې قضيې په اړه يې د ټولنې له مشرانو سره هم بحثونه کړي او په دې وتوانيده چې د محلي شورا ملاتړ تر لاسه کړي. دغې شورا په خپل وار د دې تضمين وکړ چې دا به يوازينۍ ښځينه نومانده وي چې د هغې د ټولنې ملاتړ به ورسره وي او په دې ډول د ټاکنو په ورځ له دې خطر څخه بچ شوه چې رايې يې وويشل شي.

سره د دې هم چې په ټولنه کې هغې ښه نوم درلود او په کمپاين کې هم زياتې هڅې وکړې، دا بيا هم د خپل موفقيت لپاره د ورور مالي مرستو ته اړه وه. دغه مرستې په مستقيم ډول د دې د ورور او د حزب پيوند ملي له خوا چې په عمده ډول د اسماعليانو د پخوانيو مجاهدينو له ګروپونو څخه جوړ يو کوچي سياسي ګوند او د بغلان په ولايت کې يې زياتې ريښې درلودې، رسيدلې. د صفورا ايلخاني د اړيکو په خلاف چې له انسجام سره يې درلودې، په دغو اړيکو کې کوم پټ راز نه و نغښتي او د ټولنې د مرکه ورکوونکو د حساسيت لامل نه و ګرځيدلی. د دې خيرې لامل تر يوې اندازې په دې حقيقت کې پروت و چې نږدې ټولو خلکو دې ته د يوې اغيزناکې استازې په سترګه کتل او د يکاولنک د ولسوالي په ټولنه کې د ايلخاني د شکمن شهرت په مقايسه، هغه تر ټولو ړومبي د خپلو مؤکلينو په وړاندې ځوابګو وه. د ګروپي مباحثې يوې ښځينه غړې څرګنده کړه چې څنګه د هغې ورور ټولنې ته د دوديزې خوړو ياڼې وريجو او غوښې د برابرولو لګښتونه ورکول. په دې کار سره د حسيني سياسي وړتيا او د هغې د ورورو وړتيا چې خدمتونه برابر کړي د ټولنې د حامي په توګه په دوديزه لار څرګند شول.

دغه راز د حسيني ورور د هغې لپاره له خپلې ټولنې څخه بهر هم ملاتړ تر لاسه کړی و – دغه ملاتړ ځکه مهم و چې د ولايت په کچه د رايو زيات شمېر د دې مانا درلوده چې د يوې واحدې سيمې د رايو ګټل په ضروري ډول د موفقيت تضيمن نه شو کولای، لکه د مثال په ډول په کابل کې يې امکان موجود و، هغې له نارينه ساتونکې ډلې سره ښې اړيکې درلودې او ځينو داسې سيمو ته يې سفرونه وکړل، چې نور نوماندان هلته نه شو تللی، دې وويل:

> کله چې زه په کمپاين کې بوخته وم، زه د شيبر ولسوالی ته لاړم هلته د نورو نوماندانو انځورونه نه و او طالبانو د دې ولسوالي ځينې برخې تر ولکې لاندې راوستې وې، خصوصا د ګندک ساحې. کله چې زه ګندک ته تللم، طالبانو چې په موټر سايکلو سپاره وو، زما لار ونيوله. بيا زما ورور له موټر څخه پياده شو او طالبانو له هغه څخه وپوښتل چې څه شی کوی. زما ورور وويل: «زه د عاقلې حسيني ورور يم، چې په دې ساحه کې يې د ولايتي شورا د غړيتوب لپاره ځان کانديد کړی دی.» طالبانو وويل: «ستاسې زړورتوب چې په دې ساحه کې مو ځان کانديد کړی دی د ستاينې وړ دی. په باميانو کې ډير کانديدان شته خو هغوي دلته نه راځي.» له هغې ساحې څخه ما ۵۰۰ رايې وګټلې.

سره د دې پيښې، امنيت د نوماندانو يا د ټولنې د غړو له خوا په باميانو کې کومه لويه ستونزه نه ده بلل شوې. دغه راز په ټاکنو کې د درغليو په اړه هم ورته نظر موجود و. رايه ورکوونکو او حکومتي چارواکو، دواړو په ډير وياړ سره په خپل ولايت کې قانون ته ژمنتوب او د ټاکنو د پروسې ښه تنظيم له هغو بې نظميو سره پرتله کولې چې ګمان کيده په نورو ولايتونو کې رامنځ ته شوی وي. له دغو دوو ستونزو څخه پرته چې په نورو داسې تر څېړنې ولايتونو کې او نورو څېړنو کې يې يادونه شوې بريښيده چې په دې ولايت کې شرايط د ښځينه نوماندانو لپاره مناسب وو. خو لکه څنګه چې د دوو پورتنيو کانديدانو مثالونه څرګندوي، له دوی څخه يو کس به هم د سهميې له سيستم څخه پرته نه وای بريالۍ شوې او دا هم څرګندوي چې مالي سرچينو ته لاس رسي او له ځواکمنو کسانو سره اړيکېدرلودلې د موجوده څوکيو چې د ښځو لپاره موجود وي د ګټلو لپاره، په مبارزه کې ډير ارزښتناک وو.

يوه ناځواب شوې پوښتنه دا وه چې ولې د باميانو په ولايت کې د هرې څوکۍ لپاره د ښځينه نوماندانو شمېر لږ و. دا ممکنه ده چې د صفورا ايلخاني اړيکې او سرچينې او په پارلمان کې د هغې موجوديت د يوې ذاتي ګټې په څېر د دې سبب ګرځيدلی وې چې رقيبان يې له دې څخه منصرف کړی وي چې د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې د يوې واحدې څوکۍ د ګټلو لپاره د منابعو د مصرف خطر او هڅې ومني خو بايد وويل شي چې د ولايتي شورا د ټاکنو په قضيه کې دغه حالت موجود نه و. د باميانو په ولايت کې ناکامه کانديدانو ښايي کولای شوايچې په دې مساله رڼا واچوي او په دې څېړنه کې له دغو کسانو څخه څوک نه دی شامل کړای شوی، ځکه د معلوماتو او ارقامو په برخه کې يوه تشه ګڼل کيږي.

## د کابل ولايت

د کابل ولايت چې د سرچينو له پلوه غني دی، په قومي لحاظ ډير مختلف قومونه په کې ژوند کوي او په سياسي لحاظ ډير فعال او متحرک دی. د ښځينه کانديدانو لپاره يې د کمپاين يو ډير پيچلی چاپيريال رامنځ ته کړی و. د دې ولايت په نسبي ډول با ثباته او پراخيدونکی ښاري مرکز، د زياتو مسلکي، لوستو ښځو زيات شمېر او ونډې له مخې د زيات شمېر موجودو څوکيو شتون د پارلماني او ولايتي شورا د ټاکنو لپاره يو ښايسته زيات شمېر ښځينه نوماندانې هڅولې وې. د ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ کلونو په ټاکنو کې دغه حالت ډير څرګند و، چې په دواړو حالاتو کې د ښځينه کانديدانو شمېر د ۲۰۰۵ د ټاکنو په پرتله

دوه برابره شو. څرنګه چې د څو محدودو څوکیو لپاره د ضروري رایو اندازه هم کمه وه او د ګډونکو او بایلونکو کاندیدانو ترمنځ حدود ډیر نږدې و. دغو شرایطو په ټولیز ډول زیات شمېر نوماندان وهڅول چې له ډیرو خواوو سره متفاوت وو.

## ګډونکي نوماندان

که څه هم د پارلماني او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې ډیرې مختلفې قوې کارول شوې وېبیا هم دا خبره د سنجش وړ ده چې په دواړو ټاکنو کې ګډونکي نوماندان د یو واحد ګروپ په څیر مطالعه شي، څو د مختلفو کمپاینونو ترمنځ توپیرونه او ورته والی وپیژندل شي. مهمه خبره دا وه چې د ګډونکو نوماندانو ډیری خپلې هڅې د هغو رایو په ګټلو متمرکز کړې، چې د یوې ځانګړې ټولنې، قوم او یا د ملاتړ د شبکې په د ننه کې یې ګټلې وې.

د ولایتي شورا دوو غړو خپلې هڅې او پاملرنې د کابل ښار په لویدیځ د دشتي برچي په ساحه کې چې د هزاره ګانو یوه فعاله سیاسي ټولنه ده، د شبکو پر بسیج کولو متمرکز کړې وې. انیسه مقصودي چې په پارلمان کې یې غړیتوب درلود، د یوې پیژندل شوي او فعالې سیاسي کورنۍ څخه وه، چې په ۲۰۰۵ کې له ایران څخه تر راستنیدو وروسته وکولای شو، چې په سیاست کې برخه واخلي. په لومړۍ ځل د څوکۍ د ګټلو له کمپاین څخه مخکې هغه د خپل مخور پلار په مرسته د خپل قوم د مشرانو له خوا ټاکل شوې وه، چې د هغوي استازیتوب وکړي. د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې هغې بیا د خپل قوم له مشرانو سره مذاکرې وکړې څو دا یقیني کړي چې دا به د دې ګروپ یوازینۍ نومانده پاتې شي او رایې به و نه ویشل شي.

هغې په څرګند ډول د حزب وحدت اسلامي (د ګوند هغه جناح چې د ولسمشر د مرستیال خلیلی له خوا رهبري کیږي) مالي مرستې خصوصا د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو په کمپاین کې ومنلې. که څه هم دې ومنله چې دغه مرستې هغې ته په دې شرط ورکړل شوې وې چې دا به د پارلمان لپاره نه بلکې د ولایتي شورا لپاره ځان کاندیده وي خو دې بیا هم وویل چې دوي ته په څه شی منلو باندې مجبوره نه وه او زیاته یې کړه چې هغوي دې ته په کافي اندازه پیسې نه وې ورکړې چې د کمپاین د لګښتونو له امله له پورونو څخه ځان وژغوري. له مالي مرستو ور هاخوا د وحدت د ګوند مرستو له دې سره په دې کې هم مرسته وکړه، چې د ګوند تشکیلاتي میکانیزم ته هم لاړ پیدا کړي او په دې ډول د هزاره ګانو په ټولنه کې یو سمبولیک اهمیت تر لاسه کړي.

مقصودي دغه راز د وروستیو ټاکنو په دوران کې د خپل موفقیت لپاره هغه خدمتونه هم مخې ته راوړل، چې د خدمت په دوران کې د دشتي برچي اوسیدونکو لپاره ترسره کړې وو. که څه هم د دې کمپاین د ښځو تر منځ په ظاهره ډیر موفق نه و، خو دې بیا هم یاده کړه، چې دغو خدمتونو د جنسیت په اړه ژورې اغیزې درلودلې، چې د ښځو لپاره یې ګټې زیاتې وې، او په پایله کې یې د ښځو ترمنځ د دې لپاره زیاتې رایې خوندي کړې وې.

> زه تل هڅه کوم چې نه یوازې د ښځو لپاره بلکې د هر چا لپاره کار وکړم، خو هغه څه چې ما تر اوسه کړې دي، زیاتره یې د ښځو لپاره وه. د مثال په ډول ما د ډیرو ساحو لپاره بریښنا برابره کړې، او د دې اغیزې د سړیو په پرتله پر ښځو زیاتې دي، ځکه چې دوي تر سړیو د زیات وخت لپاره په کورونو کې پاتې کیږي او له بریښنا څخه د پخلی، پریمنځلو او داسې نورو چارو لپاره ګټه پورته کوي. زما فعالیتونو پخپله پر ښځو باندې اغیزه کړې او کله چې زه د دوي د لیدلو لپاره ورځم زما سره ډیره مینه کوي او ښه راغلاست راته وایي.

شریفه شیرزاد الله داد له دشتي برچي څخه یوې بلې ګډونکې راپور ورکړی چې د ټولنې په سیاسي چارو کې له هغه وروسته شامله شوه چې د ښوونکې په حیث او د یو سازمان چلولو وروسته یې چې له ښځو سره یې په دې ساحه کې مرسته کوله، نوم ګټلی و. د مقصودي په خلاف هغې توضیح کړه، چې دغه سیاسي بیداري څنګه د هغې په کورنۍ کې تقویه شوې نه بلکې په هغې باندې تحمیل شوې وه:

> زموږ د ساحې مشرانو له ما څخه وغوښتل چې د دوي شورا ته ورشم او د ځینو مسالو په اړه خبرې وکړو. کله چې ما د ټولو مشرانو په منځ کې خبرې پیل کړي، نو ما ته یوه هیله پیدا شوه او زه په دې پوهه شوم چې د خلکو ترمنځ د خبرو کولو وړتیا لرم... تر ټولو په زړه پورې خبره دا وه، چې زما خسر هم د هغوي ترمنځ موجود و، کله چې د ټاکنو وخت راغي خلکو له ما وغوښتل چې ځان کاندید کړم، او زما له خسر څخه یې د اجازې غوښتنه وکړه. زما لپاره دا ډیره ګرانه وه خو زه ډیره خوشحاله وم چې بریالۍ شوم او زه د خپلو فعالیتونو څخه راضي یم.

دې د خبرو په ترڅ کې وویل، چې د هغې د کمپاین د همدغو مشرانو په غونډو پورې محدود پاتې شوی و او دوي وکولای شو، چې د ټاکنو په وخت کې د دې لپاره ډیرې مرستې برابرې کړي. دې زیاته کړه چې په دې کار سره هغې د کمپاین لپاره د ډیر لګښت اړتیا نه درلوده او په دې ډول یې د سیاسي ګوندونو مرستو څخه بې نیازه شوه. که څه هم د دې کورنۍ د نفوس څخه برخمنه نه بریښیده خو نا شونې وه چې د دې په قوم او ټولنه کې هغه محرکې قوې او ګټې رده بندي کړي چې دې ته یې له نورو ناکامو نوماندانو په پرتله یو ځانګړی موقف ورکړ ځکه دغو نوماندانو هم ادعا کوله چې یوازې په محلي ملاتړ باندې یې تکیه درلوده او نورو سرچینو ته یې لاس رسي نه درلودو.

بله نوماند چې د همدغې ساحې څخه یې استازیتوب کولو، فوزیه ناصریار ګلدره یی وه چې دوه ځله ولسي جرګې ته انتخاب شوې وه. د ګلدرې په کلیوالي ولسوالي کې د کاندیدې په حیث د هغې د موفقیت لاړ له ډیرو خواوو څخه په بامیانو کې د صیفوره ایلخانی او عاقلې حسینې له سرنوشت سره ورته والی درلود. د دې پلار یو محلي مخور سړی و او میړه یې هم یو پخوانی قومي مشر و او د جمعیت اسلامي غړیتوب یې درلود. که څه هم دې پخپله د دې غوښتنه کوله چې د خپلو او د ګوند د فعالیتونو ترمنځ د یوې خپلواکې نوماندې په توګه څرګندې کړښې وباسي. د دې کمپاین د خپلې کورنۍ له خوا تمویل شوی و او په دې ترڅ کې تر زیاتې اندازې د رایه ورکوونکو په غوښتنو زور اچولی و، چې د خپل قوم له خوا په رسمیت پیژندل شوی وي. دغو عواملو ته منسوب کیدل د بامیانو د نوماندانو په پرتله یو قوی دلیل و، ځکه چې هغې له ۲۰۰۵ څخه مخکې خپله

شخصي سوداګري پر مخ وړله او په خپله ټولنه کې يې د خدمتونو د ارايه کولو او يا د ښوونکې په څير – لکه هغوي چې ترسره کړې و – د ځان لپاره يو خپلواک شهرت نه و تر لاسه کړی. دغه حقيقت په ګلدره کې د ښځينه رايه ورکوونکو په نظرياتو کې څرګند شو، څوک چې د يوې ښځې استازې لپاره د رايې ورکولو له امله ډيرې خوشحاله معلوميدې او د دې لپاره يې په قومي کچه او د کورنيو اړيکو له لارېلوی ملاتړ برابر کړی و. لکه څنګه چې په ګلدره کې يو پښتون مشر وويل، د هغو رايه ورکوونکو لپاره چې د يوه ځواکمن او بلد استازو ټاکل يې لومړيتوب شمېرلی و په حقيقت کې «بل بديل» نه درلود، بې له دې چې دې ته رايه ورکړي، ځکه چې له دې سيمې څخه بل څوک ټاکنو ته نه و ولاړ.

په عمومي ډول د ګلدرې د ټولنې خلک د خدمت په دوران کې د هغې له خدمتونو څخه راضي بريښيدل او د نورو نوماندانو په پرتله يې ډير ځله د دې په ريښتنتوب باندې تاکيد کړی دی (د دې موفقيت په ښکاره ډول په دې کې و چې و يې کولای شوای د پارلمان د يوې غړې په حيثيت کې د خلکو توقعات په ريښتيني ډول تنظيم کي). نوموړې د شخړو په حل کولو کې له خلکو سره مرسته کړې د دوي په ودونو، مذهبي مراسمو او نورو مهمو پيښو کې يې ګډون کړی و او له دې لارې څخه يې د ملکانو او نورو مشرانو په ذهن کې د ځان لپاره د ټولنې د يوې دوديزې استازې حيثيت موندلی و. له دغې سابقې سره دا وتوانيدله چې د ټولنې مشران دې ته وهڅوي چې د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې د هغې لپاره مرستې همغږي کړي، لکه څنګه چې يوه مخور داسې توضيح کړه:

> زما په ياد دي چې فوزيه دلته راغله او ټول مشران يې سره را ټول کړل، مخکې له دې چې موږ له هغې سره وګورو، مشرانو په خپل منځ کې غونډه درلوده او خبرې يې سره کړې وې. موږ د هغې د څلورو کلونو فعاليتونه په پارلمان کې و ارزول او دې پايلې ته ورسيدو چې هغې د خلکو لپاره د پام وړ کارونه ترسره کړې و. موږ وويل چې هغه اوس ډير ښه تجربه لري او مناسبه به نه وي چې د هغې پر ځای يو بل شخص انتخاب شي، نو ځکه موږ پريکړه وکړه، چې موږ ټول هغې ته رايه ورکوو.

لېږ تر لېږه په دې ټولنه کې د خدمت په دوران کې د ګلدره يې موفقانه کارونو هغه فکر بې اتباره کړ، چې د نورو سيمو په څېړنه کې واضح شوې وه، چې ويل يې ښځې نه شي کولای چې د خپل جنسيت له امله اغيزناک خدمتونه ټولنې ته برابر کړي.

د سيمه ييز او قومي تمرکز په خلاف چې مخکې مو يادونه کړه، له دوو نورو نوماندانو سره هم تر يوې اندازې پورې د موفقيت لپاره مرستې په دې ډول شوې وې، چې د دوي له خوا د جوړو شويو ځانګړو شبکو دوي ته ملاتړ برابر کړ او د دې امکان رامنځ ته کړ، چې لګښتونه يې کم شي او د کابل له ښار څخه بهر خپل فعاليتونه لېږ تر لېږه جاري وساتي. دغه شبکې په ماهيت کې ډيرې هر اړخيزې وي، که څه هم دوي تر اوسه د انفرادي فعاليتونو په مرکز پورې تړلې وې او نه دا چې يوې مشخصې عقيدې ته ژمن پاتې شي.

د هزاره ګانو استازې ربابه پرواني دغه پلويان د مذهبي مشرې په حيث پيدا کړي وو. که څه هم نورو ښځينه نوماندانو ويلی و، چې د ټاکنو په وخت کې په مسجدونو کې کمپاينونه کړي دي، خو پرواني په دې برخه کې يوازينۍ ښځه، ځکه دې په منظم ډول د واعظ او نصحيت لپاره وخت ټاکلی و او د دې له اټکل له مخې په اونۍ کې درې ځله د ۵۰۰ کسانو په شاوخوا کې خلک درلودل. له دې سره يو ځای، دې په يوه مذهبي انستيتوت کې د يوې ښوونکې په څير د زده کوونکو په مرسته هم تکيه کړې وه. دغه انستيتوت هغې تاسيس کړی و او د کمپاين په وخت کې يې هغې ته زيات ملاتړ ورکړی و، او له دوي سره يو ځای نورو مذهبي ښوونکو هم په خپل وار خپلې نورې شبکې د دې د ملاتړ لپاره برابرې کړې وې. دې وويل، چې په دې ډول سره هغې وکولای شو چې د يوه خپلواک نوماند په توګه يوازې د يو لک افغانيو (نږدې ۲۲۲۰ امريکايي ډالره) په لګښت خپل کمپاين پر مخ يوسي.

د ولايتي شورا غړې ګل جان بخشي وويل، چې همدې ورته ستراتيژي يې کارولې وه، او توپير يې دا و چې د ليسو زده کوونکو ورسره مرسته کړې وه. مخکې له دې چې د ۲۰۰۹ کال ټاکنو ته ودرېږي، هغې د ښوونکو د کورنۍ د يوې غړې په حيث په کابل کې په دوو پېژندل شويو او پخوانيو د هلکانو په ليسو کې سبق ورکړی و. دې وويل چې دا يو ډير مهم عامل و او دې ته يې نه يوازې د ځوانو او متحرکو فعالينو يوه شبکه د کمپاين په موده کې برابره کړه، بلکې دغه راز د پخوانيو زده کوونکو ترمنځ چې اوس يې په مختلفو وزارتونو کې په لويو پوستونو کار کاوه، د اړيکو يوه ښه وسيله برابر کړه. هغې وويل، چې د دې په پايله کې، هغه يوازې مجبوره وه، چې د کمپاين په ډيرو عادي کارونو کې برخه واخلي او يا د ټاکنو د بهير لپاره ناظرين وګماري. که څه هم دې په ټاکنو خپل موفقيت په عمده ډول په دغې شبکې پورې منسوب وګاڼه، خو ښايي چې په دې کيسه کې نور هم ډير څه پراته وي: خو د دې په خپل اعتراف سره داسې معلوميږي چې د دې خپلې کورنۍ هم د هغې لپاره د خپل پنجشيري قوم په منځ کې چې اوس په کابل کې اوسي ملاتړ برابر کړی وي. دې کار شايد د هغې لپاره دا امکان هم برابر کړی وي چې د شمالي اتحاد له خوا د ولسمشري لپاره کانديد ډاکټر عبد الله او د دې ترمنځ ظاهري اړيکې پيدا کړې وي، دې ادعا کوله چې هغه د کمپاين لپاره د پوسترونو د چاپ لګښت ورکړی و.

په کابل کې د ګټونکو کانديدانو څخه د پاتې دوو پاتې کسانو يوه توريپيکۍ نوابي وه، دې خپل کمپاين په اړه ډير ناڅرګند معلومات ورکړی دي. نو ځکه معلومه نه ده چې دې کومو منابعو ته لاس رسي درلود او د کمپاين په موده کې يې کوم تکنيکونه کارولي دي. خو د يادونې وړ ده چې دې خپل برياليتوب د ښوونکې او يا په غير حکومتي موسسې کې د کارونو او تجربو پورې نه دي منسوب کړی، بلکې ادعا يې وکوله، چې هغې د خلکو ترمنځ اعتماد په هغه وخت کې ګټلی و چې د داخلي جنګ څخه پخوا يې په کابل کې د کمونستو او تکنيکرات لوړ قشر سره د يوې غړې په حيث کار کړی و. هغې د افغانستان د خلق ديموکراتيک رژيم کې د خپلو تجربو په اړه په مينې سره خبرې کولې او ادعا يې کوله چې د هغې ملګرو او همکارانو شبکې له دې سره–يوه ګونډه– په کمپاين کې مرستې کړې دي.

بله نومانده شينکۍ کړوخيل د افغان مدني ټولنې يوه وتلې غړې وه او د ښځو د يو وتلی کوچني ګروپ سره تړاو لري چې د افغان ښځو د شبکې او د نورو غير حکومتي موسسو سره د کار کولو له لارې شهرت ته رسيدلې ده. معلوميږی چې هغې په عامو خلکو کې د يوه شخصيت په حيث خپل موقف له هغو اړيکو سره ساتلی دی، چې دا يې لا تر اوسه په خپله ولسوالي کې لري، ترڅو د پارلمان د غړې په حيث موفقت ته ورسيږي او د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۰ په ټاکنو کې د نورو نارينه نوماندانو په پرتله زياتې رايې تر لاسه کړې. که څه هم هغه

په دواړو ټاکنو کې د یوه خپلواک نوماند په څیر ولاړه وه، یو له څو نوماندانو څخه وه چې په دې څیړنه کې یې په ښکاره ډول خپل کمپاینونه د مسلو پر بنیاد پر مخ بیولي دي. د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې دغه کمپاینونه په دې مسله راڅرخیدل، چې په سیاست کې د ښځو د ګډون پر اهمیت تاکید کاوه، ترڅو خپل حقونه ترلاسه کړي. د ۲۰۱۰ په ټاکنو کې خپله تګلار د فساد ضد مبارزې ته وقف کړه او رایه ورکوونکو ته یې روښانه کوله، چې پارلمان د دوي لپاره په ریښتیني ډول څه کولای شي. دې په ښکاره ډول د رایه ورکوونکو توقعاتو او د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو له ټاکنو څخه وروسته ناهیلو ته اشاره کوله.

لکه د نورو نوماندانو په څیر شینکۍ کړوخیل لا اوس هم تر زیاتې اندازې د خپل قوم او د محلي ټولنې د غړو ملاتړ ته محتاجه وه. په حقیقت کې د همدغه ملاتړ اهمیت و، چې هغې په خپله ولسوالي، یعنی سروبي کې د کمپاین لپاره په یوه ډیره نا امنه حالت کې خطر قبول کړ. له طالبانو سره د عاقلې حسیني د تجربو په خلاف د دې لپاره دغه خطر د یوه سیاسي رقیب له خوا جوړې شوې لوبې دسیسې وې:

> یوه ورځ دغو خلکو، نورو خلکو ته وسلې ورکړې څو ځانونه طالبان وښايي، خو زه پوهیږم چې هغوی طالبان نه دي. دوي یوازې محلي خلکو ته وسلې ویشلې وې. زه هلته وم، خو ما هیڅ هم و نه ویل... په یوه بل ځای کې دوي تر خپل منځ د جګړې یوه صحنه جوړه کړه، او یوه ښوونځي او کلینیک ته یې اور واچولو او حتی راکټونه یې وغورځول، خو ما له هغو خلکو څخه هم ډیرې رایې تر لاسه کړې.

دغه حالت په بلخ کې د ولسي جرګې د استازې ګلالۍ نور سافي تجربې منعکس کوي (لاندې برخه وګورئ)، او پراخې بې ثباتي– په ځانګړي ډول د ښځینه نوماندانو په وړاندې بېرونکی– او د طالبانو تر نوم لاندې یوه ګواښ ته اشاره کوي، چې محلي سیاسي فعالین یې د خپلو رقیبانو په وړاندې د بریالیتوب د یوې وسیلې په حیث کاروي.

بایلونکي نوماندان

په کابل کې په ټولیز ډول له اوو تنو بایلونکو نوماندانو سره مرکې ترسره شوې، چې پنځو تنو یې د پارلمان، یوه هغه یې د ولایتي شورا او یوه بله هغه یې دواړو ټاکنو ته ولاړه و. له دغې ډلې څخه د پارلمان لپاره یو تن او بل د ولایتي شورا نوماند وکولای شو، چې د ۶۰ او ۷۰ سلنو ترمنځ هغه اړینې رایې وګټي، چې د ګټونکو نوماندانو څخه تر ټولو وروستي ګټونکي هغه تر شاه کړي او ښايي چې د «سیالي کوونکو» نوماندانو په څیر وبلل شي. په مقایسوي ډول نورو پاتو نوماندانو د ضروري رایو له جملو څخه تر ۵۰ سلنې کمې رایې وګټلې چې په ډیرو حالاتو کې دغه رایې یوازې له څو سو رایبو څخه لیږ څه زیاتې وې.

د پارلمان لپاره لومړۍ سیالي کوونکې نوماندە انارکلی هنریار وه، چې د هیواد د هندو او سیک ټولنې استازې وه. په اصل کې د بغلان له ولایت څخه خو د بشري حقونو له یوه سازمان سره مخکې کار کړی و او په اضطراري لویه جرګه کې د ښځینه استازې په څیر غړې وه، چې په ۲۰۰۲ کې یې د افغانستان مؤقت حکومت تعیین کړ. دې راپور وکړ چې خپل کمپاین یې په عمده ډول په کابل کې د هندوانو په ټولنو کې متمرکز کړی و، چې په افغانستان کې لکه د دوي مسلمانو هیوادوالو په څیر په ګرځیدو را ګرځیدو او د ښځو او نارینه وو یو ځای کیدو ورته ټولنیز محدودیتونه لګوي. د کابل له ښار څخه بهر د هغې په وینا، هغې په خپلو ملګرو او همکارانو تکیه کړې وه، چې د دې پیغامونه یې خپرول که څه هم دې ویلی دي چې د همکارانو په وړاندیز یې د سروبي په نا ارامه ولسوالي کې یوې غونډې ته تللې وه. که څه هم دې په ښکاره ومنله چې د ولایت له نورو برخو سره نا اشنا ده، ځکه چې د هغې کار او زده کړې د کابل په ښار پورې محدود وه. خو په پای کې داسې معلومیږي چې هغه و نه توانیدله چې د کابل د ښار د هندو او سیک ټولنې څخه بهر پرمختګ وکړي او دا یې څرګنده کړه چې د مدني ټولنې د یوې غړې په حیث او د لږکیو د ټولنې د استازې په توګه و نه توانیدله، چې د کورنیو، قومي او د ټولنې له اړیکو سره مبارزه وکړي، چې نور نوماندان یې بریالتوب ته رسولي وه او په دې ذریعه یې سرچینې او ملاتړ تنظیم کړی و.

د زرغونې قضیه، چې د ۲۰۰۹ کال د ولایتي شورا په ټاکنو کې یوه سیالي کوونکې بایلونکې وه، د ډیرو مختلفو دلیلونو له مخې د پام وړ ده. په څرګند ډول هغې په کمپاین کولو کې برخه واخیسته او بې له دې چې مشخص رایه ورکوونکي په نظر کې ولري یا قومي او حزبي اړیکې ولري او یوازې له خپلې محدودې کورنۍ سره– د نهو ماشومانو په ګډون، چې د هغې تر شا ولاړ وو، و یې کولای شو، چې په خپل شخصي لګښت او کمپاین سره زیات شمېر رایې وګټي او سره له دغو نیمګړتیاوو یې وکولای شو، چې د یو ځواکمن نوماند په څیر ځان ثابت کړي. دې راپور ورکړ چې په تلویزیون کې یې د ټاکنو په خپلواک کمیسیون کې د نوماندانو د قطار له لیدلو وروسته، دې ته وهڅول شوه، چې ټاکنو ته ودریږي. او یوازې خپل میړه چې د پولیسو افسر دی، د خپل عزم څخه له هغه وروسته خبر کړ، چې په رسمي ډول یې ځان معرفي کړی و. په ښکاره ډول ددې انګیزې دا وې چې که چیرې نورې ښځې کولای شي په لوړو پوستونو کار وکړي، نو دا یې هم کولای شي. دغه انګیزې له دغې هیلې سره یو ځای شوې چې «په یوه دفتر کې کار وکړي او ډیرې پیسې تر لاسه کړي» (هغې د خپل میړه له قوله راپور ورکړی چې د ټاکنو لپاره درېدل د دې ارزښت لري، ځکه چې د موفقیت په صورت کې د هغې مالي ګټې ډیرې زیاتې دي).

که څه هم دې راپور ورکړی و، چې یو له نیکونو څخه یې د یوې شورا مشر و، خو خپله کورنۍ یې داسې و نه ښودله، چې له زیات نفوذ څخه برخمنه وي، او دې ته رایه ورکوونکي پیدا کړي. د دې پر ځای دې داسې احساس کاوه، چې خلک به له دې سره ځکه بلدیت ولري، چې په یوه وزارت خانه کې د کار کولو په ترڅ کې له هغوي سره خلکو ته خدمت کړی دی. پنځه لکه افغانۍ (۱۰۴۰۰ امریکایي ډالر) چې هغې په کمپاین کې لګولې وو، د بانک له یوه پور څخه راغلي و (هغې پلان درلود چې دغه پیسې په یوه کور باندې مصرف کړي، هغې زیاته کړه:

> دغه پیسې په ترانسپورت، خوراکي توکو، ناشتو، د انځورونو په چاپولو، زما، زما د خاوند او کمکیانو په نویو جامو مصرف شوې. هر ځلې چې ما له کابل څخه بهر سفر کړی دی، ما د مختلفو رنګونو موټر په کرایه نیولي. څرنګه چې زما میړه د پولیس افسر و،

> هغه وسلې راوړي او زما ماشومانو هغه واخیستې او د ساتونکو په څیر یې زما ساتنه کوله... کله چې زه کمپاین ته ولاړم زه د محلي خلکو په څیر نه معلومیدم... زه د یوې ښځینه سیاسي شخص په حیث بریښیدم، زه واقعا د یوې ځواکمنې ښځې په څیر معلومیدم... او هر ځای ته به چې تلم، زما خاوند به د چایو او بسکیټو لپاره ځایونه برابرول.

د دې تګلارې په اختیارولو سره زرغونې په بامیانو کې د نوماندې صیفورې ایلخاني څخه ځان تفریق کړی و، صیفورې د منل شویو ښځینه ځانګړنو لکه ریښتینوالی یا تواضع په اختیارولو سره هڅه کړې وه، څو غښتلي رقیبان، چې بسیا منابع یې درلودل، تر شا پریږدي. د دې پر ځای زرغونې کوښښ کړی و، چې په کمپاین کې ټول دودیز سمبولونه خپل کړي او هڅه یې وکړه چې خپل ځان د یوه حمایت کوونکی یا د خدمتګار په حیث د ځواک او شتمنۍ د ښکاره کولو له لارې، معرفي کړي. سره له دې، چې دغه تګلار په بسیا ډول اغیزناک ثابته شوه، چې دا یې د یوې سیالي کوونکې نوماندې په څیر معرفي کړه، خو د هغې د بریالیتوب لپاره کافي نه وه. په داسې حال کې چې ښایي هغې سیاسي چارواکي تر خپل نفوذ لاندې راوستي وای، خو د دې موقف د یوې نا پیژندل شوې ښځې په څیر چې کورنۍ اړیکې یې هم معرفي نه وې، د دې لامل شو، چې زیاتو رایه ورکوونکو ته یې قناعت ور نه کړای شو. نوموړې یاده کړه، چې د عامې روغتیا په وزارت کې د واکسیناسیون په چارو کې د هغې پخوانی کار باید د دې لپاره رایه ورکوونکې پیدا کړې وي، که څه هم د خپل تاریخ دغه برخه د خپل کمپاین په وینااوو کې نه و یاد کړی، نو معلومه نه ده، چې ایا هغې په ټول هیواد او که په یوه کلی کې کار کړی و، دغه فعالیت د هغې لپاره کافي و چې هغې ته د نورو لپاره د یوې خدمتګارې نوم ورکړي لکه څرنګه چې د صیفورا ایلخاني لپاره یې یو اضافي ملاتړ برابر کړی و.

د حیرانتیا خبره نه وه چې په کابل کې پنځه تنه نا مؤفقو نوماندانو چې دبرې رایې یې بایللې وې دومره زیاتې مالي منابع، سیاسي ملاتړ یا په ټولنه کې اړیکې نه درلودې لکه څومره چې مؤفقو نوماندانو درلودې. دوو تنو- انیس ګل او پروین سعادت- د خپل ژوند زیاته برخه د ښوونکو په څیر تیره کړې وه، که څه هم وروستۍ د مشرانو جرګې په اداري دفتر کې هم یو وخت کار کړی و. دوو نورو- شمسیه او فهیمه- له غیر حکومتي دفترونو سره کار کړی و او یوې بلې- مکۍ جان- له خپل میړه سره یو ځای یوه ساختماني کمپنۍ پر مخ بېوله.

په مالي لحاظ د دغه ګروپ ډیری غړو د خپلو میړونو یا ورونو له خوا تقویه کیدلې؛ فهیمې ویلی و چې له یوه کوچني خپلواک سیاسي ګوند څخه یې کمه اندازه پیسې تر لاسه کړی او مکۍ جان په خپله شتمنه وه ځکه چې د بزنس خاونده وه او د کورنۍ اړیکو هم نقش درلود. مکۍ جان او پروین دواړو ویلی دی. چې پلرونه یې په سیاسي لحاظ فعاله وو، خو د دواړو پلرونه څه وخت د مخه وفات شوي وو او په دې ډول دوي د رایې ورکوونکو په بسیج کولو کې له یوې ارزښتناکې منبع څخه محروم شوې وې.

د پام وړ خبره ده چې د دې ګروپ دریو کسانو له هیڅ یوې مشخصې ټولنې یا انتخاباتي حوزې سره اړیکې نه درلودې. فهیمې چې په ۲۰۰۵ کې د پارلماني ټاکنو لپاره ولاړه وه ویلي دي چې دې تر هغه وخته پورې په پېښور کې د ښځو لپاره له یوې خیریه موسسې سره کار کوه چې د ټاکنو وخت اعلان شو او ځکه دې کافی وخت نه درلود چې د هیواد په دننه کې ځان معروف کړي. مکۍ جان هم د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې په خپل ولایت کې بېرته پاتې شوه، چې تر زیاتې اندازې پورې یې په خپله ټولنه کې د خپلې کورنۍ په نفوذ باندې تکیه کوله. که څه هم، د هغې د کورنۍ نفوذ په ښکاره ډول تر کابل پورې نه و غځیدلی، خو دا بیا هم د ۲۰۱۰ ټاکنو ته ودربده. څرنګه چې دې پیژندګلوي نه درلوده او قومی منبع یا د ټولنې ملاتړ نه و ورسره ځکه یوازې دمره وتوانیده چې د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې د ټولو رایو یوازې یوه ډیره کوچنۍ برخه د ځان کړي. په دې لحاظ شمسیه هم له ورته وضعې سره مخامخ وه. دې د خپل ژوند ډیره برخه په معارف کې او له غیر حکومتي موسسو سره او له کابل ښاروالي سره په کار او فعالیت کې تېره کړې وه، په ۲۰۰۹ کې د ولایتی شورا لپاره په ټاکنو کې ودریده او تر ډیره حده یې د خپلو ملګرو او همکارانو په مرسته، چې د دې لپاره یې کمپاین کاوه، تکیه کوله. له ناکمي څخه وروسته دا خپل ولایت ته ستنه شوه او هڅې یې وکړې چې د ۲۰۱۰ پارلماني ټاکنوته د تیاري لپاره له خلکو سره له نږدې کار وکړي. خو له ډیره وخته وروسته، بېرته ولایت ته د ستنیدو په وخت کې هغې ته د یوه بیګانه شخص په سترګه کتل کیدل او ویلی یې دی چې د کمپاین په وخت کې د محلي قوماندانو او محلي مشرانو له بې تفاوتي او کله هم له ښکاره دښمني سره لاس او ګریوان وه. کله چې پایلې اعلان شوې، د ټولو رایو اندازه ډیره تر هغې اندازې کمه وه چې دې په کابل کې تر لاسه کړې وې، چیرې چې دې یوه اندازه شهرت کسب کړی و او د پلویانو یوه قوي شبکه یې درلوده.

د دوي په پرتله انیس ګل او پلوشې ویلی دي چې د دوي کمپاین د دوي تر خپلو ټولنو پورې محدود پاتې شوی او د خپلو دوستانو او خپلوانو په مرستو او ملاتړ یې تکیه کوله چې د دې لپاره یې د ولایت په نورو برخو کې کمپاین کړی دی. سره د دې هم، نه دغو دواړو بایلونکو نوماندانو او نه په کابل کې بل نا موفقه کاندید (د دوو سیالي کوونکو قضیو په ګډون چې پورته ور باندې بحث وشو) د دې راپور ورکړی چې د دوي په قوم کې د ټولنې له مشرانو او مخورو کسانو سره مؤفقه اړیکې درلودلي ي. که څه هم مکۍ جانې او شمسیې دواړو یادونه کړې ده چې د کمپاین په وخت کې یې په خپلو ولایتونو کې ملایانو او مذهبي مشرانو د ملاتړ د جلبولو هڅې کړې دي، خو په نا اشنا سیمو کې دغو هڅو نتیجه نه ده ورکړې لکه څنګه چې شمسیې توضیح کړه.

> زما د کمپاین په موده کې یوه ملا له ما سره ژمنه وکړه چې زما لپاره به کمپاین کوي. له هغه وروسته زه ډیر خوشحاله شوم او ورته مې وویل چې زه په دې ډیر ویاړم چې هغه له ما سره کار کوي او زه یې ډیر تقدیروم... بیا ما هغه ته یو جای نماز او یوه جوړه تسبیح واخیستې.... بیا هغه زما په اړه له خلکو سره ډیرې خبرې کړې. هغه وویل چې زه یوه ډیره صادقه او زحمت کشه ښځه یم او په راتلونکی کې به زه د غریبو خلکو غم خورم. هغه ډیر خلک وهڅول چې ما ته رایه راکړي. خو څو ورځې وروسته دې بېرته راغي او ما ته یې وویل چې ده زما لپاره ډیر کار کړی دی نو باید ده ته درې سوه ډالرورکړم. ما ده ته وویل چې زه پیسې نه لرم چې ده ته یې ورکړم نو بیا دې ولاړ. بیا دې بېرته ته ووت او محلي خلکو ته یې وویل چې «دا ښه ښځه نه ده او د غریبانو خیال نه ساتي. که دا ټاکنې وګټي بیا به غلا کوي او له خلکو سره به خیانت وکړي.

دغه خبرې د دې امکان څرګندوي چې د ملایانو یا مذهبي مشرانو ترمنځ په ټاکنو کې د ښځو د ګډون په اړه د ایډیالوژیکي بنسټونو له مخې «مخالف» یا «پلویان» شته، خو ډېرى داسې کسان هم شته چې دې ته تیار دي چې له خپل موقف څخه د اخلاقي حامیانو په څېر د خپلو شخصي ګټو په موخه په عملي ډول استفاده وکړي. د پام وړ خبره ده، چې د انارکلي هنریار څخه پرته په کابل کې د ناکامو نوماندانو څخه یوه تن هم داسې هڅې نه دي توضح کړي چې له ښځینه رایه ورکوونکو سره یې کار کړی وي.

په پای کې باید یاده شي چې د کابل او بلخ په ولایتونو کې دواړو ګټونکو او بایلونکو نوماندانو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ریښتینتوب په اړه پوښتنې رامنځ ته کړې وې، خو تر ټولو زیاته نیوکه د کابل د کاندیدانو له خوا شوې ده چې د رایو اندازه یې هم ډېره کمه وه. لکه څنګه چې پخوانیو څېړنو څرګنده کړې، د درغلیو موجودیت د ناکامي د یوه عامليه حیث یادول په افغانستان کې یو ګډ عمل ګرځیدلی او د داسې یوې وسیلې کار ورکوی چې زیانمن شوي سیاسي اعتبار بېرته ترمیم کوي یا په دې ذریعه له چارواکو څخه اعتراف واخلي، سره له دې چې څواک ته د رسیدو رسمي لارې بندې وي. په دې که هم شک نشته چې درغلي په هغو ښځینه نوماندانو یوه ژوره او غیر متناسبه اغیزه لري چې د ټاکنو د څارنې لپاره زیات شمېر ناظرین نه شي استخداملی او یا نه شي کولای چې پخپله دغه دنده ترسره کړي. که څه هم د هغو کاندیدانو په قضیو کې چې یوازې څو سوه رایې یې ګټلې وې، تر یوه حده د ردولو احتمال موجود دی:

> ما باور درلود چې ګټونکې یم. خو له بده مرغه کله چې پایلې اعلان شوې، نتیجې بدلې وې. یو څه شی د پردې شاته پیښ شوی او ما وبایلله.
>
> — انیس ګل، د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې ناکامه نومانده، د کابل ولایت

> کله چې زه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون دفتر (د فساد په اړه شکایت) ته ولاړم دوی ما ته وویل چې د اثبات لپاره سندونه غواړي. مګر تاسې قضاوت کولای شې، ښکاره خبره ده چې که دوي دا پولکارونه کوی نو له نظره پټ یې کوي، نو ما نه شو کولای چې یو سند هم پیدا کړم.
>
> — مکۍ جان، د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې ناکامه نومانده، د کابل ولایت

> د ټاکنو خپلواک کمیسیون له کاندیدانو سره درغلي کوي، د هغوي رایې له نظره غورځوي او په نورو نوماندانو یې خرڅوي. د ټاکنو په ورځ ما ډېرې تر لاسه کړې [څه شي چې دې ته ورته شاره کړه باید د سیالیو په نتیجه کې یو شمېررایې وي] او ما د ولایتی شورا په ټاکنو کې ډېرې پیسې نه دي لګولې. دا د ټاکنو د خپلواک کمیسیون غلطي وه، دوی ستونزې جوړې کړې، دوي له ډېرو نوماندانو څخه غلا وکړه او له هغو سره یې خیانت وکړ.
>
> — شمسیه، د ۲۰۰۹ کال د ولایتی شورا په ټاکنو کې ناکامه نومانده، کابل ولایت

دغه ډول شکایت نه باید له دې حقیقت سره تړاو ولري چې هغه ښځینه نوماندانې چې منابعو ته لاس رسي لري او یا ښې اړیکې لري پخپله د دې ډول درغلیو د کولو توان لري – لکه څنګه چې څینو بایلونکو او ګټونکو کاندیدانو ادعا کوله، چې د دوي ځینو رقیبانو ترسره کړې دي.

## د بلخ ولایت

د کابل په پرتله د بلخ په ولایت کې د نوماندانو شمېر د پارلماني او ولایتي شوراګانو په دواړو دورو کې په نسبي ډول ثابت پاتې شوی و. خو دې خبرې په ضروري ډول ورته پایلې نه دي رامنځ ته کړي. د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې د ډېرو کمو رایو ګټونکو او د ډېرو رایو بایلونکو نوماندانو ترمنځ د رایو توپیر د څو سوو رایو په شاوخوا کې و، په داسې حال کې چې د ۲۰۰۵ په ټاکنو کې تر ټولو د کمو رایو ګټونکې ښځینه نوماندە د خپل رقیب څخه د دریو رایو په ګټلو مخکې وه.

په عمومي ډول، سیاسي ژوند د بلخ په ولایت کې له ډېرو جهتونو څخه د نورو ولایتونو په پرتله په یوه تړلي چاپیریال کې جریان لري. د دغې څېړنې او د اریو د نورو څېړنو د مرکه کوونکو په نظر والی عطا په دې ولایت کې د سیاسي څواک کنترولونکی دی – حتی په اصطلاح د دیموکراتیکو ټاکنو په وخت کې هم. عطا دغه کار د سیاسي شبکو د انحصار له لارې سرته رسولی، چې رایې ورکوونکي یې بسیج کړی و – د مثال په ډول د ولسوالانو د ګمارلو له لارې او یا له قومي مشرانو سره د هغه د پلویانو اړیکې – او د اقتصادي ګټو له لارې چې کولای شوای ښې مالي مرستې برابرې کړي او په مزار یا نورو ځایونو کې د راپورونو له مخې د قرار دادونو د ورکولو له لارې. که څه دا د دې مانا نه لري چې د عطا له مرستې څخه پرته د ټاکنو ګټل ناشونې و خو رایه ورکوونکو او نوماندانو دواړو فکر کاوه، چې په ټاکنو کې کامیابه کیدل د هغو کسانو لپاره ډېر اسانه و، چې د ده د خوښې په کړۍ کې شامل و.

### ګټونکې نوماندان

په ټولیز ډول په پارلمان کې له بلخ څخه له ۱۱ موجودو استازو څخه ۷ تنه یې په یوه ډول د عطا د جمعیت اسلامي له ګوند سره تړلي دي. په دې ټولګه کې صیفوره نیازي او برېښنا رابعي – د بلخ ولایت له دریو ښځینه پارلماني استازو څخه دي. د دې دواړو ښځو پارلمان ته له راتګ څخه مخکې د مزار په ښار کې په ښوونځیو او پوهنتون کې د تدریس اوږدې تجربې درلودې. رابعي د خپل کمپاین او له ګوند سره د هغې د اړیکو په اړه ډېر نا څرګند معلومات ورکړل او په دهدادي کې مرکه ورکوونکو د دې په اړه مختلفې نظریې درلودلې چې ایا دا د یوې ښوونکې د نوم درلودلو له کبله کامیابه شوې وه او که د هغې د کورنۍ معروفو قوي اړیکو په دې برخه کې رول درلود. د دې پر خلاف نیازي په دې اړه څرګندې خبرې وکړې او توضیح یې کړه، چې د هغې اړیکې له جمعیت سره د شوروي اشغال پر مهال ټینګې شوې وې او دا یې ومنله چې په ټاکنو کې د هغې په موفقیت کې د دې ګوند او والی عطا ملاتړ ډېر مهم نقش لوبولی

دی. یوې له دغو نوماندانو څخه هم و نه ویل چې له کومو ګواښونو سره مخامخ شوې دي که څه دا ګواښونه په امنیتي یا مالي وضعه پورې تړلي وه (که څه هم یوې شکایت وکړ، چې بلې ښځینه پارلماني غړې له خوا د ټاکنو څخه وروسته په مکرر ډول توهین شوې ده)؛ دوي همدغه راز د دې خبره نه ده کړې چې د خپل ځای په انتخاباتي حوزه باندې یې زور اچولي او یا یې د کمپاین پر مهال ښځې د یوه هدف په څیر په پام کې نیولې وې.

د جمعیت د دوو پارلماني غړو ترڅنګ یوه بله ښځینه نومانده ګلالۍ نور صافي وه. که څه هم هغې خپل ځان د یوې خپلواکې نوماندې په څیر معرفي کړ، خو د دې اړیکې د محاذ ملي د مجاهدینو له ګوند سره اړیکې درلودې چې په عمده ډول له پښتنو څخه جوړ شوی دی. د دې پلار ظاهر شاه د رژیم په وخت کې له بلخ څخه په پارلمان کې استازی و او د محصلي په وخت کې د افغانستان د خلق له دیموکراتیک ګوند سره یو ځای شوې وه او وروسته یې د ښځینه ډاکترې په حیث کار کړی او څو کلونه یې په جرمني کې تیر کړي دي (په خارج کې د دې وخت تیرول په پارلماني ټاکنو کې دیوې بایلونکې نوماندې له خوا د داسې نښانې په حیث وګڼل شوه چې د بلخ د خلکو له ګټو سره لیوالتیا نه لري او هغوي نه پیژني). د دوو ټاکنیزو موفقو دورو په اړه د بحث کولو په ترڅ کې دې احساس کاوه چې د ډاکترې په حیث د هغې شهرت او پښتون قوم د پراخ ملاتړ له امله دا موفقیت ته رسیدلې ده. د جمعیت د ګوند د نورو غړو په خلاف دا په دې عقیده وه، چې تجارتي او سیاسي ګټو په دغه ولایت کې دیموکراتیکه پروسه تر کنټرول لاندې نیولې وه. په ځانګړی ډول دې توضیح کړه، چې هغه دې ته اړ شوه چې د کمپاین یوه اوږده دوره ووهي ځکه چې د دې په خپله ولسوالي کې د پښتون قوم له خوا پراخ ملاتړ موجود و، خو دغه ولسوالي په مرموز ډول له ټاکنو څخه مخکې نا امنه شوه– دغه پیښه د دې په عقیده د هغې د سیاسي مخالفینو د مداخلې پایله وه.

په دې څېړنه کې هغه شمېرې او معلومات ناڅرګند پاتې شول، چې څرنګه د ولایتي شورا لپاره ښځینه نوماندانو د عطا د سیاسي جوړښتونو سره څنګه مراوده درلودله. د ولایتي شوراګانو د دواړو دورو له هغو غړو سره چې مرکې ورسره شوې وې غوښتل چې له سیاسي ګوندونو څخه فاصله ونیسي او یوه هم نه غوښتل چې د دوي په سیاسي اړیکو کې ولویږي. یوه غړې محبوبه سعادت د دهدادي له ټولنې څخه وه، چیرې چې هغې د یوې ښوونکې په څیر کار کړی و. هغې وویل چې د یوې سیدې په څیر د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې د خپل قوم د مشرانو له خوا ټاکل شوې وه، چې ورسره یو بل نارینه نوماند هم و، خو په نتیجه کې دې بایلوده. که څه هم هغې په ټول ولایت کې حتی په نا ارامو ولسوالیو کې هم د رایو د ګټلو راپور ورکړی و، خو په ښکاره باندې دا احساسوله چې دا په اصل کې د دهدادي د ټولنې له خوا ټاکل شوې او د هغې استازیتوب کوي. سره له دې هم د نورو ټولنو سره په پرتله چې له کاندیدانو سره یې اړیکې درلودې په دهدادي کې مرکه ورکوونکو په نسبي ډول د دې په اړه لیږ څه وویل. یوه سړی ډیر زیات مثبت نظریات درلودل او یې ویل چې د ټولنې سره د هغې اړیکه ډیره نږدې وه؛ یوې بلې ښځې مرکه ورکوونکې د هغې په اړه ښې خبرې نه کولې او د یوې ځواکمنې کورنۍ او د خپل قوم ګوډاګۍ یې وبلله چې له ټاکنو څخه وروسته بیا معلومه نه شوه؛ نورو مرکه ورکوونکو د دې په اړه هیڅ و نه ویل. دغو نظریاتو څرګنده کړه چې د دهدادي ټولنه په ټولنیز لحاظ څومره ویشلې ده. او په دې ټولنه کې چې له ښار څخه لیږ لیرې پرته ده، مختلفې قومي ډلې ژوند کوي، چې مشخص واحدونه دي او په یو بل باندې بد ګمانه دي. په دې شرایطو کې سادات په ښکاره ډول نه شو کولای چې داسې یو شهرت او ملاتړ تر لاسه کړي، چې د ګردې ټولنې له خوا د تایید وړ وي، لکه څرنګه چې په هم شکلو کلیوالي ټولنو کې موجود وي، د مثال په ډول لکه د بامیانو ولایت.

د پام وړ خبره ده، چې د ولایتي شورا بلې غړې، شکیبا شکیب په کابل کې د شینکۍ کړوخیل څخه پرته یوازینۍ نومانده وه، چې د خپل کمپاین په دوره کې یې په ښکاره ډول د ښځو ترمنځ د ښځو د پلوی پر یوې تګلارې ټینګار کاوه. هغه پخوانۍ ښوونکې او په تجارت کې ښه لاس درلود چې د خپلې کورنۍ څخه یې زیاتې مالي مرستې ورپاتې وې، د ۲۰۰۵ په ټاکنو کې ودریده او و یې بایلوده. په لومړی سر کې یې د خپلې کورنۍ د نارینه خپلوانو له غوښتنې څخه خلاف فعالیت پیل کړ. د ۲۰۰۹ په ټاکنو کې له بریالیتوب وروسته هغې څرګنده کړه، چې څنګه یې د زیاتو لګښتونو مخه په دې ذریعه ونیوله چې د ښځو ترمنځ یې کمپاین پیل کړ او د لویو غونډو، مجللو میلمستیاوو څخه مخنیوی وکړ، چې په ولایت کې یې په عموم ډول له نوماندانو څخه تمه کیدله. دا یوازینۍ نومانده وه چې هغه هڅې یې په ډاګه کړې چې د ښځو ترمنځ یې د جنسیت په بنیاد د اتحاد احساس ته وقف شوې وې او د نارینه وو په خلاف د ګروپ په حیث د دوي په مجموعي ګټو باندې ټینګار کاوه. په دې کار سره هغې د دې هڅه هم کړې وه، چې له قومي یا د ټولنې له تقسیماتو څخه را ووځي او یو پراخ کمپاین یې پیل کړی و چې د خپل کور کلي یادونه په کې نه وه شوې:

> کله چې یوه ښځه د کالیو په مینځلو اخته وه، زه هغې ته د مرستې لپاره ورغلم چې همدردي ورسره وښایم. کله چې ښځو ډوډۍ پخوله ما هم له دوي سره یو ځای ډوډۍ پخوله. په دې ډول ما د دوي پام ځان ته جلب کړ. یوه ورځ زه د کمپاین لپاره د ترکمنو سیمې ته لاړم. یوې ښځې د څلویښتو ورځو ماشوم درلود او زموږ لپاره یې چای برابراوه او په دې وخت کې یې میړه هلته په کور و. کله چې هغې موږ ته چای راوړ ما ورته وویل، ولې ستا میړه مرسته نه کوي، ته د څلویښتو ورځو یو ماشوم لرې که دی کمک وکړي، زه به له تا سره یو ځای چای وڅښم.
>
> کله چې زه په کمپاین اخته وم، ما په ټولنه کې ښځو ته وویل چې دوي باید نورو ښځو ته رایه ورکړي، ځکه چې دا په رښتیا د ښځو لپاره یو ډیر ښه فرصت و، څو پرمختګ وکړي. ما دوي ته ویل: "که چیرې کلنتر ملک [دواړه د ټولنې مشران] و وایي، چې یوه نارینه ته رایه ورکړئ، تاسې باید موافقه وکړئ، او کله چې تاسې انتخاباتي حوزې ته لاړې شي، تاسو باید ښځو ته رایه ورکړئ، ځکه چې دا د تاسو لپاره یو ښه فرصت دی.

له نورو څېړنو پرته ناشونې ده، چې ووایي د هغې موفقیت څومره د دې روش نتیجه وه او څومره نور عوامل په کې شامل وو، چې بحث نه دی ورباندې شوی. خو سره له دې په دغه څېړنه کې زیاتو نوماندانو په سیاست کې د ښځو په برخه اخیستنې باندې مختلف نظریات ورکړي دي، دې تر ټولو زیات په دې اړه ښکاره او سیستماتیک نظریات درلودل او څرګنده یې کړه چې څرنګه یې دغه نظریات عملي کړي او یوازینۍ نومانده وه چې خپل موفقیت یې د ښځو د ګټو په راپورته کولو سره تر لاسه کړی دی.

### بایلونکي نوماندان

له دریو بایلونکو نوماندانو څخه د بلخ په ولایت کې له دوو سره مرکه شوې، چې ورته سابقه یې درلوده او ورته تجربې یې کړې دي. یو د پارلمان او بله د ولایتي شورا نوماند وه، دواړه ښوونکې او پخوا یې غیردولتي موسسو سره دندې ترسره کړي؛ دواړه یې لیږ منابع په اختیار کې درلودې چې له خپلو معاشونو او د هغوي خاوندانو له محدودو پانګو څخه هاخوا نه وې؛ دواړو ویلی دي چې د خپلو کورنیو او دوستانو له خوا یې ملاتړ لیدلی دی؛ دواړو وکولای شو، چې په ټاکنو کې د ګټونکو نوماندانو ته نږدې رایې وګټي او دواړه په دې باور وې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو پروسه له درغلیو سره ملې وې.

د ولایتي شورا نوماندې مینې وویل چې د ټاکنو لپاره دریدل د یوې خوا هغه ارزو وه چې د خپل مرحوم پلار هیله پوره کړي چې دې ویل یو قوي نظامي قوماندان و. دې زیاته کړه، چې څرنګه یې هڅه کړې وه، چې د رایه ورکوونکو پام ځان ته په دې ډول واړوي چې د هغه شخصیت په خپل کمپاین کې وګواښي «یا یې باید یوسم یا مړ شم». په عمل کې هغې ډیرې کمې سرچینې او اړیکې درلودې، څو خپلې دغې ارزو ته ورسیږي، یوازې دومره پیسې یې درلودې چې د ټکسي کرایه ورکړي؛ تر ډیره حده د هغې دوستانو او خپلوانو د دې لپاره کمپاین کاوه او په دې قادره نه وه چې د عامو خلکو په نظر کې هغه ضروري قوت وښایي چې د دې شهرت د رایه ورکوونکو له نظره د یوه قوماندان په څیر ثابت کړي.

د پارلمان لپاره د بایلونکې نوماندې کاوکه، د هغې کورنۍ د ټاکنو لپاره د دې په هڅولو کې رول درلود. خو په دې قضیه کې دا د خپلې خسرګنۍ په واسطه تشویق شوې وه، که څه هم په لومړی سر کې د دې خسرګنې په دې باور نه درلود چې ګواکې هغه به سیالي وکولای شي. څرنګه چې د ۲۰۰۹ د ولایتي شورا په ټاکنو کې د دې د میړه له خپلوانو څخه یوه تن په ټاکنو کې سخته ماتې خوړلې وه، دا ښایي د دې خسر یوه هڅه وه چې غوښتل یې خپلې سیاسي غوښتنې تحمیل کړي چې د لیبرالیزم او د رایه په پانه باندې د ښځو له تصویرونو سره یو مخالف فکر و. له دغې څه نا څه ناڅرګندې اوضاع سره یو ځای دا حقیقت هم ملګري و، چې د دې خسرګنۍ دا منع کړې وه، چې په نادولتي موسسه کې کار وکړي او اندیښنه یې دا وه چې دا به چادري اغوستل پریږدي او د هغې لیورونو هغه ګواښلې وه، چې د کمپاین پر مهال یې ووژني.

کاوکه چې له خپلې کورنۍ څخه یې ډیر مالي ملاتړ نه درلود هم یوازینۍ نومانده وه چې د سوداګرو څخه یې د مرستې د اخیستلو په اړه خبرې کړي. که څه هم دا په پای کې پوره ډاډمنه نه وه چې ایا د دې مرستو ګټې به له هغه ګواښ څخه زیاتې وي چې د یوې ښځې په څیر دا ورسره مخامخ کړې وه:

> که چیرې تیر وخت را په یاد کړم، فکر کوم، چې دغه ډول مرستې په ځانګړي ډول د ښځینه نوماندانو لپاره مهمې نه دي. څرنګه چې زموږ خلک ډیر غریب دي، او له ښځینه نوماندانو څخه ډیرې تمې لري، که چیرې یو سړی له یوې ښځینه نوماندې سره مرسته وکړي، خلک د هغې په اړه خبرې کوي. دوی وایي، «ولې هغه له هغې سره مرسته کوي؟ د دوي ترمنځ څه ډول اړیکه موجوده ده؟»

لکه څرنګه چې په ۲.۳ برخه کې تر بحث لاندې راغلې ده، د ښځینه نوماندانو موجودیت په عمومي محضر کې کولای شي چې د ښځو په د بې قیده جنسي اصولو په اړه زیان رسوونکو اوازو ته لار پرانیزي.

د بلخ په ولایت کې د وروستۍ بایلونکې نوماندې صدیقې قضیه په دې څیرنه کې د خپل ډول لومړنۍ قضیه وه، ځکه دا په ښځو کې یوازینۍ مثال و، چې څنګه هغه پخپله خوښه د یو لوی سیاسي ګوند هدفونو ته د خدمت لپاره ګمارل شوې وه. څرنګه چې په مخکینۍ څیړنه کې مستند شوې وه، د افغانستان سیاسي ګوندونو په ځینو قضیو کې ډیرې هڅې کړې دي، چې زیات شمېر ښځینه نوماندانې جلب کړي او له هغوي څخه د داسې وسیلې په څیر استفاده وکړي، چې د ښځو د ونډې لپاره په نسبي ډول د رقابت له ټیټې سطحې څخه زیاته ګټه پورته کړي او د هیواد په انتخابي ارګانونو کې زیات نفوذ وساتي؛ د دغې نوماندې د کمپاین فعالیتونه د دغه هدف یو ښه مثال ګڼل کیدای شي.

د صدیقې میړه یو نالوستی سړی دی او بې کاره دی، دې د هیواد په نورو برخو کې د نادولتي موسسو سره کار کړی دی او په خپلواک ډول داسې منابع او ملاتړ نه لري چې په کار یې واچوي. خو دې له ګوند سره اته کاله د یوې فعالې او وفادارې غړې په حیث کار کړی و. کله چې د ۲۰۰۹ کال د ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د نومونو ثبتول پیل شول، هغې وویل چې د ګوند له مشرتابه له خوا دې ته شخصا تیلفون وشو او غوښتنه ورڅخه وشوه، چې د دوي د نوماند په حیث ټاکنو ته ودریږي. وروسته له هغه چې ۲۰۰۰ ډالر یې د لګښتونو لپاره تر لاسه کړل دې وویل، چې د نورو مرستو ژمنه هم ورسره شوې وه، خو د ګوند اداري کسانو یو څه اندازه پیسې د خپل ځان لپاره ګرځولې وې، هغې وړاندې وویل چې له هغه وروسته یې څو اونۍ په دې ولایت کې د ګوند د کاندیدانو له یوه ګروپ سره یو ځای تیرې کړې او د غرمې د ډوډۍ په غونډو کې یې یو ځای خبرې کولې او د امنیتي ځواکونو له خوا ساتل کیدل. خو د ګوند په ټیکټ باندې د ښځینه تصویر له لګولو هاخوا د دې روزونکو هیڅ وخت د هغې لپاره نه و وقف کړی، چې هغې ته د ټاکنو پروسه توضیح کړي او یا د کمپاین ستراتیژي طرحه کړي:

> له بده مرغه ما د ټاکنو په اړه هیڅ معلومات نه درلودل، ځکه ما هیڅوک د خپلې نوماندي په اړه فکر نه و کړ، ګوند یو ناڅاپه له ما څخه وغوښتل چې ځان کاندید کړم، ځکه زه د دې لپاره اماده نه وم، چې په مناسبه توګه کمپاین وکړم او نه پوهیدم چې خلکو ته څه ووایم.
>
> ښایي چې دا یو لامل د دې و، چې زه بریالۍ نه شوم، ځکه چې زه واقعا په ډیره بیړه کې وم.

که څه هم له ټاکنو څخه مخکې دې د ملي دیموکراتیک انستیتوت له خوا روزنیز کورسونه لوستي وو، خو داسې معلومیده چې د هغې د ګوند هغه ارزونه چې له دې څخه د یوې ستراتیژیکي وسیلې په حیث کار واخلي له هیڅ داسې واقعي هڅو سره نه وه یو ځای شوې چې څنګه له هغې د فعالیت څخه ښه ګټه پورته کړه.

## ۳,۲ عمومي تمايلات

### د جندر ابعاد: د دښمنۍ او بې تفاوتۍ په وړاندې غبرګون

دواړه ګټونکي او بايلونکي نوماندان اړ وو، چې له هغو ګواښونو سره مخامخ شي ځان ورسره عيار کړي، چې ښايي په حتمي توګه په يوه مذهبي، محافظه کاره او د نارينه وو تر ولکې لاندې عامه محضر کې د ښځو د کمپاين پر مهال را څرګند‌يدل. په کابل او بلخ کې د ښځو لپاره- خو نه په باميانو کې چې زيات ليبرال دي- د خلکو په محضر کې راښکاريدل د دې مانا درلوده چې د عامو خلکو له دښمني سره مخامخ کيدلې. په عامه توګه دغه دښمني د نوماندانو د کمپاين د پوسترونو په تخريب کولو کې راښکاره شوله (که څه هم بايد ياده شي، چې څلور کانديدانو په مشخصو نارينه مخالفينو پوره ور اچولې وه او په عام ډول يې خلک نه دي ملامت کړي). نورو نوماندانو د پسې شا خبرو څخه شکايت کاوه او هغه سپکاوي يې ياد کړي دي چې دوي د کمپاين پر مهال ورسره مخامخ وې. سره له دې چې په احساساتي لحاظ دغه عمومي انتقادي حالت ګواښونکی و او کيدای شي چې ډيرې شديدې او محسوسې پايلې ولري لکه څنګه چې کاوکه په بلخ کې توضيح کړه: «[يوه بله نوماند‌ه] ډيره ښکلې او ځوانه وه، نو خلکو د هغې په اړه خبرې کولې. يوه وويل چې حتی که دا ټاکنې و هم بايلي او وغواړي چې په پوهنتون کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي، دوي به دا پرې نږدي. ښځې نوماندانې له دغه ډول سپکاوي سره مخامخ وې.»

په عام ژوند کې له ښځو سره د بې تفاوتي دغه کچه کيدای شي ليږ تر ليره تر يوې اندازې پورې په هغه پټ درک کې ريښې ولري چې له مخې يې په سياسي ژوند کې د ښځو برخه اخيسته يو «غير اسلامي» کار ګڼل کيږي. سره له دې هم شمسيه يوازينۍ نوماند‌ه وه، چې په ښکاره يې وويل چې د متعصبو ملايانو له خوا تر بريد لاندې راغلې وه او دغه پيښه هغه مهال رامنځ ته شوه، کله چې هغه په خپل ولايت کې نه په کابل کې په کمپاين کولو بوخته وه. پر دې سربيره، په داسې حال کې چې په ټولنه کې يو شمېر مرکه ورکوونکو د دغه ډول نظرياتو په موجوديت باندې بحث کاوه يوازې دوو تنو په مرکه د هغو يادونه وکړه. څرنګه چې په دې اړه د معلوماتو او شمېرو اندازه کمه وه، نو ځکه يوې مشخصې پايلې ته نه شو رسيدلای، دا څرګندوي وي چې تر څيړنې لاندې ولايتونو کې له ښځينه نوماندانو سره مذهبي مخالفتونه په ښکاره ډول مخ په کميدو دي.

ښايي چې د ټولنيزې محافظه کارۍ په پرتله د نارينه رايه ورکوونکو عمومي شک او ترديد د ښځينه نوماندانو او د دوي د کمپاين په وړاندې په عملي لحاظ نور هم زيان رسونکی او مضر وي. دغه بد ګماني تر يوې اندازې پورې په هغه درک پورې تړلې دی، چې له مخې يې د ښځينه نوماندانو کمې مالي منابع درلودلې او له دې امله به و نه شي کولای چې د نارينه وو استازو په څير په اغيزناک ډول خدمتونه برابر کړي او له بلې خوا د دې عقيدې سره يې تړاو درلود چې ښځې ښايي و نه شي کولای چې د ملي سياست په ډګر کې، کوم چې د نارينه وو تر ولکې لاندې دی، په اغيزناک ډول استازيتوب وکړي. د ښځينه نوماندانو په وړاندې د نارينه وو شک او ترديد په دغو ولايتونو کې د رايه ورکوونکو له خوا تر بحث لاندې و او دوي د دغو ستونزو په اړه خبرې کولې چې د کمپاين لپاره يې د سړيو اعتماد جلب کړي:

> د کمپاين په غونډو کې ښځو په اعظمي ډول پنځه يا شپږ کورنۍ راغونډې کړې وې، دوي د خپلو خبرو لپاره ۲۰۰۰ يا ۳۰۰۰ وګړي نه شو راټولولای. د دوي شمېر محدود و.
>
> — زوړ نالوستی سړی، د ګلدرې ولسوالی، کابل

> د کمپاين په موده کې سړي د ښځو د کمپاين غونډو ته نه دي ورغلي، خو دا ښه خبره وه، چې ښځو د نارينه وو په کمپاينونو کې برخه واخيسته.
>
> — ځوانه لوستې ميرمن، د باميانو ولسوالي، د باميانو ولايت

> ډيرو خلکو د ښځو د کمپاين په انځورونو مسخرې کولې، کله چې دوي هغه په ښار کې وليدل. ځينو يې ويل، چې ښځو خپل انځورونه په کوڅو کې ځړولي، چې دوي خلکو ته بلنه ورکوله څو له هغو سره شپه تيره کړي.
>
> — ځوانه لوستې ميرمن، دشتي برچي، د باميانو ولايت

> زموږ خلک لا تر اوسه هم دا نه مني چې ښځې کولای شي د نوماندانو په څير په ټاکنو کې برخه واخلي.
>
> — لوستي ځوان سړي، د شورتپه ولسوالي، بلخ

په عمومي ډول د اريو د څيړنې ټيم د څيړنې په ساحه کې د غير رسمي کتنو په ترڅ کې څرګنده کړې ده چې په دغو ساحو کې د ټولنې ځينو غړو داسې احساس کاوه، چې که څه هم ښځې د رايې ورکولو حق لري، خو ټاکنې «د نارينه وو او ښځو ترمنځ د سياليو» يوه نا انډوله لوبه وه.

د دريو نوماندانو په وينا دغه مسله د دې حقيقت په ذريعه نوره هم پيچلې شوه، چې د لوړ قشر لوستو نارينه وو ته يې هم سرايت وکړ ځوک چې بايد ښه پوهيدلای. په کابل کې د ولايتي شورا يوه غړی وويل: «زه فکر کوم لويه ستونزه دا ده، چې زموږ لوستي نارينه هم نه غواړي چې د ښځو وضعيت بهتر شي يا په ټاکنو کې برخه واخلي». «دوي زموږ خلکو ته وايي، موږ ديموکراسي لرو او ښځې

کولای شي ګډون وکړي، خو په شخصي ډول دوي وايي، دا ښه نه ده، چې ښځو ته دغه ډول فرصتونه ورکړو– که موږ چیرې هغوي صلاحیت ورکړو، نو موږ به هیڅ وخت د دغو صلاحیتونو پای و نه وینو.» د یوې نړیوالې نادولتي موسسې کارمند زیاته کړه، چې که څه هم ښه تعلیم یافته سړي د ښځو سیاسي برخې اخیستنې حق په خبرو کې مني خو دغه خبرې تل په عمل کې نه دي مراعات شوي. دغه وضعه په دې تمامه شوه، چې د پارلمان غړو د شپې ناوخته غونډې جوړې کړې وې، چې د پارلمان ښځینه غړو نه شو کولای چې ګډون وکړي ځکه چې په تیاره کې د ښځو په تګ راتګ محدودیتونه لګیدلي یا په دې تمامه شوه، چې ټاکنې د کوچني اختر په ورځو کې پلان شوې وې او زیاتره ښځې په دې وخت کې د کورنیو کارونو او دندو سره مصروفه وې.

د ګواښونو دغه ټولګه په څرګند ډول د ښځینه نوماندانو له خوا په دوو مشخصو غبرګونونو تمامه شوه. لومړی غبرګون یې هغه هڅې وې چې د دوي په وړاندې مذهبي یا کلتوري خرافات په دې ډول بې ارزښته کړي چې دوي د کمپاین په موده کې پخپله یو دودیز یا مذهبي دریځ اختیار کړی و. پنځو ګټونکو نوماندانو (عاقله حسیني او صیفورا ایلخاني په بامیانو کې، او فوزیه ناصریار ګلدره یې، انیسه مقصودي او ربابه پرواني په کابل کې) او دوو بایلونکو نوماندانو (فهیمه او مکی جان په کابل کې) ویلي دي چې د خپل هدف لپاره یې د ملایانو او مذهبي مشرانو د ګمارنې هڅه کړې ده او په ځینو قضیو کې یې د کمپاین غونډې په مسجدونو کې ترسره کړې دي څو د زیات مذهبي اعتبار څخه برخمنې شي. شینکۍ کروخیل ویلی دي، چې څرنګه یې (سره له دې چې په کابل کې میشت د ښځو د حقونو پلوی) چې څنګه یې ولسوالیو ته د کمپاین لپاره له کابل څخه بهر ډیرې محافظه کاره جامې اغوستې وې او شکیبا شکیب په بلخ کې هم دا تایید کړې ده چې څرنګه د پارلمان یوې غړې په کابل کې کوښښ کړی او له دې بیرې سره یې مبارزه کړې ده، چې د ښځو سیاسي برخه اخیستنه به په دې تمامه شي چې د دې شعار په غوره کولو به «چادري ځواک ته یوه کړکۍ ده» د ښځو سیاسي برخه اخیستنې به د جندر محافظه کارانه اخلاقو ته زیان ورسوي. مهمه خبر دا ده څو په دې یوه شو چې دغه ډول تګلارې ښايي د مختلفو شیانو مانا ولري که چیرې د بیلا بیلو ښځو له خوا تعقیب شي. د ځینو هغو لپاره لکه کروخیل دغه تګلار شاید یوه منطقي ستراتیژي وي د ځینو لپاره دا ستراتیژي یوه ډیره ژوره عقیده وي، او په ځینو قضیو شاید ددغو دواړو حالاتو یوه ټولګه وي.

په دوهم روش کې هغه هڅې شاملې وې چې هدف یې د ښځینه او نارینه نوماندانو ترمنځ د منابعو او ځواک ته د لاس رسي د توپیر له منځه وړل په دې ډول و چې په ستراتیژیک ډول د یوه رښتوني تصویب ایجاد کړي او د رایه ورکوونکو توقعات تنظیم او اداره کړي. په ټولو ولایتونو کې لسو وړونکو نوماندانو او یوه بایلونکی کاندیاد په دې اړه خبرې وکړې چې دوي ځکه هغه غلطې ژمنې نه دي ورکړې چې دوی فکر کاوه د کاندیدانو په اړه او د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو له ټاکنو وروسته یې په خلکو کې د نارضایتي سبب ګرځیدلې وې. له دغو کاندیدانو څخه ځو تنو یې دا هم څرګنده کړه چې دوي له رایه ورکوونکو سره په تفصیل سره د پارلمان او د ولایتي شورا د نقش په اړه خبرې کړې چې له دې عقیدې سره مبارزه وکړي چې د انتخاباتو مقصد ځواکمنو او شتمنو خدمتګارانو ټاکل دي. د شینکۍ کروخیل او صیفورا ایلخاني لپاره دغه روش دا مانا درلوده چې په عمدي ډول په ټیټه کچه د کمپاین غونډې جوړې کړي او په ټیټه کچه د کمپاین غونډېجوړې کړي او په دې ډول د نارینه وو له خوا لوبې میلمستیاوې او غونډې په ضمني توګه تر نیوکې لاندې ونیسي او هغه په ماهیتکې د پر مصرفه او سوداګریزو هغو په څیر وښیې. تر څیړنې لاندې ټولنو کې خاصتا په یکاولنګ او ګلدره کې شواهد څرګندوي چې په دغه طریقه دا رایه ورکوونکو هغه احساس راوپیښول و چې فکر کوي ښځې ډیرې صادقې دی او لیږ د فساد لوري ته مایلې دي (د ۲.۴ برخه وګورئ).

په دې شرایطو کې، د پام وړ خبره دا وه چې څنګه مرکه ورکوونکو په خاص ډول د ښځو رایه ورکوونکو مرستې تر بحث لاندې نیولې. که څه هم څو تنو نوماندانو لکه صیفورا ایلخاني په بامیانو او فوزیه ناصري ګلدره یې په کابل کې په خپلو ټولنو کې خاص د ښځو لپاره غونډې نه دي جوړې کړي، یوازې عاقلې حسیني په بامیانو او شنکۍ کروخیل په کابل کې او شکیبا شکیب په بلخ کې وویل چې دوي هڅې وکړې له ښځو سره د یوه مشخص ګروپ په څیر چې مشترکې ګټې لري کار وکړي. د دې کار یوه توضیح ښايي له دې حقیقت سره تړاو ولري چې د ښځو د حقونو اجنډا د ډیرو افغانانو په نظر د افغانستان د خلک د دیموکراتیک ګوند او د اوسنۍ نړیوالې مداخلې سرهتړاو لري چې معمولا د داسې بهرنیو هڅو په څیر لیدل کیږی چې د هیواد کلتوري او مذهبي اصلي ځیرې ته زیان رسوي. دغه اړیکه په ضمني ډول د یوه مشر پښتانه له خوا په ګلدره کې څرګنده شوه او و یې ویل:

> ښځې نشي کولای چې د نارینه وو ښوونکې شي، خو سړي کولای شي چې د ښځو ښوونکي شي. د مثال په توګه زه په خپل کلي کې مختلف کارونه کوم او زه دومره مصروف یم چې دغه ټول کارونه په سختې سره سرته رسوم. خوښځې دا کارونه نه شي کولای. لوستو زموږ هیواد وران کړ. د دوي دیری کمونستان وو.

له دې امله ښايي ښځینه نوماندې په عموم ډول زړه نا زړه وي چې د ښځو په پلوی یوه تګلار غوره کړي ځکه دوي د دې ویره درلوده چې احتمالي رایه ورکوونکي به له لاسه ورکړي (دواړو جنسونو څخه) یا کیدای شي د خپلو سیاسي مخالفینو له خوا د افراطیانو یا د بهرنیو د ګوډاګیانو په څیر بې اعتباره نه شي.

سره د دې، د څیړنې لاندې ټولنو څخه ارقام یو بل خند هم څرګندوي: په دې برسیره چې ښځې د کاندیدانو په څیر ښې نه ګڼل کیدې، ډیری سړي په دې قادر نه وو چې د خپلو کورنیوښځینه غړي د سیاسي کارکنانو په څیر و وینې. که څه هم یوازې څو تنو ښځینه مرکه ورکوونکو دې څیړنې ته ویلي دي چې د خپلو سړیو له خوا له رایه اچونې څخه منع شوي دی او یا دوي ته ویل شوی دي چې څنګه رایې واچوي، دغه جریان په دې حقیقت یوه پرده غوړوي چې دوي د هر مقصد لپاره په سیتماتیک ډول له سیاسي ژوند څخه ګوښه پاتې شوي دي. ښځو ډیر ځله په دې اړه خبرې کړي چې سړی په کورونو کې په سیاسي مسالو یا د ټولنې په حوادثو بحث نه کوي. یا دا چې هغوي څنګه دوي له دې څخه منع کوي– یا دا د کور له کارونو څخه نه دي خلاصي شوي– چې د کاندیدانو د کمپاین غونډو یا هغو ورکشاپونو ته ورشي چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د عامه پوهاوي لپاره دایر شوي وو. په دې برسیره، یوازې څو تنو ښځو مرکه ورکوونکو د دې راپور ورکړی چې د شورا په غونډو یا د کلي نا څاپي غونډو کې ګډون وکړی کومې چې نارینه مرکه

ورکوونکو داسې توضح کړی چې د دې لپاره جوړې شوی ترڅو څرګنده شي چې ټولنه به د کوم کانديد تر شا په مشترک ډول درېږي. په نتيجه کې، د دې لپاره څه کول چې د ټولنې د نارينه مشرانو ملاتړ او هغه رايې وګټي چې دوي يې په مجموعي ډول برابروي – لکه څنګه چې د فوزې ناصريار ګلدره يي او شريفه شيرزاد الله داد په قضيه کې په کابل کې د مثال په ډول وشول – ښايي په ټاکنو کې د ګټلو لپاره يو واقعي لار وه تر دې چې له ښځينه رايه ورکوونکو سره په ابتدايي کچه کار شوي.

## د سياسي ګوندونه رول

دغه حقيقت چې له ۱۵ ګټونکو نوماندانو څخه اوو تنو يې له سياسي ګوندونو سره (د بايلونکو نوماندانو په خلاف چې له لسو څخه يوازې دوو) په يوه ډول اړيکې او تړاو درلود، څرګندوي چې د دوي ملاتړ د کانديدانو په مؤفقيت کې يو مهم لامل ګڼل کيدای شي. په خاص ډول د ولايتی شورا ګټونکو نوماندانو اعتراف کړی چې د ګوندونو له خوا مالي مرستې ډيرې مهمې وې او دوي په دې ذريعه وکولای شوای چې په سمه توګه کمپاين وکړي او په بلخ کې له لويو سياسي ګوندونو سره، چې په قومی لحاظ تنظيم شوی وو رابطي شځينه پارلمانی استازو ته په ښکاره ډول دغه ملاتړ ورکړ چې په دې ولايت کې په سياسي لحاظ د ځواک لپاره د جوړې شوې موازنې د برابرولو لپاره مذاکرې او مبارزه وکړي. خو سره د دې، د دې څېړنې لپاره مرکه ورکوونکی په عموم ډول له دغو ګروپونو سره د اړيکو په اړه چپه خوله پاتې شول. په داسې حال کې چې صيفورا نيازي په بلخ کې له جمعيت ګوند سره د خپلو اړيکو په اړه ښکاره خبرې کولې او صديقې د خپل ګوند نا مناسبه هڅې چې غوښتل يې هغه د ستراتيژيکي وسيلې په توګه وکاروي، توضيح کړي، نورې نوماندانې د خپلو ګوندونو سره د اړيکو په اړه يا چپه خوله وې او يا يې د هغو په ښکاره کولو کې ستونزې درلودې:

> زه د افغانستان د ديموکراتيک ګوند غړی يم، خو زه دغه ګوند ته نه وم معرفي شوې چې سياست ته ولاړه شم، زه يوه خپلواکه نومانده يم.
>
> — تورپيکۍ نوابي، د ولايتي شورا غړې، د کابل ولايت

> زه د وحدت ګوند کانديده يم، خو دا د دې مانا نه لري چې زه د دوي لپاره کار کوم، خبره دا ده چې موږ ټول پوهيږو دغه شرايط له موږ څخه خپلواکي اخلي او د يو چا مرستې ته مو اړ باسي.
>
> — انيسه مقصودي، د ولايتی شورا غړې، د کابل ولايت

> زما مېړه د جمعيت د ګوند غړی و... خو زه يوه خپلواکه نوماندا وم [که څه هم له رايې پاڼې څخه معلوميده چې په يوه کوچني سياسي ګوند پورې تړاو لري].
>
> — فوزيه ناصريار ګلدره يي، د پارلمان غړې، د کابل ولايت

> زه د انسجام ملي ګوند غړې وم، خو زه د ګوند له خوا کانديده نه وم، زه يوه خپلواکه کانديده وم.
>
> — صيفورا ايلخاني، د پارلمانې غړې، د باميانو ولايت

که هغه بدبينې په نظر کې وساتو چې ډير افغانان يې د سياسي ګوندونو په وړاندې لري، نو دغه تمايل د پوهيدلو وړ دی، ځکه افغانان هم د کمونستانو د وخت ناروا وې او هم د داخلي جګړو بې نظمي سياسي ګوندونو ته منسوبوي. سره د دې، دغه خبرې د هغو اړيکو په اصلي ماهيت باندې هم پرده اچوي چې د ښځينه کانديدانو او د دوي د سياس ګوندونو ترمنځ موجوده وه په دې مانا چې له دي څخه د دې مرستې په مقابل کې د څه شي تمه او توقع کيده. د دې خبرې د ښکاره کولو لپاره نورو څيړنو ته اړتيا ليدل کيږی.

## امنيت: حقيقت او درک

له ټولو هغو نوماندانو څخه چې د دې څېړنې لپاره مرکې ورسره شوې وې، يوازې عاقلې حسيني په باميانو کې او شينکۍ کړوخيل په کابل کې ويلي دي چې له داسي امنيتی حالت سره مخامخ شوي چې د ژوند لپاره مخامخ خطر په کې و، او په دواړو قضيو کې دوي احساس کاوه چې خطرپه دې ارزيده، ځکه چې د دوي لپاره يې د هغو کانديدانو په پرتله ډيرې رايې راوړي چې دې ځايونو ته نه وو تللي. شمسيې او پلوشې ويلي دي چې د يوه رقيب کانديدد وسله واله کسانو له خوا تهديد شوي او د شپې ليکونه ورته رسيدلي، او ګلالۍ نور صافي له دې څخه منع شوې وه چې په خپله ولسوالي کې کمپاين وکړي ځکه هلته امنيتي وضعه ډيره ناکراره کړای شوې وه. خو له دې سره، له نورو مرکه ورکوونمو څخه يو يې هم د شخصي تهديد خبره نه ده کړي. څرنګه چې تر څېړنې لاندې درې ولايتونه په امنيتي لحاظ په مقايسوي ډول ارامه دي، ښايي دا خبره د ډيرې حيرانتيا وړ نه وي. خو بيا هم، کله چې له دوي څخه پوښتنه وشوه چې د دوي په نظر د ښځينه کانديدانو لپاره تر ټولو لوی ګواښ کوم دی، زياتې نوماندانې په دې نظر وې چې په عموم ډول نا امني يوه لويه ستونزه وه، حتی که شخصا پخپله له داسې ستونزو سره مخامخ شوې هم نه وي. په کابل کې د دوو بايلونکو کانيدانو په قضيه کې د امنيت نشتوالی په دې مانا نه و چې خشونت اميزه تهديد موجود و، بلکه په عموم ډول هغې بې اطميناني ته اشاره کوله چې په نا اشنا سيمو کې له سفر سره ملګري وه، له دې امله مهمه ده چې يادونه وشيچې که څه هم د هيواد په ډيرو برخو کې نا امني د ښځينه کانديدانو لپاره په غير متناسب ډول يو تهديد جوړوي، خو داسې څرګنديږي چې د دې څېړنې لپاره د مرکه ورکوونکو ترمنځ د امنيت په اړه د درک او د دوي د شخصي تجربو ترمنځ يو توپير شته. لکه څنګه چې پخوا وويل شول، د نا امني تهديد کيدای شو د شخصي افرادو يا ګرپونو له خوا چې په حقيقت کې په شورشيانو پورې تړلي نه وي، د يوې سياسي وسيلې په څير وکارول شي چې خپل مخالفين، خصوا ښځې وبيروي.

## روزنه او اړیکې جوړول

د دې څېړنې لپاره د مصاحبه شویو شلو کسانو له ټاکنو څخه مخکې یو ډول روزنه اخیستې وه (پنځه تنه چې ښامل نه و، دوه تنه بې بایلونکي وو). د ۱۶ تنو مرکه ورکوونکو په قضیه کې دغه روزنه د ملي دیموکراتیک انستیټوت له خوا تنظیم شوې وه او له څو تنو سره د ټاکنو د خپلواک کمیسیون، د ښځو د چارو وزارت او نورو نړیوالو او څو اړخیزو سازمانونو مرسته کړې وه. د مرکه ورکوونکو لوی اکثریت چې د ملي دیموکراتیک انستیټوب په روزنه کې شامل وو، وویل چې روزنه مثبته وه او په ځینو حالاتو کې دوي ته وسایل ورکړل شوي وو چې بهر ته ولاړې شي او له رایه ورکوونکو سره کار وکړي. لکه څنګه چې د بلخ ولایت د ولایتي شورا یوې غړې وویل: «دوي ویل چې د تصویرونو ځړول دومره اغیزناک کار نه دی، موږ باید ولاړې شو او له خلکو سره مامخ خبرې وکړو. نو ځکه زه بیلا بیلو سیمو ته ولاړم او ما حتی له چهاربولک او شولګرې څخه [دوه ډېرې نا ارامه ولسوالۍ] رایې وګټلې.»

یو لیږ شمېر شکایتونو د روزنې په وخت باندې زور اچولی و. دریو تنو مرکه ورکوونکو وویل چې د روزنې کورس باید پخوا جوړ شوي وای څو موږ د دې وخت پیدا کړای وای چې هلته زده شوي درسونه عملي کړو او درک کړو چې ایا هغه له افغاني چاپیریال سره موافق او که نه. دریو مرکه ورکوونکو ویل چې روزنه په مناسب ډول له افغاني کلتور سره نه وه عیاره شوې (که څه هم دوو تنو بې په روزنه کې هیڅ برخه نه وه اخیتې او یوازې د نورو خبرې بې اوریدلې وې). له کابل څخه یوه بایلونکي نوماند وړاندې وویل چې اساسي ستونزه دا وه چې داسې تصور موجود و چې افغان ټاکنې به له پلان سره سمې پر مخ ځي: «دوي هغه میتودونه چې په یوه بهرنی هیواد کې کارول کیږي، دلته هم کارولي وو... په افغانستان کې موږ ډېر چلونه او غولونې او درغلۍ لرو. ټاکنې په شفافیت کې نه ترسره کیږي.»

د روزنې ورکشاپونه دغه راز یوازیني داسې ځایونه وو چې مرکه ورکوونکو ویل له نورو ښځینه کاندیدانو سره بې هلته اړیکې ټینګې کړې وې. له دغو ځایونو څخه بهر د ښځینه کاندیدانو ترمنځ مراوده او اړیکې ډېرې کمې وې. مرکه ورکوونکو دا هم وویل چې دوي ښه ګڼله په خپلو ولایتونو کې له نورو نوماندانو څخه ځانونه ګوښه کړي، چې مبادا له دوي سره په څه شریک کولو کې کوم توان و نه وینې. خو په ګوښه کیدو کې دا تاوان هم و چې اړیکې په ډېرو شدیدو سیالیو بدلېدای شوای. خو د دوو مرکه ورکوونکو لپاره د روزنې کورسونو د دې ښه فرصت برابر کړی و چې له نورو نوماندانو سره اړیکې ټینګې کړي او تجربې ورسره شریکې کړي. په کابل کې د ولایتي ښورا د یوه غړي لپاره دې روزنې یوه نایابه موکه د دې لپاره برابره کړې وه چې له ډېرو تجربه کارو پارلماني وکیلانو سره مرادوه ولري او په دې خوشحاله و چې دوي ته بې له تیرو ټاکنو څخه زده شوي تجربې ور انتقال کړی. دغه حادثې ځرګندوي چې د ولایت په کچه په سیاست کې د ښځو ترمنځ د شبکو ایجادول کیدای شي د راتلونکي دور د ټاکنو لپاره یو ګټور کار وي، ځکه دغه شبکې کولای شي د کاندیدانو تر منځ ګټوري اړیکې ټینګې کړي، بې له دې چې له یو بل څخه د تهدید احساس وکړي.

## د ښځینه نوماندانو د بریالیتوب شرایط

په اوسني افغاني سیاسي ژوند کې په انتخاباتي مرکزونو کې د رایو ګټل په دې ذریعه یقیني نه ده چې ټول شموله ایدیالوژیو ته (یا افقي اړیکي) رجوع وشي، بلکه دې ورتیا ته اړتیا شته چې وکولای شي شبکې یا د ملاتړ ګروپونه بسیج کړي چې د محلي، حمایتي او قومي اړیکو پر بنسټ بنا وي (عمودي اړیکې). پرته له دې چې په پام کې ونیول شي، چې د پارلمان او ولایتي شورا د غړو نقشونه د قانون له مخې کوم دي، د دغو شبکو او د انفرادي مخورو اشخاصو، یا ګروپونو جمایت تر اوسه هم تر ډېره بریده په دې پورې تړلی چې د دې وړتیا باید وښودل شي چې دوي ته خدمتونه وشي او د نورو سیالو ګرپونو په اړه د دوي ګټې وساتل شي.

په دې څېړنه کې د ښځینه مرکه شویو نوماندانو د اکثریت لپاره مؤفقیت یا نا کامي په دې پورې تړلی چې دغو شبکو ته لاس رسي ولري او ثابته کړی چې د دوي توقعات او غوښتنې پوره کولای شي. په بنیادی ډول د توقعاتو پوره کول په دې پورې تړلي و چې منابعو ته لاس رسي ولري، یا له یوې ځواکمنې سیاسي کورنۍ یا ګوند سره تړاو ولري او یا هغې ټولنې او یا ګروپ ته دخدمتونو د کولو یو سابقه ولري. په داسې حال کې چې دغه شرایط له یوه ولایت څخه بل ولایت ته توپیر کوي، په بلخ کې د سیاسي ګوندونو نفوذ په خاص ډول ډیر پراخ و او په کابل کې چې په سیاسي لحاظ ډیر ویشلی دی نو کاندیدانو دې ته ترجیح ورکوله چې په وړو ګروپونو او ډېرو خپل ځاني ټولنو یا شبکو زور واچوي– ګټونکو کاندیدانو نږدې ټولو د دغو دریو خاصیتونو څخه په دوو هغو چې یو بل سره تقویه کوي، باندې زور اچولی و. د بایلونکو نوماندانو ریکارډ ښیي چې دوي یوازې په یوه یا بل له دغو خاصیتونو څخه درلودل: فهیمې او انار کلي هنریار په کابل کې و نه شو کولای چې له خپلو ښو تعلیماتو او په مدني ټولنه کې له خپلو مسلکی تجربو او شهرت څخه استفاده وکړي او ډیري رایې وګټي ځکه دوی له مخورو کورنیو څخه نه وې او نه بې له ټولنو (لوې ټولنې) سره اړیکې درلودې؛ همدغه شرایط د زرغونې او د دې د شتمنې په برخه کې هم ثابت شول؛ بایلونکو کاندیدانو چې په یوه معینه ټولنه یا ساحه کې بې کمپاین کړی و، ومونډله چې د دوي د منابعو کموالی او د کورنیو فعالو اړیکو نشتوالی– پخوانی، ځواکمنو خپلوانو ډېر نقش نه درلود– دوي نا توانه کړل او و بې نه شو کولای چې مشران یا ټولنې په عموم ډول په دې قانع کړي چې کولای شي د استازي په حیث د دوي غوښتنې پوره کړي.

## د نوماندانو پر ژوند د برخې اخیستنې اغیزې

په نسبي ډول یو څو تنو کاندیدانو چې په دې څېړنه کې ورسره مرکې شوي ویلی دی چې په ټاکنو کې برخې اخیستنې د دوي په ژوند منفي اغیزې درلودلې دي. په کابل کې یوې بایلونکي نوماندې (پلوشه) وویل چې د وژنې هغو تهدیدونو او دښمنیو چې دې د ټاکنو په دوران کې تجربه کړل، چې دا بې پېره په هغو سیاسي مخالفینو ور اچوي چې د دې د رایو د پټولو په لټه کې وو، دا په ژوند کې ډیره بېرولې ده او اوس دا په دې فکر کې ده چې په امریکا کې د پنا اخیستلو غوښتنه وکړي. په بلخ کې بلې بایلونکې استازې هغه منفي اغیزې چې د ټاکنو کمپاین د دې په ژوند باندې درلودلې داسې بیا کړې:

> له دې مخکې ما ډېره ازادي درلوده، ما کولای شوای چې په اساني سره نورو ولسواليو ته لاړه شم، خو اوس زه له محدوديت سره مخامخ يم. ما د چمتال په ولسوالي کې د خلکو لپاره د پرمختيا يوه پروګرام درلود، خو اوس زه هلته نه شم تلای. زه ډېره مايوسه شوم چې خلکو هلته وويل: «ته بايد هلته را نه شي، ستا لپاره ډېر خطر موجود دی، تا به و وژني.»... ځينې وختونه زما دوستان له ما سره مسخرې کوي، «که طالبان بيا په افغانستان ولکه ټينګه کړي، دوي به تا لومړی مړه کړي.» دغه خبرې تولې په ما تاثير کوي. ما ته د تهديد تيلفونونه راغلي دي. ما دغه تهديدونه هيڅ چا او هيڅ سازمان ته نه دی ويلي، ځکه زه پوهيږم چې دوي ما ته حفاظت نه شي راکولای. ما خپل ماشومان له حکومتي ښوونځيو و ايستل او په شخصي ښوونځيو کې مې شامل کړي.

د دغو دوو ډېرو سختو قضيو څخه پرته، دريو نورو نوماندانو ويلي دي (ټول په کابل کې: يوه د ولايتی شورا غړي، يوه بايلونکې د ولايتی شورا نوماندده، او يوه د پارلمان لپاره بايلونکې نوماندده) چې د ټاکنو د کمپاين په وخت کې يې ډېرې مالي ستونزې درلودې. د دې په نتيجه کې دوه تنه يې لا اوس هم پوروړي پاتې دي. يو لېږ شمېر د ګټونکو کانديدانو په ټولو ولايتونو کې، چې له دريو تنو څخه دوه يې د بلخ د ولايت دی د دې خبرې هم کړي دي چې په وظيفه کې يې مسوولیتونه ډېر زيات دي او دوي اوس له کورنيو او دوستانو څخه لېري شوي دي، او له دې سره د مايوسي يو احساس هم ورسره پيدا شوي، چې نه شي کولای خپلې غوښتنې عملي کړي. په دې اړه شينکۍ کړوخيل په يوه تبصره کې ويلي دي چې د پارلمان يا د ولايتی شورا د غړې په حيث د مسووليت منل د ځينو ښځو لپاره په حتمي ډول د دې مانا لري چې په کورونو کې د ښځو، ميندو، خويندو او يا دوستانو په ځير نقش بايد د دې وظيفې په وړاندې ترک کړي:

> له کله راهيسي چې ما په ټاکنو او پارلمان کې برخه اخيستې ده، ما خپل نږدې دوستان نه دي ليدلي. حتی ما له دوي سره شخصي مجلس هم نه درلود چې يو بل سره ووينو، ځينې وختونه زما خور وايي: «ته د يوه سړي په شان شوی يې. موږ تا په ميلمستياوو، مجلسونو، ليدنو کتنو کې نه وينو.

په نسبي ډول هغه کمه رنګه د اغيزې چې په ټاکنو کې د برخې اخيستنې له لارې د هغو مرکه ورکوونکو په ژوند چې دې څېړنې لپاره مرکې ورسره شوې دي ښايي له دې حقيقت سره تړلې وي چې دوي په عمومی ډول په کمو محافظه کاره سيمو کې يا په ښاري سيمو کې کمپاين کړي دی، چيرې چې په عام ژوند کې د ښځو برخه اخيسته تر يوه حده پورې د تحمل وړ بلل کيږي. د دې په خلاف په کابل کې د غير حکومتي موسسو کارکوونکو په نورو ولايتونو کې د ښځو مثالونه راوړي دي چې په ټاکنو کې د دوي لپاره دريدل په ډېرو محافظه کاره ساحو کې ډېره ګرانه وه. يوه تن د يوې قضيې راپور ورکړی چې د يوې ناکامې نوماندې ميړه خپلې ښځې ته طلاق ورکړی، ماشومان يې ورڅخه جدا کړي او دعوه يې ور باندې کړې چې هغه پيسې بيرته ورکړي کومې چې ده د کمپاين لپاره ورکړې وې. بل راپور د داسې کانديدې خبرې کوي چې په ټاکنو کې د دريدلو وروسته په ټوليز ډول جنسي تيری (د هغې د ميړه په ګډون) پرې شوی دی. دا خبره هم مهمه ده څرنګه چې په افغانستان کې په کورنيو ستونزو باندې بحث کول تر ډېره حده ممنوع عمل دی، نو دا حقيقت چې د دې څېړنې لپاره د مصاحبه شويو يوه کانديد هم د کورني تاوتريخوالي په اړه چې د دوي د کانديدي په وجه رامنځ ته شوي وي، ]ه نه دي ويلی، د دې امکان له منځه نه وړي چې ښايي کورني خشونت رامنځ ته شوي وي. لکه څنګه چې د نړيوالې نادولتي موسسې يوه کارمند ويلي دي:

> د ځينو ښځو لپاره چې د پارلماني ټاکنو لپاره يا د ځينو حکومتي وزارتونو لپاره ولاړې وې، خشونت [له خپلو ميړونو له خوا] يوه لويه مساله ده. خو حتی سړی [په سازمان کې له ده سره کارکوونکی] په بشپړ ډول دا ردوي. دا يو ښکاره راز دی چې [يوه مصروفه سياسي ښځه] د خپل ميړه له خوا وهل شوې وه، حتی په هغه وخت کې چې وظيفه يې لا درلوده. دغه کار يه يقين سره خپلې اغيزې لري او زه فکر کوم چې بايد توجه ورته وشي.

په عمومي ډول، زيات شمير کانديدان په دې څېړنه کې په دې باور وو چې په ټاکنو کې د دوي تجربې مثبتې وې. اوو ګټونکو او دريو بايلونکو نوماندانو ويل چې په ټاکنو کې برخې اخيستنې د دوي لپاره په خپلو کورنيو او ټولنو کې د ډېر اعتبار او احترام سبب ګرځيدلي. نورو شپږو ګټونکو او دريو بايلونکو نوماندانو څرګنده کړه چې څنګه په ټاکنو کې برخې اخيستنې د دوي د نظر افق پراخه کړی دی. څو تنو دا هم وويل چې څنګه د کمپاين په وخت کې او د وظيفې په جريان کې د دوي تجربو څنګه وکولای شو د دوی محدود نظر ته په کور او کار ځای کې پراختيا ورکړي او دوي يې له نويو شبکو سره تړلي چې د نويو علومو او مهارتونو در وازې د دوي په مخ پرانيستل شوې. په دې اړه، څو تنو بايلونکو کانديدانو هم خبرې کړي چې څنګه د دوي تجربو په خپل ځان باندې ايسا زياته کړې او په دريو قضيو کې يې دوي په عام ژوند کې ګډون کولو ته هڅولي:

> په حقيقت کې کله چې دوي له ما غوښتنه وکړه چې خپل ځان کانديد کړم، زه پوهيدم چې دغه يوازينۍ لار ده چې د خلکو لپاره څه وکړمة ما غوښتل چې د ښځو غږ حکومت ته ورسوم او د کونډو او غريبو ښځو شکايتونه دوي ته ورسوم. څرنګه چې زه پوهيدم چې هيڅوک د غيربو خلکو حقونو ته پاملرنه نه کوي؛ زه پخپله غريب شخص وم او زه پوهيدم چې دوي څه احساس لري.
>
> — صديقه، د ۲۰۰۹ کال د ولايتی شورا بايلونکې نوماندده، بلخ

> زه خوشحاله يم چې په ټاکنو کې مې برخه واخيسته، ځکه زه پخوا يوه ښوونکې وم او زما نړۍ ډېره محدوده وه، يوازې زما ښوونځی، زماکور او نور هغه ځايونه چې ښځې کارونه په کې کوي. له ګډون څخه وروسته زه وهڅول شوم، چې په بيلا بيلو ځايونو کې کمپاين وکړم. له ما سره دا احساس پيدا شو چې خپل فعاليتونه بايد پراخ کړم او د ټولنې په منځ کې ډېرې اړيکې پيدا کړم، ځکه اړيکې د لا زيات ناميتوب لپاره اړينې دي. له ټاکنو مخکې ما يوازې له زده کوونکو او همکارانو سره مراوده درلوده. زه اوس له نوماندانو او له خلکو سره په هغو ځايونو کې چې ما کمپاين کړی دی، ډېرې اړيکې لرم.
>
> — مينه، د ۲۰۰۹ د ولايتي شورا بايلونکې نوماندده، کابل

> دغو ټاکنو زما په شخصي ژوند اغیزه کړې ده– خلکو ته په خدمت کولو سره زه ډیره غښتلې شوم. ما پریکړه وکړه چې په ټول هیواد کې کار وکړم او په ښه پوست کې او زما په ځان باور پیدا شو. دغه راز زه ماتې منم او خپلې نمیګړتیاوې او خامیانې هم پیژنم– زه دغه عیبونه پیژنم او کولای شم هغه رفع کړم. ما باید ډیر سخت کمپاین کړی وای.
>
> — فهیمه، د ۲۰۰۵ پارلماني ټاکنو بایلونکې نومانده، کابل

د یادونې وړ ده چې دغه نوی احساس د تحرک او فعالیت په داسې یوه اراده بدله نه شوه چې په نورو ټاکنو کې د سیالي لپاره ودریږي. په داسې حال کې چې فهیمې اړتیا نه احساس کوله چې د ټاکنو لپاره بیا ودریږي ځکه چې دې د ښځو چارو په وزارت کې ښه فعالیت درلود، خو مینه د ځلورو نورو بایلونکو نوماندانو سره همفکره وه او ویل یې د ټاکنو په پروسه کې د ذاتي فساد له امله کرکه ورته پیدا شوې او په سیاست کې له ګډون څخه بېزراه شوې. خو بیا هم له لسو بایلونکو نوماندانو څخه یوازې دریو تنو څرګنده کړه چې غواړي د بلې دورې په ټاکنو کې بیا فعاله ونډه واخلي او په سیاست کې ورګډې شي.

# ٤. رایه ورکوونکي

تر یوې اندازې، په افغانستان کې په ښځینه رایه ورکوونکو باندې تمرکز کول د دوي په هغه موقف باندې څرخیدلی چې د قربانیانو په نوم یې پیژني. بې شمېره مقالې لیکلې شوی چې د رایې ورکولو لپاره په مبارزه کې هغه ربړونه او کړاوونه مستند کوي چې ښځو په دې لار کې لیدلی دي او لکه څنګه چې په ۲ څپرکی کې ویل شوي حتی ځینی دونرانو په دې خبره ډېر ټینګار کړی چې تر ټولو رومبۍ اړتیا دا ده چې ښځینه رایه اچوونکي باید محافظه شي. خو دغه توضیحات– د ښځو موجودیت د رایو اچونې به حوزو کې د ګړاوونو او مصیبتونو په وړاندې یو بریالیتوب څرګندوي– که څه هم ډېر مهم حقایق مخې ته راوړي، خو یوازې د کیسې نیمه برخه جوړوي.

په دې څېړنه کې– اعتراف کیږي چې د افغانستان په ډېرو با ثباته او ښاري سمو کې ترسره شوي– ښځې رایه ورکوونکې د نارینه وو له نظره مثبتې لیدل شوی دي او هم یې د امنیت له لحاظه او هم د جنسیت پر بنسټ د محدودیتونو له نظره لېږ ستونزې درلودې چې د رایې اچولو بکسونو ته ولاړې شي او په عموم ډول یې د دې امکان درلود چې کله د ننه وي د خپلې خوښې نوماند ته رایه ورکړي. خو دغه په ظاهره ډېر روڼ او غوړیدلی تصویر د داسې ستونزو په ذریعه خیرن او ویجاړ شي چې د طالبانو د بریدونو له تهدیدونو یا د ښځو له نهضت سره د مخالفو ملایانو له تبلیغاتو لا ډېري ژورې او ذاتي ریښې لري. که څه هم ښځو کولای شوای په عملي ډول په تخنیکي لحاظ په رایه اچولو کې برخه واخلي، خو د ټولنې په کچه په مباحثو او د پریکړه کولو په پروسه کې د دوي غږ نه اوریدل کیږي، چې د اوسنی افغانستان د ټاکنو په سیاست کې مهمې اجزاوې ګڼل کیږي. که څه هم دوي په ندرت سره د دې فشار لاندې راغلي دي چې یوه معیین نوماند ته رایه ورکړي، خو څرنګه چې د ډوي میړونه په کورونو کې د سیاست په اړه خبرې نه کوي، د دوي ډیری د معلوماتو د نشتوالي له امله په دې مجادله او کشمکش کې وي چې کوم کاندید ته رایې ورکړي. دوی که څه هم د رایه اچونې په تخنیکي پروسې باندې پوهیدلې خو څرنګه چې رسمی روزنو ته دوی لاس رسي نه درلود، نو ځکه دوي په دې اړه د دوي معلومات ډېر محدود و چې د هیواد سیاسي سیستم څنګه کار کوي او دغه سیستم څنګه کولای شي چې د دوي د ګټو لپاره په ښه توګه کار وکړي. په بنسټیز ډول، که په بله ژبه وویل شي، ښځې په جدي ډول د سیاسي فعالینو په څیر نه دي ګڼل شوي.

په ټاکنو کې برخې اخیستنې د ډېرو ښځو په ژوند چې په دې څېړنه کې شاملې دي ډیرې مثبتې اغیزې کړې دي. که څه هم برخې اخیستنې دوي ته د دې ډېر فرصت نه دی ورکړي چې خپل غږ اوچت کړي او یا زیاتې محسوسې ګټې دوي ته راوړي، خو د دوي برخه اخیسته په ټاکنو کې د دولت له نظره د مساوي حقونو د تایید مانا درلوده او د دوي په خپل ځان باندې اعتماد زیات شو او دا اوسنۍ حاکمې وضعې د بدلون هیلې ورسره را پیدا شوي. په دې برخه کې چې وروسته راځي، دغه څپرکی په دې بحث کوي چې ښځې د نوماندانو او رایه ورکوونکو په څیر څنګه درک شوي دي؛ ځنګه ښځو معلوماتو ته لاس رسي پیدا کړي؛ د دوی د خبرتیا کچه څومره وه؛ د رایې اچونې بکسونو ته په فیزیکي لحاظ یې څنګه لاس رسي درلود او د ټاکنو پروسې د دوي په ژوند څه اغیزې درلودلې دي.

## ٤,١ د نوماندانو او رایه ورکوونکو په څیر د ښځو په اړه درک او پوهه

لېږ تر لیږه په سطحي توګه، په ټولنو کې چې تر څېړنې لاندې وي، دیری ښځو او سړیو په ټاکنو کې د ښځو برخه اخیستنه د نوماندانو او رایه ورکوونکو په څیر مثبت ګام ګڼلی دی. د نارینه وو له خوا د ښځو رایه ورکوونکو سره ملاتړ زیاتره د ښځو په اړه د عام فهمه اصطلاحاتو په شکل کې ظاهر شوي لکه «د نیم اسمان نیول»او یو څو مرکه ورکوونکو لا زیاته کړی او دغه مساله یې په دقیق ډول د اجتماعي عدالت په چوکاټ کې د قرآن کریم د ایتونو په رڼا کې د برابرو حقونو په څیر مطرح کړي. د دې په خلاف، په دې فکر کې ډیره ژوره مانا او تنوع لیدل کیږي چې خلک ولې په مهمو پوستونو کې د ښځو موجودیت یوه ښه خبره ګڼی. تر ټولو زیاته مروجه عقیده (۱۲ ښځې او دری سړی) دا وه چې په تیره لسیره کې د ښځو تجربې په عامه دفترونو کې څرګندوي چې دوي د سړیو په شان په همدغو پوستونو کې ښه اجراات کولی شي. د دغې عقیدې د تقویې لپاره مرکه ورکوونکو په ښاري او کلیوالي سیمو کې د معروفو ښځینه شخصیتونو نومونه واخیستل لکه د پارلمان غړې شکریه بارکزۍ، فوزیه کوفي یا د بامیانو معروفه والی حبیبه سرابي یو لیږ شمېر د مرکه ورکوونکو دغه راز په دې حقیقت باندې زور اچولی دی چې د مورولې وظیفې او د کور د تنظیم مسوولیتونه ښځې له دې څخه منع کوي چې سیاسي مهارتونه عام ژوند ته انتقال کړي ( درې ښځې او یو سړی)؛ دا چې ښځې د نارینه وو په پرتله ډیرې مهربانې دي ( درې ښځې او یو سړی)؛ او دا چې ښځو لکه اندراګاندي او حتی مارګریت تاچر په نورو هیوادونو د مشرتابه پوستونه ساتلي (یوه ښځه او درې سړي).

په ټاکنو کې د ښځو د برخې اخیستنې په اړه په دهدادي کې نظریاتو ډیره منفي جنبه لرله او تر یوې کمې اندازې پورې په دشت برچي کې هم. په داسې حال کې چې دری تنه مرکه ورکوونکي په دې عقیده ټینګ ولاړ وو چې ښځې باید له کلتوري او مذهبي نظره په هیڅ ډول ټاکنو کې برخه وا نه اخلي، څو تنو نورو نارینه وو او ښځو په دې ټولنو کې د داسې قضیو خبرې کړې دي چې ښځې د خپلو کورنیو له لورې له رایې اچونې څخه منع شوې دي. یو زیات شمېر مرکه ورکوونکي (پنځه سړی او درې ښځې) په دې باور وو چې ښځې باید د ځواک په پوستونو کار و نه کړي، ځکه دوي فکر کوي چې دا یو غیر اسلامي کار دی یا دا چې ښځې په طبیعي ډول د نارینه وو په پرتله کمزورې یا کمې ځیرکې دي او فکر کوي چې ښځې تل د نارینه وو په پرتله په سیاسي لحاظ کمزورې دي. د یادونې وړ ده چې د دې مرکه ورکوونکو اکثریت د ښځو په اړه د رایه ورکوونکو په حیث هیڅ ډول شکایت نه دی کړی.

خو د دې درک او نظریاتو ویشل په منفي او مثبتو هغو موږ ته ټوله کیسه نه کوي. په پیل کې دا امکان لري چې نارینه مرکه ورکوونکیپه خپلو ځوابونو کې ډېر محتاط اوسیدلی وي، د دې لپاره چې دغه څېړنه د یوه نړیوال سازمان له خوا تمویل شوې وه او غوښتل یې چې څېړونکي راضي وساتي. په دې سربیره د دې هڅه کول چې د ښځو د برخې اخیستنې مخالفین او پلویان سره جدا کړو دا

حقیقت هم له نظره پټوي چې د دې برخې اخیستنې د منلو او تحمل کولو او په فعال ډول د هغې د تقویه کولو او د هغې په مفهوم باندې د ځان پوهولو ترمنځ ډیر توپیر شته. په دې اړه د دوو قضیو یادونه ضروري ده، په شورتپه کې دوو تنو نارینه وو ویل چې دوي له دې سره مخالف نه دي چې ښځې په ټاکنو کې برخه اخلي، خو په دې نه پوهیږي چې د دې کار اهمیت په څه کې دي؛ د یکاولنګ د شورا مشر فکر کوي چې ښځې کولای شي ښې مشرانې شي، خو ده وویل چې دی به هیڅکله د ښځې لپاره رایه ور نه کړي؛ څو تنو وویل چې یوازې لوستې ښځې باید ځواک ته ورسیږي او په دشت برچي کې یوه سړی وویل:

> اسلام وایي چې ښځې کولای شي له کوره ووځي؛ دا حتی کولای شي ولس مشره یا د پارلمان غړې شي. اسلام ښځې ته یو مهم نقش ورکوي، خو دوي باید د مذهبي اصولو سره سم کار وکړي... ښځه باید حجاب واغوندي او نه باید غیر مناسب کالي واغوندي... اوس موږ ازادي لرو او ښځې داسې کوي. خو زه له دې بیره لرم. ځینې ښځې زیاته ازادي غواړي. دوي ځینې مسالې نه مراعات کوي. که چیرې طالباندلته واي، دوي دا کار و نه شو کولای. زه هیله من یم چې دوي ډیره ازادي وا نه اخلي.

دغه تبصره په یوه لحاظ د مرکه ورکوونکي په فکر کې هغه بدلون منعکس کړی چې ده ښایي د یوې غیر حکومتي موسسې د څیړنې د ټیم په وړاندې ځان مجبوره احساس کړی وي هغه څه و وایي چې دی په واقعیت کې د هغې په اړه فکر کوي. سره د دې دا خبره هغه توپیر ته هم اشاره کوي، چې ښایي د ډیرو داسې قضیو ترمنځ موجود وي چیرې چې له یوې خوا سړی په تیوري کې د ښځو برخه اخیستنه تحمل کوي، او له بلې خوا په دې عقیده وي چې دغه برخه اخیستنه باید په حتمي ډول د نارینه وو په برخه کې هم زیاته شي.

## ٤,٢ رایه ورکولو ته هڅونه

د زیاترو ښځینه رایه ورکوونکو لپاره، ته په ټاکنو کې د ګډون اجازه ورکول، د دې کار د ترسره کولو لپاره بسیا هڅونه وه. وروسته له کلونو چې هم په رسمي ډول د دولت او هم د هغوي په ټولنو کې په پریکړه نیولو کې د نارینه وو د واک له خوا هغوي له سیاست څخه محرومې شوې وې، زیاترو ښځو ټاکنې د خپلو حقونو د غوښتلو لپاره د یوه مهم سمبولیک فرصت په څیر ګڼلې، «د هغوي د ګډون او د ښکیلتیا د څرګندولو حق» لکه څرنګه چې دغه څرګندونې په ګلدره کې د یوې زړې میرمنې له خوا وړاندې شوي. په عام ډول، د دواړو نارینه او ښځینه مرکه ورکوونکوډیر ځله دا پوښتنه راپورته کړي چې ولې دوي په عین ډول د ښو افغانانو په نوم د اعتماد رایې ورکړې دي، خو د ښځو لپاره په دې معیاري تبلیغاتو کې یو غوڅونکی کیفیت هم نغښتی و. د رایې په اچولو کې، ښځو په ساده ډول د یوه افغان په څیر خپله دنده نه ترسره کوله، بلکې د دولت په جوړښت کې یې د اتباعو په څیر د خپل ځای غوښتنه کوله، چې د هغوي رایو ته د نارینه وو په څیر د ورته اهمیت د ورکولو له لارې په مشخص ډول د هغوي برابر موقف تاییدوي. چې دا په څرګند ډول د نالوستو له ګروپي مباحثو څخه اخیستل شوي، چې زیاتره یې د بلخ د شورتپه مسنې میرمنې وي:

۱. موږ خوشحاله یو چې د نارینه وو په څیر مو په ټاکنو کې ګډون وکړ. او له دې امله هم خوښ یو چې موږ انتخاباتي حوزو ته سره په ګډه لاړو.

۲. دغه کار د وګړو په ژوند حقیقي اغیزه درلوده؛ که چیرې حکومت ښځو ته دګډون اجازه نه وای ورکړې او یوازې نارینه وو په ټاکنو کې ګډون کړی وای، دې به دا څرګنده کړې وه، چې نارینه له میرمنو څخه ډیر ځواکمن دي. دغې چارې دا څرګند کړه، چې موږ مساوي یو او په ګډه سره کولای شو، برخه واخلو.

۳. زه په حقیقت کې ډیره خوشحاله یم، چې ښځو او نارینه وو دواړو برخه واخیسته. د نارینه او ښځینه رایه ورکوونکو ترمنځ هیڅ توپیر نه و.

٤. زه فکر کوم، چې له دې څخه ټول وګړي خوښ دي چې ښځو په ټاکنو کې ګډون وکړ. ما هیڅکله دا فکر نه کاوه، چې زه به په ژوند کې د نارینه وو په څیر ورته حقونه ولرم، خو دا هغه مهال ترسره شو، کله چې موږ له سړیو سره یو ځای رایه ورکړه.

تر څیړنې لاندې په ټولنو کې، ښځو همدارنګه د رایه ورکولو د حق د درلودلو ویاړلی احساس روښانه کړ، سره له دې چې په بامیانو او بلخ کې په ډیرو قضیو کې، دوي نه پوهیدلې، چې هغوي د چا لپاره رایه ورکړې.

په عمومي ډول، زیاتره ښځو وویل، چې هغوي د هیواد د رغونې او د هغوي د ټولنو لپاره د استازیتوب د خوندي کولو په موخه رایې ورکړې. په داسې حال کې چې له مرکه ورکوونکو په ځانګړي ډول له ښځو سره د دهدادي او د کابل د څیړنې په دواړو ټولنو کې د نوماندانو له خوا د رایه ورکولو په بدل کې د مکافاتو د تر لاسه کولو په اړه خبرې اترې ترسره شوي، هیڅ یو یې په مستقیم ډول دغه چاره د هڅونې په څیر په ډاګه نه کړه. د ښځینه او نارینه مرکه ورکوونکو ترمنځ یو احساس موجود و، چې په دواړو ټاکنو کې دغې چارې کمه اغیزه درلوده، او لکه څرنګه چې لاندې پر بحث شوی، یو شمېر ښځو له یوه نوماند څخه د مرستو د تر لاسه کولو په اړه خبرې کړي، څو یوازې یوه بل ته رایه ورکړي.

د هغوي له خپلو هڅونو پرته، ښځو د ګډون د یو شمېر نورو سرچینو په اړه هم مباحثې ترسره کړې. د بامیانو د څیړنې په دواړو ساحو کې، مرکه ورکوونکو دا څرګنده کړه، چې څرنګه نارینه وو –میړونو، پلرونو، د ټولنې مشرانو، آن محلي ملایانو میرمنې رایه اچولو ته هڅولې. په دغو ټولنو کې نارینه مرکه ورکوونکو څرګنده کړه، چې څرنګه د جندر د مخه نیوونکو نورمونو د کمولو یا محدودولو له لارې د ښځو د ګډون لیوالتیا رامنځ ته شوه، او د دې په درک کولو سره چې د ښځو پوهنه او د هغوي غښتلي کول به په ټولیز ډول د ټولنې لپاره د ګټو لامل شي. په بامیانو کې یوه سړي د ښځو پراخه سیاسي برخه اخیستنه له پراخ اقتصادي نقش سره په ضمني ډول تړله، هغه د دې لامل داسې توضیح کړ:

> زياتره وختونه ښځې د ټولنې له خوا له پامه غورځول شوي، او د هغوي لپاره د خپلو ځانونو د مطرح کولو فرصت نه وي برابر کړای شوی. ما يوې ښځې ته رايه ورکړه، ما هغې ته يو فرصت ورکړ، چې د هيواد لپاره يو څه ترسره کړي... که چيرې موږ بهرنيو هيوادونو ته ځير شو، ښځې برابر حقونه لري، او دغه لامل دي، چې هغوي چټک پرمختګ کوي...د مثال په ډول ايران. سره له دې چې هلته نه يم لاړ، خو په اړه مې يې ډير څه اوريدلي. هلته زياتره ميرمنې فعاله دي، هغوي کارو بار لري، زيات کارونه ترسره کوي، نو همدغه لامل دی، چې ايران يو پر ځان بسيا هيواد دی. خو له بده مرغه ان تر تير کال پورې، زه دلته يو شمېر ښځې پيژنم چې لا تر اوسه يې د باميانو ښارګوټی نه دی ليدلی، هغوي يوازې کارونه کوي. خو ځينې وختونه له ځان سره فکر کوم، چې د يوه غوره ژوند لپاره بايد څه ترسره کړو؟ نو ما خپله ميرمن د سواد زده کړې په کورس کې شامله کړه، هغه اوس له ليک لوست سره بوخته ده. ما همدارنګه هغې ته يو شمېر مسووليتونه هم ورسپارلي. هغه په بازار کې د هر ډول توکو د رانيولو او بيا کور ته د راوړلو او همدارنګه د کورنيو چارو اداره کولو مسووله ده.

دا هم شوني ده چې د کړو وړو په دغه بدلون کې يو ستراتيژيک بعد هم موجود وي، چې تر انفرادي د ليږد نه وړ رايې تر سيستم لاندې تر ممکن حد پورې د رايه ورکوونکو راټولول به ټولنې ته د محلي اشنا نوماند د درلودلو  زيات چانس رامنځ ته کړي.

په شورتپه، يکاولنګ او تر کمې کچې په ګلدره کې د ډله ييزه تجربې احساس چې د رايه اچونې په پايله کې رامنځ ته شوی و، انتخاباتي حوزو ته د ښځو په جلبولو کې مرسته وکړه. په شورتپه کې، ښځو دا واضح کړه، چې څرنګه په ګډه د رايې اچونې لپاره لاړې، آن چې د دوي يو شمېر د ټاکنو د ورځ له خوشحالي ډکه فضا له واده سره پرتله کوله، چيرې چې ورته پېښې د ښځو لپاره د هغوي له بيړنيو کړيو څخه د باندې د انفعال محدودې فضاوې برابروي:

> د رايه اچونې پر مهال، موږ ټول يو ځای انتخاباتي حوزې ته لاړ وو. هغه مهال تاسو کيدای شي دا احساس کړی وای، چې موږ د واده په مراسمو کې برخه اخلو. ټولې ښځې يو ځای انتخاباتي حوزې ته لاړې.
>
> — يوه زړه نالوستې ښځه، د شورتپه ولسوالي، د بلخ ولايت

> په ټوليز ډول، دا د يوې ميلې يا مراسمو په څير و، زياتره خلک د زياتو هيلو او خوشحاليو سره لاړ وو.
>
> — يوه ځوانه لوستې ښځه، د باميانو ولسوالي، د باميانو ولايت

په يکاولنګ کې، داسې احساس کيدله چې بشپړه ټولنه د رايې اچونې لپاره ډلې ډلې راځي، په داسې حال کې، چې يوه زړه ښځه د رايه ورکوونکو په څو ډلو کې راوتې وه. لکه څرنګه چې يوې ښځينه مرکه ورکوونکې دا واضح کوي، چې په داسې شرايطو کې به دا خورا ستونزمنه وه، چې يو چا ګډون نه وای کړي:

> ټاکنې زموږ په هيواد کې يوه ستره معامله ده. حکومت دا اعلان کړی، چې يو چا ته رايه ورکول، زموږ حق دی. نو سوچ مې وکړ، که چيرې ګډون ونه کړم او انتخاباتي حوزې ته لاړه نه شم، دا به زما کمزورتيا او زما لپاره عار وي. زموږ په ټولنه کې، ان تر دې چې زاړه او ناروغ وګړي رايه اچونې ته لاړ وو، که چيرې زه نه وای تللې، په حقيقت کې دا به زما لپاره يو شرم و.

## ۴,۳ په دې اړه پريکړه کول، چې څرنګه بايد رايه واچول شي

د رايه ورکوونکو د اکثريت لپاره د ګډون دغه پراخې هڅونې له هغه ميلان او غوښتنې سره تړلې وي، چې يوه ځانګړي نوماند ته رايه ورکړي. څرنګه چې د څېړنې په ټولنو کې اشخاصو د بالقوه استازي لپاره مهم معيارونه په پام کې نيولي وو، جندر زياتره بحراني رول درلود: نارينه او ښځينه رايه ورکوونکو د لومړيتوبونو مختلفې ټولګې درلودې، کله به يې چې دا ارزونه کوله، چې د چا لپاره رايه وکاروي، په داسې حال کې چې د نوماندانو جنس پخپله د رايه ورکوونکو لپاره د پام وړ اغيزه درلوده، چې هغوي به يې څرنګه ګڼل.

په بلخ او کابل کې يوې ډلې چې زياتره يې نارينه رايه اچوونکي (اوه سړي، دوه ميرمنې) وو، څرګنده کړه، چې هغوي له دې سره زياته ليوالتيا نه درلوده، چې آيا نوماند ښځه ده او که سړی. همدارنګه په شورتپه کې د يوې شورا مشر پر دې ټينګار کاو، چې تر ټولو مهم شی دا دی، چې ايا يو نوماند د خپلې ټولنې لپاره په اغيزناک ډول کار کوي او که نه: "زه فکر کوم چې د نوماند جنسيت د وګړو لپاره ډير اهميت نه لري، هغوي د نوماندانو ظرفيت او پوهې ته اهميت ورکوي، ځکه اوس د دې وخت نه دی، چې د دغه ډول مسلو په اړه فکر وشي." له دې سره سره، د زيات شمېر ځواب ورکوونکو لپاره د نوماندانو جنسيت د پام وړ موضوع وه.

په اټکلي ډول شپږو نارينه ځواب ورکوونکو تر څېړنې لاندې په ولايتونو کې ښځو ته د رايې ورکولو عمومي يا شخصي مخالفت څرګند کړ، په يکاولنګ کې د شورا يوه پخواني مشر په صريح ډول دا موضوع داسې توضيح کړه، چې "دا زما باور او پريکړه ده، ترڅو چې زه ژوندی يم، زه به هيڅکله يوې ښځې ته رايه ور نه کړم." په زياتره مواردو کې د دې موضوع په اړه د هغوي توجيهاتو په دې باندې تمرکز کولو، چې ښځينه نوماندانې په دفترونو کې اغيزمن استازيتوب نه شي ترسره کولای او همدارنګه هغوي به د دې جوګه نه وي چې د خپلو نارينه همکارانو په څير له ځواک څخه بشپړه ګټه پورته کړي. همدرانګه دغه ډول څرګندونې په دشتي برچي که هم يوې ځوانې ميرمنې ترسره کړې، نوموړې په ډاګه کړه، چې هغې د ښځې پر ځای يو پخواني مجاهد نوماند د رايې ورکولو لپاره غوره کړي، ځکه چې نوموړې احساس کاو، چې دغه نوماند به وکولای شي يوه غښتلې مشرتابه رامنځ ته کړي. د دې په پرتله، بيا نورو شپږو سړيو تر څېړنې لاندې په ولايتونو کې دا څرګنده کړه، چې هغوي د ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ په ټاکنو کې د سړيو پر ځای ښځو ته رايه ورکړې. په

داسې حال کې چې په ځینو شرایطو کې د نوماند له جنسیت څخه پرته د دغې پریکړې په ټاکلو کې نور فکتورونه هم مهم وو (لاندې ذکر شوي)، یو شمېر نارینه وو په دې اړه څرګندونې کړي، چې د هغوي په اند میرمنې د هغوي د نارینه وو همکارانو په پرتله ریښتونې، زیار ښکونکې او د ځواک کمې غوښتونکې دي. د بامیانو په ولسوالي کې یوه د منځنې عمر درلودنکي سړی توضیح کړه، چې هغه د ولایتي شورا یوې ښځینه نوماندې ته رایه ورکړې او دا احساس یې کاوه، چې نور د بدلون وخت دی:

> زیاتره وختونه ښځې د ټولنې له خوا له پامه غورځول شوي، او د هغوي لپاره د خپلو ځانونو د مطرح کولو فرصت نه دی ورکړل شوی. زه فکر کوم، ما دا پریکړه کړې، چې هغوي ته یوه فرصت ورکړم، چې د هیواد لپاره یو څه ترسره کړي.

دغه څرګندونې په شورتپه کې د یوه ځوان سړي له خوا تر یوه بریده په کرکجن ډول ترسره شوي، هغه زیاته کړه چې هغه په راتلونکو ټولو ټاکنو د یوې ښځینه نوماندې لپاره خپله رایه کاروي، ځکه چې د ولایت نارینه چارواکي ډېر مایوس کوونکي دي.

## دوهم بکس: ګوښه شوي او مخالفې: ښځې د بامیانو په ولسوالي کې

۱: په دې سیمه کې... ښځې هڅه کوي، چې په حکومت کې ښځینه استازیتوب ولري، ځکه چې هغوي په تیرو وختونو کې ډېرې ځپل شوي او نه غواړي چې له دې وروسته له پامه وغورځول شي. دوي غواړي چې یو لوستی نوماند ولري، څو په ټولنه کې له نورو ښځو سره مرسته وکړي او په راتلونکي کې د هغوي لپاره هم د زده کړو زمینه برابره کړي. ځکه چې نارینه د میرمنو ستونزو ته پاملرنه نه کوي، او موږ په دې پوهیږو کله چې نارینه په کور کې وي هغوي د ښځو د ستونزو هیڅ پروا نه ساتي. دا د نارینه نوماند لپاره خورا ستونزمنه ده، چې د دغو مسلو په اړه سوچ وکړي. نو له همدې امله موږ هڅه کوو، چې یو ښځینه استازیتوب ولرو. د مثال په ډول، کله چې نارینه کور ته راشي او له ښځو وپوښتي، چې نن ورځ یې کوم کارونه ترسره کړي، ښځې ورته په ډیرې مهرباني سره ځواب ورکوي. خو کله چې ښځه له نارینه څخه وپوښتي چې نن یې له کور څخه بهر څه کړي، نارینه وایي، "په دې کې ستا هیڅ کار نشته، ته یوازې یوه ښځه یې، ته باید په کور کې پاتې شي او خپل کارونه پر مخ یوسي. بیا له ما څخه دا ډول پوښتنه و نه کړي."

۵: زه له [۱] سره موافقه یم، ما لیدلي چې زیاتره سړي په نادولتي موسسو، دولتي ادارو او نورو ځایونو کې کار کوي، هغوي په مختلفو غونډو کې ګډون کوي، او هغوي له ټولنې سره تړلي، هغوي خورا زیات معلومات او تجربې لري. خو له بده مرغه هغوي هیڅکله هم دغه ډول موضوعګانې له موږ سره نه شریکوي.

۲: دا د دې ټولنې حقیقت دی. د مثال په ډول، کله چې موږ په ټاکنو کې ګډون کوو، موږ له خپلو میړونو سره په دې اړه بحث کوو، چې موږ باید د چا لپاره خپله رایه ورکړو. خو له بده مرغه زموږ میړونه او کورنۍ دغه کار نه خوښوي، هغوي له موږ سره خپلې بهرنۍ تجربې نه شریکوي.

۷: کله چې موږ له خپلو میړونو څخه پوښتنه وکړو، چې په ټولنه کې څه روان دي، هغوي موږ توهینوي او وایي، چې "په دې کې ستا کار نشته، خپل د کور په کارونو تمرکز وکړه." زموږ په ټولنه کې ښځې نه شي کولای خپل ځانونه مطرح او خپلې وړتیاوې ښکاره کړي. کله چې موږ له خپلو میړنو سره خبرې کوو، هغوي وایي، چې "لطفا چوپ شه، د ملا په څیر خبرې مه کوه او دا هڅه هم مه کوه، چې حالات تحلیل کړي." همدا عمده لامل دی چې ښځې راټولې شوي او پریکړه یې کړې چې ښځینه استازیتوب ولري.

د بامیانو په ولسوالي کې له دریو ځوانانو سره له ګروپي مباحثو څخه ترلاسه شوي، چې دوه یې د منځنې عمر درلودونکي او دوه نورې یې مسنې وې.

د بامیانو او د کابل د ګلدرې د څیړنو په ساحو کې د ښځینه مرکه ورکوونکو ترمنځ یو پراخ باور موجود و، چې ښځینه نوماندانو ته رایه ورکول د هغوي په ګټه ده. په نړدې ټولو قضیو کې، دا په دې احساس باندې ولاړ و، چې ښځینه استازې د میرمنو د ستونزو په وړاندې زیاتې خواخوږې او ځواب ورکوونکې دي. په ځانګړي ډول، دوي دا احساس کاوه، چې هغوي له ښځینه نوماندانو سره د نارینه وو په پرتله د اړونده مسلو په اړه د خبرو اترو په ترسره کولو کې هوسا او ارامې وي (دغه حقیقت همدارنګه د یو شمېر نارینه وو له خوا هم په ډاګه کړای شوي). په ګلدره کې یوې زړې میرمنې دا څرګنده کړه، «چې زیاتره میرمنې له خپلو کورنیو سره ستونزې لري، هغوي دا څرنګه له یوه نارینه نومانده سره شریکې کولای شي؟ موږ دا موضوع درک کړه او فوزیې [ناصری ګلدره یي] لپاره رایه ورکړه، ځکه چې هغه کولای شي زموږ ستونزې راحل کړي.» په دریواړو ټولنو کې، میرمنو په سیمه کې له ښځو سره د ښځینه نوماندانو د ملاتړ د وړاندې کولو پخوانۍ کړنلارې په نښه او روښانه کړې. که څه هم، په ځانګړی ډول د بامیانو په ولسوالي کې، دغه مثبت لاملونه د هغه درک له لارې تقویه شوي، چې ښځې په بشپړ ډول د هغوي په ټولنو کې د پریکړې نیولو له پروسې څخه بې برخې شوي، چیرې چې دوي اړتیا درلوده، چې د خپلو غږونو د رسولو لپاره یوه بله بدیله چاره پیدا کړي (دوهم بکس وګورئ).

ټولې دغه بیلګې په بالقوه ډول ارزښتناکې او همدارنګه له ځانګړو اړتیاوو سره د یوې انتخاباتي حوزې د جدا او مشخصو موکلانو په څیر د ښځو د شتون (او ځاني خبرتیا) وړاندیز کوي، چې کیدای شي ځینې وختونه له خپلو ټولنو څخه جدا شي. خو له دې سره سره، دا باید په پام کې ونیول شي چې د ښځینه نوماندانو لپاره د ښځو د رایې ورکولو احساس په هغو کوچینو ټولنو کې خورا پیاوړی و، چیرې چې پیژندل شوي ښځینه نوماندې ټاکنو ته ولاړې وې. په داسې حال کې چې د بلخ له دهدادي او په کابل کې له دشتې برچي څخه ښځینه نوماندانې د ټاکنو لپاره ولاړې وې، د دغو ټولنو شډل او کلیوالي طبیعت دا مانا لري چې د ټولنې اړیکې په غښتلي ډول سره نه دي پیرل شوي، ځکه مرکه ورکوونکو دا احساس نه درلود، چې د هغوي نوماندان هم ټاکنیزې سیالۍ پر مخ وړي. د دې بر عکس په شورتپه کې هیڅ یوه ښځینه نوماندہ نه وه کاندید، او په سیمه کې د نورو ښځینه نوماندانو کمپاینونه هم په زیاته کچه محدود وو، چې د دې په پایله کې، میرمنو د هغوي له نورې ټولنې سره یو ځای یوه پیژندل شوي نارینه نوماند ته خپلې رایې ورکړې.

پیژندګلوي یوه له هغو وړتیاوو څخه ده، چې کولای شي د رایه ورکونکو په سترګو کې د نوماند د جنسیت پوښتنه کم رنګه کړي. د ښځینه نوماندانو لپاره، رایه ورکوونکې د هغوي له جنسیت ها خوا و دې ته ګوري چې هغوي د دې پوتنسیال لري، چې له دواړو لارو څخه تیرې شي که نه. په ګلدره او یکاولنګ کې، یو څو سړیو دې ته اشاره کړې، چې وګړي اړ وو د ښځینه نوماندې له جنسیت څخه پرته و بل شی ته پام وکړي، ځکه چې هغه یوه محلي نومانده وه. په ګلدره کې یوه سپین ږیري سړی وویل: "هغه د زموږ د سیمې وه، نو ځکه مو هغې ته رایه ورکړه. دا به ډیر د شرم ځای وای، که چیرې رایه ورکوونکو له هغې پرته نورو ته خپلې رایې ورکړې وای." په شورتپه کې د دې بر عکس، ښځو د دې هیله ښکاره کړه، چې یوې ښځینه نوماندې ته رایه ورکړي، خو هغوي په دې و نه توانیدلې، ځکه چې ټول محلي نوماندان نارینه وو او په سیمه کې هیڅ یوې ښځینه نوماندې کمپاین ترسره نه کړ. په څرګند ډول، څیړنې د ښځینه رایه ورکوونکو له خوا د هغوي له سیمې څخه د باندې د ښځینه نوماندانو د غوره کولو هیڅ یوه بیلګه تر لاسه نه کړه، آن د بامیانو د ولسوالي په څیر په ځایونو کې، چېرې چې په ټول ولایت کې په فعال ډول کمپاینونه ترسره شوي وو. دا ښایي خورا مهم وي، کله چې د دغه حقیقت په رڼا کې ملاحظه شي، چې په زیاتره ولایتونو کې د ۷۰ او ۹۰ سلنې ترمنځ، ښځو د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې د نارینه وو لپاره رایې ورکړې وې، دغه سلنه دا په ډاګه کوي، چې د ښځو لپاره د پیژندګلوي په څیر فکټورونه د جنسیت په پرتله د هغوي د انتخاب په ټاکلو کې ستر رول لوبوي.

همدارنګه یو شمېر نارینه مرکه ورکوونکو دا احساس کاوه، چې د ښځینه نوماندې کورنی شامنظر د هغوي د جنسیت ترڅنګ د دې لامل شوي، چې هغوي دفتر ته لار ومومي. په یکاولنګ کې یوه نارینه مرکه ورکوونکیداسې څرګندوله، چې د هغوي د ټولنې د پارلمان ښځینه غړي غیر مؤثره ده، ځکه چې هغه یوه ښځه ده او په ضمني ډول یې داسې ښکاره کوله چې هغې د خپلې کورنۍ د نارینه وو ځواکمنو خپلوانو په ملاتړ په تګۍ ټاکنې ګټلي؛ همدارنګه یوه بل شخص وویل، چې هغې ته یې د هغې د کورنۍ په ځمکې د څړ د حق له لاسه ورکولو د ویرې رایه ورکړې. په دهدادي او دشتي برچي کې نارینه مرکه ورکوونکو د داسې بیلګو یادونه وکړه، چیرې چې ښځینه نوماندانې هغوي ته ډیرې اشنا او نامي نه وي، خو ټاکنې یېوګټلي، ځکه چې له ځواکمنو قبیلو/قومونو څخه وې.

## د پریکړې نیولو پروسې

لکه څرنګه چې پورته تشریح شوه، د جندر د اندیښنو او نورو لومړیتوبونو ترمنځ اړیکه د دې په ټاکلو کې خورا مهمه وه، چې اشخاص د هغوي د راتلونکو نوماندانو په اړه څرنګه احساس کوي. په افغانستان کې له دې سره سره، په دې اړه پریکړه کول چې د چا لپاره رایه وکاروي پروسه تل یوازې د اشخاصو له خوا نه ساتل کیږي. څرنګه چې په لومړی بکس کې واضح شوي، افغان رایه ورکوونکي ددې تمایل لري، چې په بلاکونو کې راټول بیا د کورنۍ له واحدونو نیولې تر ټولنې تر ټول قوم پورې د نوماندانو د غوره کولو پر مهال تنظیم شي. په نتیجه کې، د دې توافق ترلاسه کول چې د چا لپاره باید رایه وکارول شي د دې لپاره مهم ګڼل کیږي، څو دا یقیني کړای شي چې د ټولنې رایه نه ده ویشلې یا په بشپړ ډول له استازیتوب څخه نه ده پاتې شوې. پر دې سربیره، د ټولنې په سیاسي ژوند کې د نارینه وو فوق العاده واک دا مانا لري، چې عمده پوښتنه په دې پورې تړلې، چې ښځې په دغه ډول هر اړخیزه پریکړه نیونه کې څومره فعاله رول اخیستلای شي.

د کورنۍ په کچه، په دې کې لیږ څه اختلاف موجود و، چې د رایې ورکونې په اړه څرنګه مباحثې ترسره شوي. په بلخ او بامیانو کې کم شمېرسړیو او ښځو دا توضیح کړه، چې څرنګه د هغوي په کورنیو کې هر شخص ازاد پرېښودل شوي چې انتخاب په خپله وټاکي، لکه څنګه چې د رایې ورکونې چاره یوه شخصي موضوع ده. په داسې حال کې چې دغه موضوع په دهدادي کې د یوې ځوانې میرمنې له خوا داسې بیان شوې، «موږ د دې موضوع په اړه پخپلو کې بحث نه کوو. موږ د یو په بل مخ کې دا مو رایه ورکړې او هغه بیا ټاکنې و نه ګټې، بیا به څه پیښ شي؟» یو شمېر سړیو په دې اړه خبرې کړي، چې هغوي څرنګه د یوې هر اړخیزې پریکړې له لارې په خپلو کورنیو کې یوې موافقې ته د رسیدو هڅه کړې. که څه هم په قضیه کې، پریکړه په ساده ډول تحمیل کړای شوې وه. په دشته برچي کې دریو سړیو په ښکاره وویل، چې هغوي په خپلو کورنیو کې ښځو ته ویلي، چې څرنګه رایه ورکړي. په شورتپه کې یوې ځوانې ښځینه مرکه ورکوونکې راپور ورکړ، چې دا د هغې خوابښې وه، چا چې په کور کې نورو ښځو ته د امر کولو مسوولیت اخیستي و، چې په یوه مشخصه لار رایه واچوي.

له یکاولنګ پرته د څیړنې په ټولو ساحو کې، نارینه مرکه ورکوونکو په دې اړه خبرې اترې ترسره کړې، چې د هغوي د ټولنې غړو له یو لړ عامه مباحثو وروسته په دې اړه څرنګه پریکړه و نیوله، چې خپله رایه د چا لپاره وکاروي. که څه هم، داسې کومه بیلګه نه ده وړاندې شوي، چې ښځینه رایه ورکوونکو دې په دغه ډول غونډو کې برخه اخیستې وي. په داسې حال کې دا شونې ده، چې نورو ښځو به برخه اخیستې وي، که په افغانستان کې د جنډر پر بنسټ مسلطو ابعادو ته پام وکړو، منطقي برېښي که ووایو، چې دغه شمېر ښځو په دا ډول مباحثو کې تر ټولو غښتلی رول درلود. په پایله کې هغه پریکړې چې د دغه ډول مباحثو په نتیجه کې نیول کیږي، د ښځو لومړیتوبونه او اړیتاوې نه منعکس کوي، حتی که په داسې پیښو کې ښځینه نومانده انتخاب شوي هم وي، لکه څنګه چې د بامیانو او ګلدرې په ولسوالیو کې رامنځ ته شول.

په پایله کې، دا یو حقیقت دی چې اشخاص کولای شي کله چې د رایې اچونې بکس ته ودریږي او هر هغه چا ته رایه ورکړي، چې هغوي یې غواړي، لکه څرنګه چې دا له اوو ښځینه مرکه کوونکو سره په مرکو کې منعکس شوي، هغوي په خپل دریځ ثابتې وې او ویل یې، چې دا د هغوي او یوازې د هغوي پریکړه ده. خو سیاسي حقیقت داسې دی، چې ځینې ټولنې چې له کامیابو نوماندانو سره اړیکې لري، رسمي سرچینو ته د هغو نوروپه پرتله چې دغه ډول اړیکې نه لري، بهتر لاس رسي لري، په داسې شرایطو کې هر شخص چې د هغه نوماند په خلاف رایه ورکوي، چې ټولو پرې موافقه کړې وي باید خپله دغه پریکړه د هغه حالت په وړاندې وسنجوي چې د رایو د ویش په پایله کې دغه وګړي د ټولنې له هغې پریکړې سره مخامخ کیږي چې نه غواړي له لاسه یې ورکړي.

د بامیانو په ولسوالي کې یوازې په یوه پېښه کې، ښځې راڅرګندې شوې، څو په دې اړه هر اړخیزه پریکړه ونیسي، چې د چا لپاره خپله رایه وکاروي، چې ظاهرا یې د نارینه وو له خوا تر واکمنې شورا څخه په خپلواک ډول عمل ترسره کولو. هلته ښځو راپور ورکړ، چې هغوي پخپلو کې راټولیږي (که څه هم په داسې غونډه کې چې د عقیله حسیني د ولایتي شورا د نوماندې د کمپاین کوونکو له خوا برابره شوې وه) او د دې په اړه هر اړخیزه پریکړه کوي، چې په ځانګړي ډول د یوې ښځینه نوماندې لپاره خپله رایه وکاروي، وروسته له هغې چې هغوي دا احساس کړه، چې په خپلو ټولنو کې له پریکړې نیولو څخه محرومې شوي (دوهم بکس وګورئ).

## ٤,٤ معلوماتو ته لاس رسی

په ټولیز ډول، ښځینه رایه ورکوونکې چې د دغې څیړنې لپاره ورسره مرکې ترسره شوي، له دریمې برخې څخه زیاتې یې نا لوستې وې. د دې بر عکس، د نارینه وو ورته تناسب، لیږ تر لیږه لومړنې زده کړې درلودې. د څیړنې په ټولو سیمو کې د ستونزې په شدت او له هغې څخه په اغیزمن شویو وګړو کې توپیرونه موجود وو: په شورتپه کې د ښځو د سواد کچه په اغیزمن ډول صفر وه؛ د بامیانو په دواړو ساحو کې د مسنو نالوستو ښځو او د هغوي له دولسم څخه د فارغو شویو لونو ترمنځ نسلي ویش موجود و؛ همدارنګه د دهدادي او دشتي برچي په کلیوالي سیمو کې، چیرې چې ښوونیزو امکاناتو ته لاس رسي شونی و، د موضوع په اړه کم بحث ترسره شوی.

### روزنه او د ادارو له خوا ملاتړ

د پام وړ خبره دا ده، چې یوازې اتو ښځو د دې راپور ورکړی، چې هغوي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون یا د غیر دولتي موسسو له خوا د عامه پوهاوي له تنظیم شویو پروګرامونو څخه ګټه اخیستي. څلور نورې یې په ۲۰۰۴ کې په شورتپه کې د ښځو د ټولنې د پرمختیایي شورا د مشر له خوا روزل شوې وې (دلته د یوه مرکه کوونکي هم نه وو په یاد چې د ۲۰۰۹/۱۰ په ټاکنو کې دې د عامه پوهاوي کوم پروګرام ترسره شوي)، په یکاولنګ کې یوې ښځې په ناڅرګند ډول وویل، چې یو څوک به دلته راتلو او د ښځو لپاره به یې د ټاکنو پروسه تشریح کوله، همدارنګه د بامیانو او ګلدرې په ولسوالیو کې دوو نورو میرمنو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پوسترونو د کتلو مساله یاده کړه، چې د رایه اچونې پروسه یې بیانوله. د بامیانو په ولسوالۍ کې یوازې یوې ځوانې ښوونکې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا ترتیب شوې روزنیزه غونډه او څه چې په هغې کې تیر شوي وو، په یاد وه. د دې بر عکس، په ټولو ولایتونو کې ۱۴ نارینه مرکه ورکوونکو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون، د ملګرو ملتونو او نورو نامعلومو سازمانونو، او جوماتونو د ملا امامانو له خوا د مستقیمې روزنې د تر لاسه کولو په اړه معلومات ورکړل. له دې څخه داسې معلومیږي، کله چې د څیړنو په سیمو کې په حقیقت سره رسمي د عامه پوهاوي پروګرامونه موجود وو، هغوي ته د ښځو لاس رسي، په ځانګړي ډول د نالوستو هغو، خورا محدود او کم و.

د جندر د ښځو د خوځښت منع کوونکي نورمونه د ښځو د کمې کچې روزنې د تر لاسه کولو عمده لاملونه دي– زیات شمېر ښځو دا څرګنده کړه، چې هغوي د دې جوګه نه وې، چې له کورنو څخه ووځي او په روزنه کې ګډون وکړي، په داسې حال کې چې په ګلدره کې یوه شمېردا توضیح کړه، چې روزنه یوازې د نارینه وو لپاره وه– چې په احتمالي ډول د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د روزنې د ترسره کولو هغه طرز العمل منعکس کوي، چې روزنه به یې یوازې د نارینه وو لپاره د دې فرضیې په اساس ترسره کوله، چې ګواکې هغوي به بیا دغه معلومات په خپلو کورنیو کې له ښځو سره شریکوي. د بامیانو په ولسوالي کې داسې څرګندیږي، چې د جندر دغه منعه کوونکي نورمونه روزنې ته د محدود لاس رسي سره ضمیمه شوي؛ د نارینه وو په ګروپي مباحثو کې ګډونوالو دا تشریح کړه، چې هغوي څرنګه وتوانیدل چې د بامیانو په ښارګوټي کې په روزنه کې ګډون وکړي، ښځې په عام ډول، په دې و نه توانیدلې چې ګډون وکړي، ځکه چې ښار لیرې و او د هغوي لپاره سفر کول ستونزمن و.

په شورتپه کې، د ښځو له خوا نابسیا تر لاسه شوي روزنه همدارنګه د افغان او نړیوالو نادولتي ادارو له خوا د کارول شوې کړنلارې بالقوه موانع په ډاګه کوي، تر یوه مشخص حده پورې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا، کوم چې په ټاکنو کې د روزنکو د هر اړخیزه او اوږد مهال روزنې، دایمي ګمارنې او د عامه پوهاوي د پروګرام په وړاندې خنډ ګرځي. هلته، دواړو روزونکو او هم زده کوونکو دا درک کړه، چې روزنه د نالوستو خلکو د اړتیاوو لپاره بسیا نه ده، څوک چې یې له امله مغشوش پاتې شوي وو. دغه مثال، پخپله د روزونکو د لا زیاتې اغیزمنې څارنې اړتیا په ډاګه کوي، لکه څرنګه چې له دې پرته بله داسې کومه لار نشته، چې د هغوي له خوا د برابریدونکې مرستې اغیزمنتوب معلوم کړي.

په ځانګړي ډول په بامیانو کې، مرکه ورکوونکو همدارنګه هغه ننګونې په نښه کړې، چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارمندان ورسره په انتخاباتي حوزو کې د ټاکنو په ورځ له مغشوشو رایه ورکوونکو سره د مرستې کولو پر مهال پخپله مخ شوي وو. لکه

څرنګه چې په یکاولنګ کې یوې ښځې چې له دغه کمیسیون سره یې کار کاوه په ډاګه کړې، چې د ټاکنو په ورځ د ټګۍ ګواښ او په عام ډول د شک فضا په دې مانا و، چې هغوي په عمل کې ډیر لیږ څه درلودل چې له رایه ورکوونکو سره مرسته وکړي:

> موږ د ټاکنو په ورځ رایه ورکوونکو ته لارښوونه و نه کړای شوه. دا د دې امله چې په هغه ورځ د مختلفو نوماندانو زیات شمېر استازي د څارونکو په څیر موجود وو. که چیرې موږ د کمیسیون د کارمندانو په څیر وګړو ته ښودله چې د چا لپاره رایه وکاروي، څارونکو به موږ ملامت کړی وای...او دا به یې ویلي، چې موږ د یوه ځانګړي نوماند ملاتړ کاوه. زما په یاد دي، چې رایه ورکوونکو موږ ته د لارښوونې اجازه نه راکوله. هغوي ویل «دا زموږ خپل حق دی، څو دا غوره کړو چې د چا لپاره رایه ورکړو.

د دواړو رایه ورکوونکو او نوماندانو له خوا د څېړنې په ولایتونو او همدارنګه په نورو وروستیو مطالعو کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په اړه د څرګند شوي زیات بې باورتوب په پام کې نیولو سره، دا شونې ده چې دغه موضوع کیدای شي په هرو راتلونکو ټاکنو کې د پام وړ ننګونه رامنځ ته کړي.

## رسنۍ

یولسو ښځو په رسنیو کې د عامه پوهاوي خبرتیاوې او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا تمویل شوي ډرامې د معلوماتو د عمده سرچینې په څیر تشریح کړې (همدارنګه هڅونه، لکه څرنګه چې په ۲.۴ برخه کې وړاندې کړای شو). دغه ټول په تلویزیون باندې کتل شوي؛ یوازې دوو مرکه ورکوونکو د رادیو له لارې اوریدلي، خو په ورځپاڼو کې هیڅ کوم یوه نه دي لوستي. ځواب ورکوونکو چې دغه معلومات او لارښوونې یې کتلي یا اوریدلي، خورا مثبت ګڼل. د بلخ په دواړو ټولنو کې، ښځې د ټاکنو په اړه د ټاکنو د کمیسیون له خوا منظم شوې ډرامې او د هغو اهمیت په یاد لري. دغه نوي نوښت چې د افغان میرمنو لپاره یې نوي فرصتونه برابر کړل، په شورتپه کې یوه مسنه ښځه وهڅوله او ویې ویل، «اوس ترکمنې میرمنې په دوزخ کې اوسي، خو موږ څه ازادي تر لاسه کړې، ځکه موږ دا زده کړې چې نور وګړي څرنګه ژوند کوي.» دوه ښځینه مرکه ورکوونکو په بامیانو او یوې هغې یې په کابل کې هم په دې اړه څرګندونې وکړې، چې څرنګه تلویزیون په نورو هیوادونو کې ټاکنې تر پوښښ لاندې راولي، په ځانګړي ډول په ایران کې، او د بریالیو ټاکنو د ترسره کولو او د یوه منظم او ښېرازه هیواد د درلودلو ترمنځ تړاو پر هغوي ژوره اغیزه درلوده.

که څه هم تلویزیون ته لاس رسي په عام ډول په کم شمېر شتمنو کورنیو پورې محدود و. بریښنا هم د ورځې په اوږدو کې یوازې یو څو محدودې ګړۍ موجودهوي، تلویزیون هم د کورنۍ نارینه غړو ځانته کړی وي او ورځنۍ پیښې خورا مهمې او لومړیتوب نه ګڼل کیږي. لکه چې دغه څرګندونې د بامیانو په ولسوالي کې د یوې میرمنې له خوا ترسره شوې:

> موږ یوازې د شپې له خوا بریښنا لرو، او زیاتره وګړي د سټالایټ تلویزیون کاروي، هغوي په خبرونو کې ډیره لیوالتیا نه لري، ځکه چې موږ د کافي وخت لپاره بریښنا نه لرو، څو د افغانستان په اړه په خبرونو تمرکز وکړو. زیاتره وګړي ډرامې او فلمونه ګوري.

یو شمېر نارینه وو دا احساس کاوه، چې رسنیو ته د یوه شخص لاس رسی عمده ستونزه نه وه لکه څرنګه چې دا په ټولنه کې د ټاکنو په اړه په پراخ ډول خپور شوی و، چیرې چې معلومات په چټک ډول له یوې کورنۍ څخه و بلې ته او په عامه مباحثو کې لیږدول کیدل. سره له دې چې په نا حیرانوونکې ډول په ټولنیزې ښکیلتیا کې د سړیو په پرتله ښځو ته کمې ورکړل شوې اندازې او د سړیو له خوا هغوي سره د معلوماتو نه شریکولو میلان، هغه ننګونې وې، چې په نادره توګه د ښځینه ورکوونکو له خوا یادې شوې وې.

دغه حقیقت مهم دی چې کم شمېر مرکه ورکوونکو په ډاګه کړې چې هغوي معلومات د راډیو له لارې تر لاسه کړي، لکه څنګه به چې په پخوا وختونو کې د راډیو خپرونې د عامه پوهاوي عمده اجزاوې د ټاکنو د کمیسیون او نورو ادارو لکه د بې بې سی د افغاني ښوونې پروژې په همکارې، له ټاکنو څخه تشکیل وې. د دغې څېړنې د معیاري څرنګوالي په پام کې نیولو سره، دا نا شوني ده چې په ټول هیواد کې د راډیو د کارونې په اړه لا زیاتې وړاندوینې او قیاسونه ترسره شي. که څه هم دغه موندنه په دې اړه د لا زیاتو څېړنو د ترسره کولو بیړنۍ اړتیا څرګندوي، څو معلومه شي چې څومره اندازه ښځې په حقیقي ډول راډیو ګانو ته لاس رسي لري، او همدارنګه دا یقیني کړای شي چې د راتلونکي عامه پوهاوي هڅې د ناسمو انګیرنو له مخې نه دي ترسره شوي.

## په ټولنه کې معلوماتو ته لاس رسی

ښځې په خپلو ټولنو کې په نسبي ډول په ټولنیزو دوایرو پورې محدودې دي- په عادي ډول د هغوي په ښځینه ملګرو او زیاتره مستقیما په خپلو کورنیو پورې- زیاتره هغوي له هغو غیر رسمي ټولنیزو ښکیلتیاوو او مباحثو څخه محرومې شوي، چې د ټاکنو د څرنګوالی، نوماندانو او داسې نورو اړونده موضوعګانو په اړه په کې بحثونه ترسره کیږي. په زیاتره قضیو کې، کله به چې د یو څه په اړه له ښځینه مرکه ورکوونکو څخه وپوښتل شول، له دغې ناهیلۍ سره به مخ کیده «زه څه پوهیږم؟ زه خو ټوله ورځ په کور کې یم او د کور کار کوم.» د بلخ او په کابل کې د دشتي برچي د څېړنو په دواړو سیمو کې، ښځو په دې اړه معلومات ورکړل، چې هغوي د نوماندانو د کمپاینونو په غونډو کې له ګډون څخه منع شوي، ځکه چې د هغوي په ټولنه کې دې ته په ښه سترګه نه کتل کیږي چې ښځې او سړي دې په عامه ځایونو کې سره ګډ وي. یو شمېر ښځو دا هم څرګند کړه، چې د هغوي د کورنۍ نارینه غړو څرنګه له هغوي سره د ټاکنو په اړه د مباحثې مخالفت کولو، په ځانګړی ډول د بامیانو په ولسوالي کې. یو شمېر ښځو دا هم څرګنده کړه، چې ټاکنې په عام ډول د هغوي لپاره کوم لومړیتوب نه و، ځکه چې د هغوي جنسیتي تعیین شویو فعالیتونو- د مثال په ډول د ماشومانو روزنه، د خواړو تیارونه او د کورنۍ تنظیمونه- د هغوي لپاره د نورو شیانو د ترسره کولو لپاره ډیر محدود وخت ورکړی.

### دریم بکس: لوستی نسل

د یکاولنګ په دره کې د څېړنې ټولنه په هغه ځای کې موقعیت لري، چېرې چې د سیمې لیسه نږدې اتیا کاله پخوا د امان الله خان په وخت کې تاسیس شوې. دغې د نږدې ۱۸۰۰ زده کوونکو لیسې په تیرو لسیزو کې د څېړنې په ساحه زیات شمېر نجونې او هلکان فارغان کړي. همدرانګه د بامیانو په نورو برخو کې، په ځانګړي ډول له ۲۰۰۱ څخه وروسته کله چې هغوي د خپلو ماشومانو د ښوونې او روزنې امتیاز تر لاسه کړ، هزاره کډوال بیرته یکاولنګ ته را وګرځېدل او د کرزي د دوري نسبي سوله یې د خپل حیثیت د اصلاح لپاره د هیواد په قومي دلګۍ کې تر کلونو ځپنې وروسته، یو ښه فرصت بللو. که څه هم، په داسې حال کې چې ټولنې باید په کلونو انتظار وباسي، څو په مناسب ډول ښوونې ته لاس رسي پیدا کړي، په ځانګړي ډول د نجونو لپاره، د یکاولنګ د ټولنې اوسیدونکو په ښه ډول تاسیس شوې لیسې ته نږدې چټک لاس رسي پیدا کړ. چې په پایله کې یې د ۲۰۱۱ تر پای، دغه کلی د لوستو ځوانو وګړو د بشپړ نسل کور و، یوه داسې پدیده چې د ښځو د سیاسي ګډون لپاره یې مهمې پایلې له ځان سره درلودې.

په ښوونځي کې د نجونو تجربو د انتخاباتي پروسې د عملي کیدنې پوهاوي او په دغه پروسه کې د ګډون کولو له لارې هیواد ته د خدمت کولو ریښتیني احساس، ترویج او غښتلي کړ. د ټاکنو پر مهال، لیسه د کمپاین د فعالیتونو د پام وړ تمرکز کې واقع شوه، څرنګه چې نوماندانو هڅه کوله چې تر شوني حده زیاتو خلکو ته ځان ورسوي. د ښوونځي ښځینه ښوونکې تشریح کړه، چې "له دغه طریقه" به کوچنیان او لویان د هغوي پیغامونه واوري. کله چې ماشومان له ښوونځي څخه کور ته لاړ شي، هغوي به د کور نور غړي په دې خبر کړي چې نن په کمپاین کې څه پیښ شول. په داسې حال کې چې د څېړنې په نورو سیمو کې هم په ښوونځیو کې کمپاینونه ترسره شوي، خو په کومه طریقه چې په یکاولنګ کې مباحثه ترسره شوه، داسې څرګندوي، چې هلته یې خورا مهم او څرګند رول لوبولي. په دې برسیره چې د ښځینه او نارینه دواړو نوماندانو لپاره د جندر په بنسټ د یوې مناسبې او بې پلوه فضا په رامنځ ته کولو سره چې په کمپاین کې برخه واخلي، مرکه ورکوونکو بیا هم دې ته اشاره وکړه، چې په ښوونځیو کې د کمپاین اهمیت ښایي د هغو کمپاینونو اهمیت کم کړي چې د نارینه وو له خوا تر کنترول لاندې وو، لکه د رایه ورکوونکو د خوشحالۍ لپاره د غوړو ډوډیو برابرول. د نوماندانو له خوا له زده کوونکو څخه د یوې ستراتیژیکې سرچینې په توګه استفاده کول– په ځانګړی ډول ځوانې نجونې– د دې لامل شو، چې دوي د ټولنې د راتلونکي په اړه د سیاسي مباحثو مرکز وګرځي او دوی ته یې د دې فرصت ورکړ، چې هغو برخو ته لاس رسي پیدا کړي چې په معمول ډول د لویانو لپاره میسر وي.

په پراخ ډول د ټولنې لپاره، لوستو ماشومانو د رایه ورکوونکو د روزنې لپاره له هغه څه څخه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون یا نړیوالو سازمانونو برابر کړي وو، زیاتې اغیزمنې وسیلې وړاندې کړې. زیات شمېر مرکه ورکوونکو په دې اړه خبرې وکړي، چې څرنګه زده کوونکو د رایه اچونې فیزیکي پروسه او د هغو ارزښت یې خپلو میندو پلرونو ته تشریح کړ (دغه چاره د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ په ټاکنو کې په ډاګه شوی لکه څرنګه چې د هغو ماشومان شمېر هم لوړ شوی څوک چې ښوونځیو ته ځي یا ور څخه فارغیږي). په ځانګړي ډول دا د هغو مسنو میرمنو لپاره، څوک چې معمولاً نالوستې وې او په ندرت سره له خپلو کورنیو څخه د باندې له ټولنې سره کمې اړیکې لري، خورا ارزښتناک و، څو دا یقیني کړای شي، چې د هغوي رایې په اغیزمن ډول سره کارول شي.

په داسې حال کې چې په عام ډول ښځینه مرکه ورکوونکې د جنډر د دغه ډول له کمو محدودیتونو سره مخ وې– ځینې وختونه د هغوي په کورنیو کې ازاده فضا د نالوستو رایه ورکوونکو له څرګندو بدمرغیو سره پرتله کول– خو په قطعي توګه ورڅخه خوندي هم نه وې. په ځانګړي ډول، په دهدادي کې د ښوونځي یوې ښوونکې په ډاګه کړه، چې څرنګه د خپلو محافظه کارو ورونو له خوا د کمپاین په غونډو کې له ګډون کولو څخه منع شوې ده، بیا وروسته یې د انتخاباتي پروسې د تخنیکي مسلو او د هغو مباحثوپه اړه خپله ناخبري څرګنده کړه، چې د هغې په ټولنې کې ترسره شوي:

> ما په یوه کمپاین کې هم ګډون نه دی کړی، ځکه چې دا زموږ د کلتور برخه نه ده، چې یوه ښځې دې له کور څخه ووځي او په داسې غونډو کې دې ګډون وکړي. ما په دې اړه یوازې له خپلو ورونو څخه اوریدلي... موږ ډیر سختګیر خلک یو. په نورو ځایونو کې ښځې ازادې دي، هغوي چې هر څه وغواړي کولای یې شي. خو دلته دا شرم دی، چې ښځه د سړیو پرته له کور څخه ووځي. که چیرې کومې ښځې له کور څخه وځي، خلک د هغوي سړیو ته سپکاوی کوي، او هغوي ته ښځینوکي وایي، ځکه چې هغوي خپلو ښځو ته له کور څخه د باندې د تګ اجازه ورکوي.

خو له دې سره سره، د هغو خلکو لپاره چې دې ته یې لاس رسي درلود، کورنۍ مباحثې او د کمپاین غونډې د معلوماتو مهمې سرچینې وې، خاصتا د رسمي عامه پوهاوي یا د رسنیو د پوښښ د نه شتون پرمهال. همدارنګه د ښوونځي د زده کوونکو پر هغې طریقې مهم بحثونه وشول، چې خپلو میندو او پلرونو ته به یې لارښوونه کوله، په ځانګړي ډول د بامیانو د څېړنې په ساحه کې. په یکاولنګ کې، دوو مسنو میرمنو چا چې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ په ټاکنو کې خپلې رایه پاڼې خرابې کړې وې، وویل، چې هغوي ته د هغو ماشومانو له خوا په عملي ډول دا ښودل شوې، چې د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې خپله رایه څرنګه واچوي. یوې یې داسې څرګنده کړه:

په تیرو ټاکنو کې مې زوې رابنودلې وه، چې څرنګه رایه واچوم او د نوماند نوم څرنګه پیدا کړم. هغه د رایې د پاڼې یوه نمونه کور ته راوړې وه. هغه ما ته د نوماندانو د عکسونو ځای او هغه ساحه چې چیرې باید خپل انتخاب وټاکم، په ښه کړل. په تیرو ټاکنو کې کله چې انتخاباتي حوزې ته لاړم، د رایې پاڼه مې پرانیسته، هغه نوماند مې ولاټوو، چا ته مې چې غوښتل رایه ورکړم او خانه خالي مې ډکه کړه. ما چې څه لیکلي وه، هغه مې بیا وکتل او له ځان څخه مې وپوښتل، چې ایا ما دا کار په سم ډول ترسره کړی.

په دهدادي او په ټول بامیانو کې دوه مرکه ورکوونکو دا توضیح کړه، چې نوماندانو څرنګه دغه ننګونه په خپله ولکه کې راوستې او په ډاګه کړه یې چې دوو ښځینه نوماندانو د ښوونځیو له ماشومانو سره اړیکې پیدا کړې، د مثال په ډول د سر دسمالونه یې وړیا وویشل، په دې هیله چې هغوي به د دوي پیغامونه خپلو کورنیو ته ورسوي. که څه هم دغه سناریو ډیره معقوله نه وه، ځکه چې د طرف د کولو ګواښ په کې موجود و، سره له دې هم ښایي دغه پیښه د هغو ښځو لپاره چې د خپلو کورنیو د غړو له خوا د کمپاین په غونډو کې له ګډون څخه منع شوي، د ژوند یوه ارزښتناکه تجربه وي. د بامیانو په ټولنو په ځانګړي ډول په یکاولنګ کې، ستونزمنه ده چې د فیزیکي او کلتوري تمرکز په څیر په ټاکنیزو فعالیتونو کې د ښوونځیو د اهمیت په ښودلو کې مبالغه وشي (دریم بکس وګورئ).




۲ انځور : د ۲۰۱۰ د ولسی جرګې ټولټاکنو کې ښځې رایه ورکوی ( اعتبار : د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون)

## ۴،۵ د خبرتیا کچې

د څیړنې په ټولو ساحو کې د نارینه او ښځو دواړو ترمنځ پرته له دې چې د ګډون کوونکو ښځو شمېر په پام کې ونیول شي دا احساس موجود و، چې د هغوي د ګډون کیفیت په بالقوه ډول پرلپسې ټاکنې اصلاح کړي. په بامیانو کې یو شمېر ښځو د هغو ستونزو او خنډونو سره د مبارزې په اړه خبرې وکړې، چې هغوي ورسره د ۲۰۰۵ کال د ولایتي شورا او پارلماني ټاکنو پر مهال مخ شوې وې، لکه په پیچلو او اوږدو رایې پاڼو کې د هغوي د خوښې نوماند د پیدا کولو هڅې، د رایې پاڼې ډکول او بکس کې اچول او دې یوې یا دوو مسنو په قضیو کې، د رایې بکس له لمس کولو څخه ویره. د دې بر عکس، د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ په ټاکنو کې د زیات کم شمېر ښځو په اړه د دې خبر ورکړل شوي، چې هغوي په سم ډول د رایه اچونې هڅه کړې وه. په شورتپه او یکاولنګ کې ښځې له دغه ډول ستونزو سره نه وې مخ، حتی نالوستې هم، څه چې د رایې اچونې په حوزو کې پیښیدل ډیر پیچلي نه و. لکه څرنګه چې دغه خبره په یکاولنګ کې یوې نالوستې میرمنې په ډاګه کړه، «رایه اچول اسان کار دی، زیاتې پوهې ته اړتیا نه لري، بس یوازې هغه شخص په نښه کړه، چې ته یې غواړې.»

د مرکه ورکوونکو تر منځ دغې پوښتنې ته، چې دغه اصلاح څرنګه رامنځ ته شوې، یو واحد او عمده ځواب نه و موجود. دا په عام ډول د ټولو ټولنو ترمنځ درک شوې وه، په ځانګړې ډول په بامیانو کې، چې د پوهې د کچو لوړیدل په عام ډول د ښځو د ښې خبرتیا لامل شوي، ترڅو څرنګه خپله رایه وکاروي. پر دې سربیره، نارینه وو په ځانګړي ډول ددې احساس کولو، چې ښځې په تیرو څو کلونو کې د خپلو رایو له بالقوه ارزښت څخه خبرې شوې او همدارنګه د دې لپاره یې زیات زیار کښلی، چې لا په ښه ډول معلومات ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې د دواړو جنډرونو مرکه ورکوونکو داسې انګیرله، چې یو ازاد چاپیریال، په کوم کې چې ښځې او سړي خپلو لوڼو ته ښوونځیو ته د تګ او د خپلو کور ودانو لپاره معلوماتو ته د لاس رسي اجازه ورکوله، د پام وړ رول درلود.

په هر حال، د رایې اچونې له پروسې څخه د ښځو د خبرتیا په برخه کې له ښکاره اصلاحاتو سره سره، دا پخپله معلوماتو ته د هغوي لاس رسي محدودوي او د باخبرو سیاسي فعالینو په څیر په ټاکنو کې د هغوي د برخې اخیستنې د وړتیا په پیدا کولو کې اساسي محدودیتونه ایجادوي. په کلیوالو ټولنو کې د زیاترو ښځینه مرکه کوونکو لپاره پر دې پوهیدل چې څرنګه رایه ورکړي، په دې مانا نه وه، څو په دې پوه شي چې د چا لپاره رایه ورکړي. دا ستونزه په شورتپه کې ډیره تر سترګو کیده، چیرې چې ښځې په بشپړ ډول د ټولنې له سیاسي ژوند څخه ګوښه کړای شوي. په نورو ځایونو کې د ښځو د ګډون کچې د هرو ټاکنو د اهمیت په پام کې نیولو او په دې پورې تړلې چې آیا کوم محلي نوماند ټاکنو ته ولاړ دی او که نه، توپیر درلود. په داسې حال کې چې ښځینه مرکه ورکوونکې د څیړنې په ټولو ټولنو کې لیواله وې چې په دې اړه بحث وکړي، چې په ولسمشریزو ټاکنو کې د چا لپاره رایه ورکړي، د پارلماني او ولایتي شورا د نوماندانو په اړه مباحثې تر ډیره بریده د هغوي له ساحو څخه د شمېرو په پیژندلو پورې محدودې وې. دا ستونزه په هغو ځایونو کې لا څرګنده وه، چیرې چې د ولایتي شورا په ټاکنو کې په نسبي ډول د ښکیلو نوماندانو د کم نفوذ په اړه اندیښنې

موجودې وې. څرنګه چې په یکاولنګ کې د یوې زړې میرمنې له خوا توضیح شوي، «زه د ولایتي شورا ټاکنې نه پیژنم او نه یې پروا کوم. ما یوازې د صیفورې ایلخاني لپاره رایه اچولې. ما یوازې غوښتل چې په ټاکنو کې ګډون وکړم او نور خلک هم په دې پوه شي، چې ما ګډون کړی.»

په لا پراخ او نسبي ډول، ډیر کم شمېر ښځینه مرکه ورکوونکې د پارلمان او ولایتي شورا د رول او ځانګړنو په اړه په اساسي مفهوم پوهیدلې. په داسې حال کې چې ځینو لوستو میرمنو میلان درلود چې لیږ تر لیږه موضوع درک کړي، له ۱۷ څخه ۱۵ مرکه کوونکو چې ور څخه پوښتنه شوې وه، د خپلې بشپړې نا خبرۍ په اړه اعتراف وکړ، ډیرو کمو نورو هغو یې وویل، چې د وګړو د خدمت په موخه یې مسوولیت تعمیم کړای و. په دې اړه نارینه مرکه ورکوونکي لیږ څه ښه وو. دواړو لوستو او نالوستو نارینه مرکه ورکوونکو د دې په ډاګه کولو کې په څرګند ډول وویل، چې د هغوی استازي باید څرنګه او څه باید ترسره (یا نه) کړي– لکه په ټولنه کې وخت تیرول، د پلونو جوړول، د اوبو د حقونو خوندي کول او داسې نور. که څه هم، له ۳۱ هغو نارینه وو څخه چې د موضوع په اړه پوښتنه شوې وه، یوازې نهه یې د استازو د رسمي مسوولیتونو په اړه مفصلې خبرې اترې ترسره کړې، یو شمېر نورو یې دې ته اشاره کوله، چې د پارلمان او و لایتي شوراګانو غړي په تخنیکي ډول د خدمتونو برابرونکي نه دي، په کومه اندازه چې ضروري ده. د چارو دغه وضعیت په احتمالي ډول د هغه حقیقت پایله ده، چې د عامه پوهاوي زیاتره فعالیتونه له ټاکنو څخه یوازې څو میاشتې مخکې ترسره کیږي، او له هغې وروسته د دې لپاره کم وخت لري چې د رایه اچولو ځانګړي بعدونه وڅیړي (د مثال په ډول، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د عامه پوهاوي څانګه په قصدي ډول د خپلو روزنو تمرکز پر دې محدودوي، چې څرنګه رایه اچول کیږي).

په څرګند ډول، له څو لوستو میرمنو پرته، د یوه جنسیت مرکه کوونکي هم په پارلمان او ولایتي شوراګانو کې د ښځو لپاره له اختصاصي څوکیو څخه خبر نه وو، زیاترو به یې د مسلې په اړه د «دولت د موضوع په څیر» بې پروایي کوله.

## مخالفې کیسې: سیاسي پوهه او فعالیت

په داسې حال کې چې د رسمي دیموکراتیکو طرز العملونو په اړه د ښځو (او نارینه وو) بې خبري په یقیني ډول ستونزه زیږونکې ده، د دې د کارونې په اړه دا یو د پام وړ اخطاریه ده، چې لیږ تر لیږه په افغانستان کې د هغوی د سیاسي خبرتیا په باب د پراخو پایلو وړاندوینه وشي. په پایله کې، زیاتره افغان رایه ورکوونکي او زیات شمېر استازي لا اوس هم د پارلمان او ولایتي شوراګانو غړو ته د قانون جوړونکو او د ټولو ولایتونو په استازیتوب د حکومت د نظارت کوونکو پر ځای، هغوی اړونده ټولنو ته د خدمت برابرونکو په څیر ګڼي. له دې سره سره، په محلي کچه د اشخاصو د سیاسي ابعادو پیژندنه کیدای شي په هغه سیاسي حقیقت پورې چې دوي په کې اوسیږي لا زیاته تړلې وي، پر ځای د دې څو پر دې پوه شي چې «سیستم» څرنګه باید کار ترسره کړي، لکه څرنګه چې په اساسي او د ټاکنو په قوانینو کې تاسیس شوی. نو له دې امله دا مهمه ده چې هغه راتلونکي منځګړیتوبونه کوم چې د ښځو د سیاسي ګډون د اصلاح لپاره کار کوي، باید نه یوازې د هغوی د دې درک په اصلاح کولو باندې، چې دغه سیستم په تیوریکي ډول څرنګه کار کوي، بلکې د ټولنې په کچه په سیاستونو کې د نفوذ د پیدا کولو لپاره د هغوی د لاس رسي په زیاتولو هم تمرکز وکړي، کوم چې زیاتره په عمل راڅرخي.

ښایي د اختصاصي څوکیو د سیستم په اړه د رایه ورکوونکو ناپوهي ډیره مهمه وه. دا له دې امله مهمه ده، ځکه چې د سهمیې څوکیو لپاره انتخاب شوي ښځې په عام ډول د نارینه نوماندانو په پرتله یو څو رایو په ذریعه هغه ګټي. په عین وخت کې، دا په دې مانا دی، چې د نارینه نوماند په پرتله د ښځینه نوماندې لپاره د رایې اچول، په تخنیکي لحاظ د بریالیتوب زیات چانس لري، په دغه سیستم زیات پوهیدل به د لیوالو ټولنو ترمنځ دا لیتوالتیا زیاته کړي چې اشنا استازي مصوون کړي، څو له نورو مخکې شي او ښځینه نوماندانو ته رایه ورکړي؛ دا به همدارنګه هغو ښځینه نوماندانو لپاره هم په بالقوه او غښتلي ډول مرستندویه لامل وګرځي، څوک چې د سرچینو له کمښت سره مخ دي–»ما ته رایه راکړئ یا خپله رایه د یوه داسې نارینه لپاره ضایع کړئ، چې د انتخابیدو ډیر کم احتمال لري»– چې د خپلو نارینه رقیبانو په وړاندې یې وکاروي.

د یادونې وړ ده، چې د لوستو مرکه ورکوونکو، مشخصو نوماندانو، حتی د نادولتي موسسو او دولتي کارمندانو ترمنځ دا تمایل موجود و، چې نالوستو ښځو ته به یې د بې ګټې، غیر فعاله وګړو، د غښتلو فعالینو له خوا د کارونې او انحصار کیدو په وړاندې زیانمنیدونکې او په سم ډول د انتخاباتي پروسې په ترسره کولو کې د خنډ په سترګ کتل:

> که رښتینې خبرې وکړو، زیاترو خلکو د نوماندانو له خوا د برابرې شوې مرستې او خدمتونو له امله برخه واخیسته. خلکو دا احساس کړه، چې هغوی نوماندانو ته اړتیا لري، نو ځکه د رایې اچونې لپاره لاړ. دا کار یې د ټاکنو د ارزښت له امله نه دی ترسره کړی. ما د ټاکنو په ورځ زیات شمېر ښځې ولیدې چې د هغو نوماندانو د نښانونو او نومونو په اړه یې پوښتنې کولې، څوک چې د دې سیمې نه وو. زه په دې پوهیږم چې زیاتره دغه ډول نوماندان دغې سیمې ته راغلي وو او خلکو ته یې شیان ویشلي وو.
>
> — ځوانه ښځینه ښوونکې، دهدادي ولسوالي، د بلخ ولایت

> په نورو هیوادونو کې، ډلې خلکو ته د منلو وړ وي، نو ځکه یې ملاتړ کوي، خو په افغانستان کې، وګړي د ډلو د غلامانو په څیر دي. زموږ خلک د سپینو پاڼو په څیر دي، هغوی په دې نه پوهیږي چې کوم شي سم یا نا سم دی.
>
> — د نادولتي موسسې ښځینه کارمنده، د بامیانو ولایت

> فکر کوم چې یوشمېر نوماندانو له بې وزلو او نالوستو ښځو سره ژمنې کړې وې. د مثال په ډول، له دوي سره د پیسو او نورو شیانو ژمنې

شوې وي، کله چې هغوي ټاکنې وګټي. دا د يوې سوداګريزې معاملې په څير دي.

— د ولايتي شورا ښځينه غړې، د کابل ولايت

نالوستو ښځو په پټو سترګو نوماندانو ته په دې هيله رايې ورکړې، چې نوماندان به له هغوي سره څه مرسته وکړي.

— د پارلمان ښځينه غړې، د بلخ ولايت

په عام ډول، دا خورا ستونزمن دي، چې له نالوستو وګړو سره معامله ترسره شي.

— د منځني عمر لوستي نارينه مرکه ورکوونکی، د دهدادي ولسوالي، د بلخ ولايت

ځرنګه چې د ټګۍ او تهديد زيات شمېر مثالونه د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ ټاکنو د څارونکو له خوا مستند شوي، دا څرګندوي چې دغه ډول انګيرنې په ښکاره ډول په ريښتينو او اساسي حقيقتونو بنا دي. سربيره پر دې، دغې څيړنې ته د زيات شمېر نالوستو ميرمنو غبرګون د دغه تمايل لپاره مهمې مخالفې کيسې برابروي، چې بې سوادي د فعاليت له بشپړ نشتوالي سره برابروي. نالوستي ښځې ډير ځله په سختې او تر ليرې اندازې له هغو محدوديتونو څخه خبرې وي په کوم وضعيت کې چې دوي واقع وي، لکه څرنګه چې د هغوي د زيات ځلي تکرار شوي ځان ژغورنه کې تمثيل شوي، چې "نالوستي وګړي د ړندو په څير دي." خو له دې سره سره، هغوي په مساوي ډول د هغوي د رايو له ارزښت څخه خبرې وي، هغوي د خپلې ټولنې او هيواد لپاره د ريښتيني نوماندانو د انتخابولو د اړتيا په اړه په موثر ډول خبرې اترې ترسره کولې. لکه څنګه چې د باميانو د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کارمند له خوا پورته توضيح شوي، ځينې يې د دې په وړاندې خورا حساس وو، چې د ټاکنو په حوزو کې له دوي څخه استفاده و نه شي او د مرستېواقعي وړانديزونه يې و نه منل. له دغې انګيرنې سره سره چې په دهدادي کې خپره او د څيړنې په ټولو ټولنو کې منعکس شوه، چې ښځو يوازې په ټاکنو کې د نوماندانو څخه د ډاليو د ترلاسه کولو په بدل کې برخه اخيستې، خو هيڅ يوې ښځينه مرکه ورکوونکې دغه کار د ټاکنو د هڅونې په څير ياد نه کړ. لکه څرنګه چې زيات شمېر ښځينه مرکه ورکوونکو تشريح کړه، چې :دوي د هغو کسانو په وړاندې د خپلو ځانونو د کنترول وړتيا درلوده، چا چې د دوي د رايو د غلا هڅه کوله

يو چا موږ ته وويل چې فلانې نوماند ته رايه ورکړئ... موږ ورته وويل چې سمه ده، خو موږ يوازې د خپل ځان لپاره رايه وکاروله.

— د منځني عمر نالوستې ښځه، د يکاولنګ ولسوالي، د باميانو ولايت

زموږ نارينه نوماندان دلته د کمپاين لپاره راغلي وو او خپل پيژاند کارتونه يې هم وويشل، کومو چې ډير ښکلي انځورونه درلودل، ډير ښه خواړه يې هم برابر کړي وو. سره له دې چې خلکو يې پيژاند کارتونه هم اخيستې وو او خواړه يې هم خوړلي وو، خو هغوي ته يې رايه ور نه کړه.

— د منځني عمر نالوستې ښځه، د يکاولنګ ولسوالي، د باميانو ولايت

دغه نکته په څرګند ډول د دغې څيړنې په محدود شوي مقصد او د هغه حقيقت په پايله کې رامنځ ته شوه، چې ښځې په نورو محافظه کاره او نا امنو سيمو کې تر ډيره حده له هغه څه زياتې زيانمنيدونکې دي، کوم چې د مرکه کوونکو له خوا دلته توضيح شوي. د يادونې وړ ده چې د نالوستو ميرمنو د فعاليت د نشتوالي په اړه د نورو انګيرنې زياتره د ميرمنو د هغه درک او باور سره په ټکر کې وي، چې هغوي د کومو شيانو د تر لاسه کولو وړتيا لري او ور باندې پوهيږي.

## ٦,٤ د رايې بکس ته لاس رسی

په داسې حال کې چې ټولې مباحثې معلوماتو ته د ښځو د لاس رسي په موضوع راڅرخيدې، مرکه ورکوونکو همدارنګه مختلفې پيښې په ډاګه کړې، چيرې چې ميرمنې د دې جوګه نه وې چې انتخاباتي حوزو ته لاړې شي او خپلې رايې وکاروي. د بلخ د څيړنې په دواړو ټولنو او تر کمې اندازې په دشتي برچې کې، ښځينه او نارينه دواړو مرکه ورکوونکو د هغو قضيو په اړه توضيحات ورکړل، چيرې چې ښځې د خپلو کورنيو له خوا له رايې اچولو څخه منع کړای شوې وې. دا په مختلف ډول روښانه کړای شوي، چې کورنۍ د خپلو ميرمنو د ناموس د ساتنې په موخه خپلې ښځې په کورونو کې بندې ساتي، په بالقوه ډول له ناامنو انتخاباتي حوزو څخه د ليرې ساتنې له لارې د خپلو ميرمنو فيزيکي خونديتوب ساتي؛ يا لکه څنګه چې په دشتي برچې کې ښځو په ګروپي مباحثو کې تشريح کړل، هغوي په کورونو کې له دې امله ساتل کيږي، ځکه چې سياسي ګډون د هغوي د کورنيو کارونو او د ماشومانو د پاملرنې په مسووليتونو کې نه دي شامل.

په عام ډول، د څيړنې په ساحو کې مرکه ورکوونکي په دې باور وو، د ښځينه رايه ورکوونکو شمېر د هغوي په ټولنو کې د نارينه رايه ورکوونکو له شمېر سره يو ځای يا لوړ شوي يا لويدلی يا زيات شوي يا کم شوي. دوي همدارنګه د دغه بدلون لامل په زيات کچه د دواړو جنډرونو لپاره يا خو د باميانو په ټولنو کې زياته ليوالتيا يا په دهدادي کې ناهيلي ښودله. که څه هم کم شمېر مرکه ورکوونکو داسې څرګنده کړه، چې که چيرې ښځو رايه ورکړي وي يا نه، دا د هغوي په سړيو پورې تړلې وه:

وګړو د ښځو په ګډون کولو کې ډيره ليوالتيا نه درلوده، ځکه موږ د نوماندانو له خوا ډيره مرسته و نه کتله. دا هم د نارينه وو لپاره خورا ستونزمنه ده چې د خپلو ميرمنو ګډون ومني. که چيرې نوماندان نارينه نه شي راضي کولای، نو بيا هيڅ دليل نشته، چې ښځو ته د ګډون اجازه ورکړل شي.

— ځوان لوستي نارينه مرکه ورکوونکی، د دهدادي ولسوالي، د بلخ ولايت

هر څوک پوهیږي او وینې چې څوک کار کوي او څوک نه. زموږ ځینې دوستان د پارلمان غړي دي، خو له دې سره سره هغوي زموږ لپاره هیڅ کار ترسره نه کړ. ځکه مو خپلو میرمنو ته وویل، تاسو باید رایه ورنه کړئ. ما هغوي ته وویل، تاسو تیر ځلي یوه نوماند ته رایه ورکړه، چې له بده مرغه، هغه وبایلله.

— ځوان لوستي نارینه مرکه ورکوونکی، د دهدادي ولسوالي، د بلخ ولایت

په دهدادي کې یوې ځوانې میرمنې په ډاګه کړه، چې د کورنۍ نارینه غړي یوازې هغه اشخاص نه دي چې خپلې ښځې په کور کې ساتي:

زما خواښې ښه ښځه نه ده، سره له دې چې هغه ډیره زړه ده، خو بې شرمه ده. د ټاکنو په ورځ ما له هغې وغوښتل چې زه د رایې اچونې لپاره ځم، زما د ماشومانو خیال ساته، خو هغې و نه منله. هغې وویل، چې دا ستا خپل کار دی. دا د یوې ځوانې لپاره مهم نه دی، چې په ټاکنو کې برخه واخلي، کیدای شي په انتخاباتي حوزو کې ځینې نارینه وګورې. زه کولای شم په ښکاره له کوره ووځم، ځکه چې زما میړه د پولیسو یو افسر دی او هغه یوازې په څو اونیو کې یو ځل کور ته راځي. د ټاکنو په ورځ یوازې زما خواښې رایه ورکړه.

دغه مثال په نورو ځیړنو کې هم منعکس شوي، چې نارینه او ښځې په ځانګړي ډول زړې ښځې، په نورو ښځو باندې د محدودیتونو په تحمیل کولو کې رول درلودای شي.

په ښکاره ډول، که څه هم په ټوله څیړنه کې دا یوازینۍ ښځینه مرکه ورکوونکې وه، چې په مستقیم ډول د خپلې کورنۍ له خوا له رایې ورکونې څخه منع شوې وه. دا په احتمالي ډول د څیړنې په میتودولوژۍ کې د انتخابولو په اصل کې د پلویتوب له وجې وي، خو دا همدارنګه کیدای شي په ښکیلو ټولنو کې پر ښځو د وضع مشخصو ټولنیزو محدودیتونو د له منځه تلو نښه وي، لیږ تر لیږه په هغو ځایونو کې چې ټاکنې مطرحوي. د مثال په ډول په بامیانو کې، د هزاره ګانو د رایو د زیاتولو لپاره له پراخو ستراتیژیکو هڅو سره یو ځای زیاتیدونکې ازاد کړ وړه دا مانا لري، چې هیڅ د دې پوښتنه نه پیدا کیده چې ښځې دې د رایه ورکولو په موخه له وتلو څخه منع شي. خو د دې بر عکس، په شورتپه کې د ټاکنو د ورځې ځانګړي ټولنیز بعدونه، دا مانا ورکوي چې یو شمېر ښځو په بشپړې اسانتیا سره د خپلو میړنو د هغو لاربښوونو مخالفت وکړ، چې هغوي بې له رایې ورکولو څخه منع کولې (په دې مفهوم، چې د هغوي میړونو د موضوع په بشپړ ډول غښتلي احساس نه درلود، څو خپلې هیلې عملي کړي):

ټولې میرمنې له دې امله خوښې وي، چې ټاکنو کې یې ګډون وکړ او رایې یې واچولې. همدارنګه ځینې ښځې د خپلو میړونو له اجازې پرته انتخاباتي حوزو ته لاړې او خپل ګډون یې له هغوي پټ وساته. او فکر کوم چې د هغوي میړونه لا تر اوسه هم د هغوي د ګډون په اړه معلومات نه لري.

— زړه نالوستي ښځه، د شورتپه ولسوالي، د بلخ ولایت

لکه څرنګه چې پورته تر غور لاندې ونیول شو، ښځو ته اجازه ورکول او په جدي توګه د سیاسي فعالینو په څیر د هغوي ګټل دوه مختلف شیان دي.

بله ستونزه دا وه، چې انتخاباتي حوزې پخپله د لاس رسي وړ نه وې. د بامیانو د څیړنې په دواړو ټولنو کې، مرکه ورکوونکو د دې یادونه وکړه، چې ځینې ښځې په دې و نه توانیدلې چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ په ټاکنو کې برخه واخلي، ځکه چې زیات شمېر ښځو په ایلاق (دوبنې مالڅر) کې د خپلو کورنیو د رمو څارنه او مواظبت کولو. په لا عام ډول، د ملګرو ملتونو او نادولتي موسسو مرکه ورکوونکو په دې اړه مباحثې ترسره کړې، چې په ولایتونو کې د رایې اچونې حوزې د زیاترو ټولنو لپاره په داسې ځای کې موقعیت درلود چې په پښو منزل کولو څخه یې واټن لیرې او زیات و. خو د دې بر عکس، یو شمېر مرکه ورکوونکو، په څرګند ډول په شورتپه کې په ډاګه کړه، چې هغوي د رایې اچونې لپاره د ټولنې د مشرانو او پخپله د نوماندانو له خوا وړل شوي. په نورو څیړنو کې له د مخه مستند شوي، انتخاباتي حوزو ته د نوماندانو له خوا د هغوي د ملاتړ کوونکو لیږدول، د ښځینه رایه ورکوونکو لپاره ځانګړې ګټه لري، چې په دغه کار سره به یې له یوې خوا ترانسپورت ته لاس رسي پیدا او له بلې خوا به یې د هغو نیوکو مخه ډپ کړي وي چې په عامه ځایونو کې د ګرځیدو په پایله کې هغوي ته راجع کیږي.

له پنځو هغو ښځینه رایه ورکوونکو سره څوک چې په رایه ورکولو و نه توانیدلې، څلورو یې ځکه و نه شو کړای دغه کار ترسره کړي، چې د رایه ورکولو کارتونه یې نه درلودل. په یوه پیښه کې، ښځه په دې نه پوهیدله چې هغه کولای شي، خپل د رایې ورکونې کارت په مختلفو ټاکنو کې وکاروي؛ نورو یې کارتونو ورک کړي وو او لا تر اوسه یې پر ځای نور نه وو اخیستي، ځکه چې یا خو مصروفه وي او یا یې دا احساس کاوه، چې په داسې ټاکنو کې چې له ټګیو او د زور واکو له نفوذ ډکې وي، د ګډون وخت ضایع کولو اړتیا نشته. په دشتي برچي کې دوو مرکه ورکوونکو څرګنده کړه، چې د هغوي په ټولنه کې زیات شمېر وګړي په دې ونه توانیدل چې د رایې اچونې کارتونه تر لاسه کړي، ځکه هغوي د افغانستان د نورو برخو یا له پاکستان څخه نوي راستانه شوي کډوال وو. په داسې حال کې چې دغه کار په ساحه کې په هیڅ یوې ښځینه مرکه ورکوونکې باندې په مستقیم ډول اغیز نه دی کړی، دغه ستونزه په احتمالي ډول پر ښځو باندې بې تناسبه تاثیر لري، ځکه چې د نوي کارت د اخیستلو د بیوروکراسي څرنګوالي په احتمالي ډول د هر هغه چا لپاره چې تعلیمي کچه یې ټیټه وي، زیات مغشوش کوونکی دی– داسې انګیرل کیدل چې دوي ته اجازه ورکړل شوې وه چې له کورونو ووځي او په لومړي ځای کې دغه کار ترسره کړي. د یادونې وړ ده چې په شورتپه او د کابل په ټولنو کې د دې یادونه وشوه، چې پخوا ښځې له دې امله د رایې د کارتونو له تر لاسه کولو سره بې میله وې، چې ګواکې د هغوي عکسونه به پرې لګیدلي وي، داسې تر سترګو کیده، چې دغه ډول اندیښنې مخ په کمیدو وې لکه څرنګه چې وګړي د ټاکنو له پروسې سره بلدیدل.

زیاترو ښځو چې د رایې کارتونه یې هم درلودل، له دې ستونزې سره مخ وې، څو په ډاګه کړي، چې هغوی څومره ارزښت لري. د دغه واقعیت په منعکس کولو سره، چې په افغانستان کې زیاتره ښځې رسمي پېژاند پاڼو یا تذکرو ته لاس رسی نه لري، ښځینه مرکه ورکوونکو د رایې اچونې کارتونه د افغان دولت د اتباعو په حیث د هغوی د موقف د حقیقي سمبولونو په څیر په ډاګه کړل، چې د نارینه وو په څیر د عین حقونو درلودونکې دي. د بامیانو او ګلدرې په ساحو کې ښځینه مرکه ورکوونکو همدارنګه په ډاګه کړه چې دغه کارتونه څرنګه د پېژاند پاڼې یا تذکرې په څیر کارېدلی شي، د مثال په ډول، کله چې د نادولتي موسسو څخه مرسته ترلاسه کوي. په ځانګړي ډول د مرستې د تر لاسه کولو په برخه کې، چیرې چې نارینه وو احساس کاوه، چې د ښځو لپاره د تذکرو درلودل مهم نه دي، د رایې اچونې د کارتونو درلودل به ښځو ته لا زیاته خپلواکي ورکړي، لکه څرنګه چې دغه موضوع د بامیانو په ولسوالۍ کې د منځنۍ عمر درلودونکې ښځې له خوا داسې توضیح شوه:

> د رایې اچونې کارتونه ډېر مهم دي، په ځانګړي ډول د ښځو لپاره، ځکه ښځې تذکرې نه لري، نو هغوی خپل کارتونه د اړتیا پر مهال د تذکرو پر ځای کاروي. نارینه وایي چې د تذکرو درلودل ګټور نه دي، موږ د خپلو رایې اچونې کارتونو ډېر خیال ساتو.

### د کم عمرو رایه اچونه

د کم عمرو رایه اچونه د څېړنې په ټولو ټولنو کې عادي او خپره وه. مرکه ورکوونکو په عام ډول احساس کاوه، چې دغه کار به زیاتره د ځوانو نجونو له خوا ترسره کیده، ځکه چې هغوییه د رایې د کارتونو د تر لاسه کولو او څو ځلې د رایې ورکولو لپاره له چادرۍ څخه کار اخیست. په کابل او بلخ کې دا په عمده ډول د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د بې کفایتي او د عامه ګډوډۍ او ټګۍ د نښې په څیر وړاندې شو، کومو چې وروستۍ ټاکنې بې رنګه او تاواني کړې. داسې ښکاریده چې په بامیانو کې دغه حالت لا پیچلی و. په داسې ټولنو کې ژوند کول، چیرې چې تعلیم او سیاسي بوختیا ته د خلکو د ژوند د اصلاح لپاره د یوه ستر پلان د یو له بل سره تړلو برخو په څیر کتل کیده، ښوونځیو ته تګ چیرې چې نوماندانو د ټاکنو په اړه هیجان رامنځ ته کړی و او زده کوونکو ته یې د خپلو حقونو د غوښتلو لیکچرونه ورکړي وو، د دې تصور به خورا ستونزمن وي، چې د یکاولنګ او بامیانو په ولسوالیو کې زده کوونکي مخکې له دې چې د رایې اچولو هڅه وکړي، قانوني عمر ته د رسیدو انتظار وباسي. کله چې مرکه ورکوونکو په دغو ټولنو کې د کم عمرو رایه اچونې په اړه مباحثې ترسره کولې، هغوی تمایل درلود چې په طبیعي یا مثبتو مواردو خبرې وکړي– د بامیانو په ولسوالۍ کې یوه پلار څرګنده کړه، چې څرنګه یې خپلې کم عمره لور، چې اوس یوه ښوونکې ده، او د هغې ملګرو ته د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې انتخاباتي حوزې ته د تګ لپاره د تکسي پیسې تادیه کړې. ځینې دغه ډول احساسات د یوه مسن لوستي هزاره له خوا هم منعکس شوي، چا چې فکر کاوه:

> زه په دې پوهیږم چې هر افغان چې عمر یې له ۱۸ کلنۍ څخه لوړ وي رایه اچولي شي او خپله رایې پاڼه د هغو نوماند لپاره کارولي شي چې هغوی یې غواړي. خو دغه ۱۸ کلني مناسب عمر نه دی، ولې ۱۵ یا ۱۶ کلني؟ ایا هغوی د دې هیواد اتباع نه دي؟ ایا هغوی بالغ نه دي؟ هغوی ولې د رایې اچونې مستحق نه دي؟

د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کال د ملي ګواښ او زیانمنتوب له ارزونې سره سم، ۴۹ سلنه وګړي له ۱۵ کلنۍ څخه د کم عمر درلودونکي دي. د دغه حقیقت په پام کې نیولو سره چې په زیاتره کلیوالو سیمو کې، بلوغ په زیاترو اشخاصو کې په اغیزمن ډول د لس کلنۍ په لومړیو کلونو کې پیلیږي. سربیره پر دې، چې موضوع د انتخاباتي بې نظمي په څیر وازمایل شي، نو له دې امله په افغانستان کې د کم عمرو د رایې اچونې د لاملونو او بعدونو د معلومولو لپاره لا زیاتو څیړنو ته بیړنۍ اړتیا ده.

## ٤,٧ د ټاکنو اغیزه

په دغې څیړنه کې، یوازې هغو میرمنو چې ښځینه استازې یې انتخاب کړې وې، ټاکنې یې د خپلو ګټو لپاره د محسوسو ګټو درلودونکې ګڼلې، د مثال په ډول، خدمتونو ته د لاس رسي د اصلاح په برخه کې. ویل کیږي چې په ګلدره کې، د پارلمان غړې فوزیه ناصري ګلدره اي د ټولنې لپاره د نجونو یو ښوونځی پرانیستي او په هغه کې یې مستحق او وړ ښوونکي ګمارلي. عین کار د بامیانو په ولسوالۍ کې هم حقیقت لري؛ هلته ښځینه مرکه ورکوونکو اضافه کړه، چې د سیمې د سرکونو د جوړولو له لارې عاقلې حسیني د ښځو لپاره تر ټولو بهتره کار ترسره کړ، چې اوس میرمنې کولای شي نږدې کلینیک ته په کم وخت کې ځان ورسوي، او د ماشوم د زیږون پر مهال یې د هغوی د احتمالي مړینې کچه راکمه کړه. د دې برعکس، په یکاولنګ کې ښځو داسې احساس کاوه، چې د هغوی د پارلمان غړې صیفوره ایلخاني هغه مهال چې د ښوونځي استاده وه، د ټولنې د ښځو لپاره ډېر څه ترسره کړي، د دې پرتله کله چې هغه انتخاب کړای شوه. په داسې حال کې چې دهدادي او دشتي برچي دواړو په تیوریکي ډول په ولایتي شورا کې ښځینه غړي درلودل چې د هغوی استازیتوب یې کولو، د دواړو جنسیتونو مرکه ورکوونکو له ټاکنو وروسته د یو شمېر بدلونونو احساس کاوه– په ممکن ډول دواړه لوړ توقعات او په کلیوالو سیمو کې د سیاسي اړیکو لا پراخ طبیعت منعکس کوي.

په څرګند ډول، داسې هیڅ ښځه نه وه، چا چې په ټاکنو کې د ګډون له لارې په خپلو ټولنه کې د خپل غړ یا د پریکړې نیولو ځواک د غښتلی کیدو احساس کاوه. په داسې حال کې په هغو ټولنو کې چې د پارلمان یا د ولایتي شورا غړي یې درلودل څرګنده کړه، چې د ښځینه استازو دلودل به دوی ته په بې ساري ډول یوه حل لار ور په برخه کړي، چې وکولای شي خپل شکایتونه او اړتیاوې یوه داسې شخص ته ورسوي چې په ځواک کې وي، خو یو یې هم په عمل کې دغه کار په ډاګه نه کړ. د دې بر عکس، داسې برېښي چې ټاکنو د خلکو په پوهې او درک باندې د پام وړ مثبته اغیزه درلوده، هم په دې برخه کې چې ښځې څرنګه د خپلو ځانونو او د نړۍ په اړه احساس کوي او هم په دې ډګر کې چې ټولنې څرنګه په عامه ژوند کې د میرمنو رول ارزوي. د یادولو وړ ده، چې دغه اغیزې په هیڅ طریقه د ښځو د بریالي انتخاباتي ګډون په تخنیکي ډول متمرکزو نښانو پورې اړه نه لري، لکه په دې پوهیدل چې څرنګه او د چا لپاره رایه ورکړي.

د ځیرنې په ټولنو کې د زیات شمېر ښځینه مرکه ورکوونکو لپاره په ټاکنو کې ګډون د ځان د غښتلي کولو یوه تجربه وه. په ځانګړي ډول نالوستو ښځو څرګنده کړه، چې څرنګه په ټاکنو کې برخې اخیستنې د هغوي په ځان د اتکا احساس پیاوړي کړی. لکه څرنګه چې په ۲.۵ برخه کې روښانه شو، زیاترو ښځو ټاکنې د یوه واقعي سګنال په ځیر ګڼلې، لېر تر لېره په تیوري لحاظ، هغوي د نارینه وو په ځیر عین حقوق لري. یو شمېر نورو مشرانو مرکه ورکوونکو په دې اړه څرګندونې وکړي، چې دا څرنګه د دې لامل شو، چې هغوي په ټولنو کې د ښځو د اوسني موقف په اړه وپوښتي، او په دې باور وې چې په وضعیت کې بدلون اړین دی. لکه څرنګه چې یې دغه دوه مختلف اقتباسونه په ډاګه کوي:

> د ټاکنو پر مهال ما له خپل میړه سره خبرې وکړې. ما وویل، ګوره، حکومت د ښځو لپاره هم لار هواروي، هغوي د نارینه وو په ځیر په ټاکنو کې ګډون وکړي او سره یو ځای به کار ترسره کړي. د هغوي د کارونو او دندو ترمنځ توپیر نشته. که چیرې زه یوه لوستې ښځه وای، ما به په ټاکنو کې برخه اخیستې وای او د پارلمان غړې به وای. بیا مې ستا سترګې رایستلې وای، ځکه چې ته تل پر موږ باندې امر کوې، او ستا له اجازې پرته موږ هیڅ کار نه شو ترسره کولای. زه هیله لرم چې په راتلونکې کې موږ یوه ښځینه ولسمشره ولرو. زه همدرانګه غواړم چې زما نجونې سرتیرې او قوماندانې شي. هغوي باید ځینې ساتونکي او وسلې ولري او هر شخص به ورڅخه ویرېږي.
>
> — نا لوستې مسنه میرمن، دهدادي، د بلخ ولایت

> زیاترو میرمنو په ټاکنو کې ګډون وکړ، او یو شمېر یې ځانونه نوماند کړي وو. سره له دې چې ما د دې یادونه وکړه، چې موږ په کور کې ښه وضعیت نه لرو، او تل د نارینه وو له خوا توهین شوې یو، موږ اوس په دې پوهې شوو چې څرنګه ژوند وکړو او هغه ستونزې چې موږ ورسره پخوا مخ شوې وو، دې ته وهڅولو چې خپله لار پیدا کړو. همدا لامل دی، چې زیاتره ښځې هڅه کوي چې ښه موقف ولري او له کور څخه د باندې کار وکړي.
>
> — نالوستې مسنه میرمن، د بامیانو ولسوالي، د بامیانو ولایت

یو شمېر نورو ګډون کوونکو په دې اړه توضیحات وړاندې کړل، چې څرنګه ټاکنو له کورنو څخه د باندې له نویو تجربو سره د مخامخ کیدلو له لارې د هغوي هیلې لا پسې پراخه او زیاتې کړي. دا په ځانګړي ډول په شورتپه کې واقعي وو، چیرې چې د ملي پیوستون د پروګرام د ښځو د محلي شورا مشرې د ټاکنو له خپلواک کمیسیون سره په دې اړه خبرې ترسره کړي، څو دا یقیني کړي چې په انتخاباتي حوزو کې د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې د محلي ښځو ګمارنه ترسره شوې. د ښکیلو میرمنو لپاره دا د ګمارنې په مقابل کې د تادیې لومړنۍ تجربه وه. یو شمېر نورو یې د دغې تجربې د اتباري اغیزې په اړه خبرې ترسره کړي، کومې چې دوي ته دا وښودله چې دا د هغوي په ځیر نالوستو ښځو لپاره هم ممکن ده چې د پیسو په بدل کې کار ترسره او په پروسه کې مناسبه دنده پرمخ یوسي.

همدارنګه د ځیړنې په ټولنو کې د یو کم خو په نسبي ډول د برابر شمېر ښځو او نارینه وو ترمنځ دا احساس موجود و، چې ټاکنو په ټولنه کې د ښځو په اړه په احساساتو کې یو شمېر بدلونونه رامنځ ته کړي. د بلخ په دهدادي او د بامیانو په ټولنو کې، شپږو مرکه ورکوونکو (د دوو نارینه په ګډون) په دې اړه مباحثې ترسره کړي، چې څرنګه ښځې په موثر ډول په هغو منصبونو کې خپلې دندې پر مخ وړي، په لوړو دفترونو کې یې ترلاسه کړي او یو شمېر وګړي یې په دې قانع کړي چې هغوي هم د نارینه وو په ځیر د مشرتابه د دندو پر مخ وړلو جوګه دي. په ټولو ټولنو کې اتو وګړو (د څلورو سړیو په ګډون) توضیح کړه، چې په دفترونو کې د ښځو په کتو سره زیاتره خلک ښوونځیو ته د خپلو لوڼو استولو ته هڅول شوي. دغه مفکوره په یکاولنګ او ګلدره کې ډېره خپره وه، چیرې چې د هغوي د پارلمان ښځینه غړې شهرت د ټولنې په ژوند کې زیات ښکاره دی.

# ۵. کليدي موندنې او سپارښتنې

په لېږ محافظه کارو یا ځو توکمیزو ولایتونو کې اوسیدل چې تر یوې اندازې پورې په تیرو لسو کلونو کې له نسبي امن څخه برخمن وو، دې څېړنې وموندله، چې ښځینه نوماندانې او رایه ورکوونکې له یو کم شمېر ستونزو سره مخامخ وې چې دغه ستونزې په افغانستان کې په معمول ډول په ټاکنو کې د ښځو له ګډون سره تړاو لري. یوازې یو څو تنو ښځو د نا امنیو له ګواښونو سره مخامخ شوې وې او په دې وتوانیدلې چې په داسې یوه چاپیریال کې کمپاین وکړي، چې په نسبي ډول له مذهبي یا محافظه کارانه دوښمنیو او تعصبونو څخه خلاص وو. رایه ورکوونکو په عام ډول انتخاباتي حوزو ته لاس رسي درلود، ډیر کم وخت رایې د کورنۍ د نارینه غړي په لارښوونه اچول شوي او په عادي ډول پوهې شوي چې څرنګه په سمه طریقه رایه واچوي. که څه هم دواړو ګروپونه له یوې کمې ښکاره او په بالقوه ډول سختې ننګونې سره مخ وو، څود نارینه وو د مخ په زیاتیدونکي ډول ناکامي سره مبارزه وکړي، چې ښځې د سیاسي فعالینو په څیر وګڼي، یو داسې حقیقت چې د دواړو، کیفیت او د هغوي د ګډون د تاثیر لپاره یې جدي اغیزې درلودې. د دې څېړکي پاتې برخه دغه او نورې موضوعګانې طرحه کوي، کومې چې د دې څېړنې له خوا په ډاګه شوي او د راتلونکی لپاره ځینې ازمایینتي حل لارې وړاندیز کوی. د یادونې وړ ده، چې دغه موندنې د ټول افغانستان استازیتوب نه کوي، بلکې د څېړنې په دریو ولایتونو کې مازې د ځینو نظریو او تجربو تنوع منعکس کوي.

## ۵٫۱ د نوماندانو لپاره کليدي موندنې

د بریالۍ ښځینه نوماندې لپاره هیڅ یوه طرحه (بلو پرینټ) نه وه موجود، او د دغې څېړنې لپاره د مرکه شویو اشخاصو کیسې په برابر ډول مختلفې او پیچلې دي لکه څنګه چې د هغوي هغه سیاسي چاپیریالونه چېرې چې هغوي فعالیت درلود، په ورته ډول مختلف او پیچلې وو. په هر حال، په نږدې ټولو قضیو کې، نوماندانو د دغو وړتیاوو د یو ځای کیدنې یا لېږه تر لېږه د دوو په درلودلو سره کامیاب شوي: ۱) سرچینو ته لاس رسي؛ ۲) له غښتلو کورنۍ یا سیاسي ډلې سره اړیکې؛ او ۳) له اړونده ټولنې یا د رایه ورکوونکو له حوزې سره قوی اړیکې. په داسې حال کې چې د ولایتونو ترمنځ مشخصو بعدونو توپیر درلود، داسې څرګنده شوه، چې د غوښتنې لپاره د مشخصې حوزې یا ټولنې درلودل، په دغو دریو کې تر ټولو جدي او بحراني وړتیا وه.

### روزنه او اړیکې جوړونه

زیات شمېر نوماندانو یو ډول نه یو ډول رسمي روزنه تر لاسه کړې وه، چې څرنګه کمپاین پر مخ یوسي، چې زیاتره دغه ډول غونډې د ملي دیموکراتیک انستیتوت له خوا تنظیم شوې وې. زیاتره نوماندان له ترسره شویو ورکشاپونو څخه خوښ وو، او د هغوي عمده شکایت د دې موضوع په اړه دا و، چې دغه ډول روزنې ډیرې ناوخته پلان شوې وې، څو یې زیاته اغیزه او توپیر رامنځ ته کړی وای. په څرګند ډول د ډیر کم شمېر مرکه ورکوونکو په اړه خبر ورکړل شوي، چې له نورو ښځینه نوماندانو، ښځینه عامه شمېرو یا د ښځو د مدني ټولنې له سازمانونو سره د اړیکې جوړولو او همغږي په فعالیتونو کې ښکیل وو.

### ننګونې

- د ناامنۍ خبرې اترې: د ناامنۍ په اړه چې ښځینه نوماندانې ور سره مخ شوې وې د یوې ننګونې په څیر په عام ډول مباحثې ترسره شوې. که څه هم یو کم شمېر نورو هغو یې نا امني د هغوي د کمپاینونو د ترسره کولو پر مهال د یوې ځانګړې ستونزې په اړه په ډاګه کړه. په داسې حال کې چې دا په څېړنه کې د ښکیلو ولایتونو نسبي ثبات منعکس کوي، دا پوښتنه هم راپورته کوي، چې ایا ځینې نوماندان ناامني د یوې ننګونې په څیر مني او که نه، بې له دې چې دا په پام کې ونیسي چې په عمل کې ناامني دوي څرنګه متاثره کولای شي. د نوماندانو زیاتې برخې چې په نا امنو سیمو کې پاتې شول، احساس کاوه، چې په دبکار سره دوي یوه ګټه ترلاسه کړي – زیاتې رایې یې وګټلې – او هغو نورو یې چې له دغه سیمو څخه لیرې پاتې وو لیږې رایې تر لاسه کړې.
- د نارینه وو نا لیوالتیا: په مقایسوي توګه یو شمېر نوماندانو د څېړنې په ولایتونو کې د رایه ورکوونکو له خوا د ښځینه سیاسي برخې اخیستنې په وړاندې د هغو جدي او مستقیمو دښمنیو په اړه د مبارزه کولو خبر ورکړ، چې په محافظه کارانه او مذهبي نیوکو ولاړې وې. په بدل کې، تر ټولو عمده ننګونه چې ښایي هغوی ورسره مخ شوې وي او لکه څرنګه چې د نوماندانو او رایه ورکوونکو له خوا هم په ډاګه شوې، د ښځینه نوماندانو د کمپاینونو په وړاندې د نارینه وو د نا لیوالتیا محافظه کارانه احساس و، چې دا احساس په دې انګیرنه ولاړ و، چې ښځې نه شي کولای د هغوي د نارینه همکارانو په څیر په اغیزناک ډول د خدمتونو برابرونکې یا استازې و اوسي.

### د کمپاین کولو ستراتیژیګانې

- د انتخاباتي حوزې رامنځته کول: نږدې ټولو بریالیو نوماندانو او د ناکامو هغو اکثریت هڅه وکړه چې ځانګړې انتخاباتي حوزې رامنځته کړي. په زیاترو حالاتو کې، دا د یوې ځانګړې ټولنې/ساحې، یا د یوې شبکې لکه د یوه قوم یا قبیلې په بڼه ترسره کیږي. په کمو پیښو کې، نوماندان وتوانیدل چې د زده کوونکو یا مذهبي پیروانو په بڼه د خپلې خوښې داسې ټولنې جوړې کړي چې د ځای یا د ځانګړې ټبر له مفاهیمو څخه ګوښه ساتل شوې وي. که څه هم دا په اساسي ډول د ښکیلو نوماندانو شخصیت و، چې دغه ډلې او ګروپونه یې سره یو ځای کړي وو، نه کومه هر اړخیزه ایډیالوژي یا دریځ.

- په یوه عنعنوي قالب کې کار ترسره کول: یو شمېر نوماندانو هڅه کړې، چې د کمپاین کولو پر مهال د مذهبي یا عنعنوي دریځ د غوره کولو له لارې د هغوي په وړاندې مذهبي یا کلتوري خرافات کمزوري او بې رنګه کړي، په ځانګړي ډول له ملا امامانو او سپین ږیرو سره د همکارۍ، په مسجدونو کې د کمپاین کولو او د کمپاین په موادو او ویناوو کې د عنعنوي تصوراتو د کارونې له لارې.
- د ښځو په اړه د ریښتنو شخصیتونو په څېر د رایه ورکوونکو نظر جذبول: یو شمېر نوماندانو د نورو په نظر کې د فساد او خرافاتو په وړاندې د یوه ریښتیني او مستقیم مبارزه کوونکي په څېر د خپل ځان په اړه په ستراتیژیک ډول د تصور په جوړولو تمرکز کړی و. په دې کې په قصدي ډول په ټیټه کچه د کمپاین په هغو فعالیتونو کې ګډون شامليږي، چې د خپلو نارینه همکارانو زیاتې ډلې د بې ګټې او ضایع کوونکو په څېر وښایي، او د کمپاین ویناوې د توقعاتو په ترتیب او د دې په تشریح تمرکز کوي، چې سیاسي سیستم د رایه ورکوونکو لپاره څه کولای شي.
- د مشخصو ګټو د ګروپ په څېر د ښځو د راجلبولو هڅې: په حیرانوونکي ډول یو شمېر نوماندانو غوښتل چې له ښځو یوه جلا انتخاباتي حوزه جوړه کړي، او یو شمېر د هغوي د جنسیت ځانګړو ګټو ته د جذبولو له لارې دغه کار ترسره کړی و. دغه کار کیدای شي له دې ویرې ترسره شوي وي، چې د مخالفو محافظه کارانو څخه د کمونستانو یا د بهرنیو ایجنټانو په نامه تورن نه شي. له دې سره سره، دا کیدای شي له دې امله وي، ځکه چې ښځې د رایو د برابرونکو په څېر په خپلو ټولنو یا قبیلو کې محدود اقتدار لري، نو په همدې خاطر دا د ښځینه نوماندانو لپاره ډیر اغیزمن تماميږي، چې له غښتلو نارینه مشرانو یا د نارینه له خوا په واکمنو شوراګانو کې زیات وخت له هغوي سره په لیدنو کتنو تیروي، کوم چې د هغوي د زغملو لپاره د ملاتړ زیات بلاکونه رامنځته کولای شي.
- له سیاسي ډلو سره نا څرګنده اړیکې: د هغه حقیقت په پام کې نیولو سره چې په دغه څیړنه کې نږدې نیمه یې کامیاب نوماندان د سیاسي ډلو له خوا حمایه شوي، د دې وړاندیز کوي، چې هغوي د ښځینه نوماندانو د کمپاینونو په ملاتړ او همغږي کولو کې په بالقوه ډول مهم رول لوبولای شي. له دې سره سره، هغه کاندیدان چې د سیاسي ډلو له خوا حمایه شوي وو، نږدې په ښکاره د دغو اړیکو پای ته رسولو ته لیواله وو، که څه هم په مشخص ډول پرې مباحثې ترسره نه شوې. د سیاسي ډلو له خوا د ښځینه نوماندانو د ملاتړ پر مهال د ښکیلو اړیکو او توقعاتو دقیق ماهیت نا څرګند پاتې کیږي، او دا هغه موضوع ده، چې په راتلونکې انتخاباتي دوره کې د لا زیاتې څیړنې اړتیا لري.

### د ګډون اغیزه

په عام ډول، نوماندانو دا احساس کاوه، چې په ټاکنو کې برخې اخیستنې د هغوي په ژوند مثبت اغیز درلود. په داسې حال کې چې کمو لږکیو چې زیاتره یې ناکام نوماندان وو، چې کمپاین کولو هغوي له مالي ستونزو او د هغوي کورنۍ یې له ګواښ سره مخ کړي، بیا نورو یې داسې ګڼله، چې دغې تجربې نورو نویو مهارتونو، پوهې او اړیکو ته د هغوي لاس رسي زیات او پر ځان باندې یې د هغوي باور جوړ کړي او همدارنګه په ټولنه کې لا په فعال ډول سره رول ترسره کوي. پر دې سربیره، د یادونې وړ ده، چې څو ناکامو نوماندانو د دې لیوالتیا څرګنده کړه، چې د دوهم ځل لپاره ټاکنو ته ودریږي، چې زیاترو یې په ټاکنو کې د درغلیو پلمه کوله او نوی انتخاباتي سیستم یې موثر ګڼلو.

## ۵,۲ د رایه ورکوونکو لپاره کلیدي موندنې

په عام ډول ښځو د رایې اچونې صندقونو ته په لاس رسي او په دې پوهیدلو کې کمې ستونزې درلودې چې د چا لپاره رایه وکاروي. په ټاکنو کې د هغوي د برخې اخیستنې په اړه د نارینه وو درک په عام ډول مثبت و، او داسې احساس کیده، چې د د ښځو د ګډون کیفیت په تیرو څو کلونو کې ثابت پرمختګ په ډاګه کړ. برسیره پر دې، د ټاکنو په اړه د ټولنې له مباحثو څخه محرومول، رسمي روزنو ته نه لاس رسي او په کورونو کې د سیاست په اړه له خبرو کولو څخه ممانعت، زیاتره ښځې له لیږو وسایلو سره پریښې وې څو د دې په اړه باخبره پریکړه وکړي، چې د چا لپاره رایه واچوي یا د هغوي غږونه د ټولنې په کچه په سیاستونو کې واوریدل شي، کوم چې په افغانستان کې د ټاکنو دا ډول حیاتي برخه تشکیلوي.

### نظریات

- په عام ډول په ټاکنو کې د ښځو په اړه مثبت درک: په څیړنه کې د ښځو او سړیو د پام وړ اکثریت په ټاکنو کې د نوماندانو او رایه ورکوونکو په څېر د ښځو د برخې اخیستنې په نظریې موافقه درلوده. که څه هم، پر دې پوهیدل مهم دي، چې په تیوري کې د ښځو د ګډون تحمل کولپه لازمي ډول د داسې یو عمل ترسره کول نه په ډاګه کوي، چې هغه په عملي ډول فعال کړي.

### ښځو ولې او د چا لپاره رایه ورکړه

- رایه ورکول د برابرو حقونو د سمبول په څیر: پر دې سربیره چې د ښځو لپاره په لومړي ځل د خپلو استازو د غوره کولو اختیار ورکړل شوی و، د رایې ورکولو وړتیا د افغان د اوسني دولت د اتباعو په څېر د هغوي د برابرو حقونو ځواکمن سمبول و. په ټاکنو کې فعال ګډون د هغوي د دغو حقونو د غوښتلو لار وه، پرته له دې چې دا په پام کې ونیول شي، چې ایا هغوي د پروسې په طرز العملونو پوهیږي یا په مؤثر ډول رایه کاروليې شي او که نه.

- د یوې هر اړخیزې تجربې په څېر رایه ورکول: په ځانګړي ډول په کلیوالو ټولنو کې، رایې ورکولو د ښځو تر منځ د ټولنیزو اړیکو لپاره یو نادر او ستایل شوي فرصت وړاندې کړ، چې په نورمال ډول په کورنۍ پورې محدود دی او زیاتره د واده له مراسمو سره ورته ګڼل کیدې.

- د ښځو لپاره رایه ورکول: د څېړنې په ټولنو کې زیاتره ښځو داسې احساس کاوه، چې ښځې ته رایه ورکول د هغوي په ګټه و، ځکه چې ښځینه استازی کولای شي په غوره ډول د هغوي اړتیاوې درک کړي او په داسې لارو به د هغوي لپاره د لاس رسي وړ وي، چې نارینه نه دي. پر دې سربیره، کم شمېر نارینه وو د ښځو لپاره د رایې اچونې خوښې څرګنده کړه، ځکه هغوي ښځینه استازي زیاتې ریښتینې او زحمت کښې ګڼلې. سربېره پر دې، داسې ښکاریده چې د جنسیت د پوښتنې پر ځای، ښځو او سړیو دواړو په ټولنو کې د محلي اشنا نوماندانو درلودلو ته لومړیتوب ورکاوه، په دې مانا، په هغو ساحو کې چې ښځینه نوماندان یې نه درلودې، ټولو نارینه وو هغو ته رایه ورکړې.

- دېریکړې نیولو پروسې: د ډېرو کم شمېر ښځو په اړه خبر ورکړل شوي، چې د نارینه خپلوانو له خوا ورته د یو مشخص نوماند لپاره د رایې ورکولو حکم یا لارښوونه شوې، او زیات شمېر نورو یې مقاومت کاوه او ویل یې چې د هغوي رایه یوازې او یوازې د هغوي ده. خو له دې سره سره، په هیڅ یوه قضیه کې، ښځې و نه توانیدلې چې په شوراګانو یا په نورو عامه ټولنو کې، چیرې، چې ټولنې په کلي ډول د یوه نوماند د ملاتړ د موضوع په اړه مباحثې ترسره کولې، ګډون وکړي. دا په دې مانا چې ښځې په اغیزمن ډول د هغوي د ټولنو د ګټو او د هغه نوماند په تعیینولو کې په ښکاره ډول رد شوي، چې په ښه ډول د هغوي استازیتوب وکړای شي.

## معلوماتو ته لاس رسی او د خبرتیا کچې

- د رسمي روزنې نشتوالی: د هغوي د نارینه همکارانو په پرتله، ډېر کم شمېر ښځو د عامه پوهاوي فعالیتونو ته لاس رسي درلود، کوم چې به د ټاکنو د خپلواک کمیسیون یا به د نورو ملي یا نړیوالو سازمانونو له خوا ترسره کیده.

- رسنیو ته لاس رسی: د ښځو د زیات اکثریت لپاره، تلویزیون د ټاکنو په اړه د معلوماتو مهمه سرچینه برابره کړې وه، چې زیاترو یې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د تنظیم شویو ډرامو په اړه په مثبت ډول خبرې کولې. سربیره پر دې، یو شمېر نورو راډیو د معلوماتو د سرچینې په څېر په ډاګه کړې.

- په ټولنه کې معلوماتو ته لاس رسی: په ځانګړي ډول په بامیانو کې، لوستو ځوانو وګړو او پخپله نوماندانو د هغو معلوماتي تشو په ډکولو کې حیاتي رول درلود، کومې چې د رسمي روزنې د نشتون په پایله کې رامنځ ته شوې وې. سربیره پر دې، په نورو ټولنو کې ښځې په عام ډول د نوماندانو د کمپاینونو په غونډو کې له ګډون څخه منع شوې وې، ځکه چې دغه کار په کلتوري ډول مناسب نه و. په ټولو ټولنو کې، داسې احساس موجود و، چې نارینه د خپلو ښځو سره د معلوماتو په شریکولو یا د سیاسي چارو په اړه په مباحثو کولو کې ناتوانه وو. په عین حال کې، په دې څېړنه کې د زیاتره ښځو خوځښت او ټولنیزو فعالیتونو کې ګډون لا اوس هم محدود و، دا د دې سبب شو، چې هغوي له هغو وسایلو څخه د محروم کیدو احساس کاوه، کوم چې هغوي باید د رایې ورکولو لپاره د باخبره انتخاب د غوره کولو لپاره درلودای.

- د ښځو د ګډون د کیفیت اصلاح: نږدې ټولې ښځې پوهیدې چې رایه اچونه څرنګه ترسره شوه او د دې جوګه وې چې په وروستیو ټاکنو کې په بریالي ډول رایه واچوي. په ټولو ټولنو کې، داسې احساس شوه، چې د ښځو د ګډون کیفیت په ثابت ډول په تیرو څو کلونو کې زیات شوي. سربیره پر دې، د ښځو او نارینه وو اکثریت په دې اړه لږ څه زیاته پوهه څرګنده کړه، چې د هیواد انتخاباتي سیستم څرنګه عملي شوی. په څرګند ډول، ډېر کم مرکه ورکوونکي په پارلمان یا ولایتي شوراګانو کې د ښځو لپاره د اختصاصي څوکیو له شتون څخه خبر وو.

- د نالوستو رایه ورکوونکو بدنامه کول: د لوستو رایه ورکوونکو او همدارنګه د ځینو نوماندانو، د نادولتي موسسو یا دولتي کارمندانو ترمنځ یو تمایل موجود و، چې هغوي به نالوستو رایه ورکوونکو په ځانګړي ډول نالوستو ښځو ته د غیر فعاله اشخاصو په سترګه کتل، څوک چې د نفوذ او انحصار په وړاندې زیانمنیدونکي دي. دا ښایي تر یوې اندازې سمه وي، خو نالوستو کسانو دخپل ځان په اړه داسې فکر نه کاوه، په داسې حال کې چې دوي له دغو عیبونو څخه چې ورسره مخامخ وو، خبر و، زیات شمېر نالوستو ښځو له خپلو رایو څخه په ټینګه دفاع کوله او د غوره نوماند د انتخابولو د اهمیت او د هغو ستراتیژیو په اړه یې خبرې کولې، چې دوي له انحصار او نفوذ څخه د ځان ژغورولو په موخه کارولې وې.

## د رایې اچونې بکسونو ته لاس رسی

- د ښځو پر رایې اچونې څو محدودیتونه: یوازې یوې ښځې څرګنده کړه، چې د خپلې کورنۍ له خوا له رایې اچولو څخه منع شوې وه؛ په داسې حال کې چې په بلخ او کابل کې رایې اچولو ته د ښځو نه پرېښودل د یوې مسلې په څېر په ډاګه شوې، او عام احساس موجود و، چې دغه موضوع مخ په کمیدو ده. په بامیانو کې انتخاباتي حوزې ته اوږد واټن په دواړو ټولنو کې د یوې ستونزې په څېر روښانه کړای شو، خو د دې لامل نه شو، چې زیاتره ښځې له رایې ورکولو څخه راوګرځوي. وروستۍ ټاکنې د کال په داسې وخت کې ترسره شوې، چې ښځې په دوبنیو لوړو ملڅر ځایونو کې په کار بوختې وې، په ټاکنو کې د ښځو د برخې اخیستنې د مخنیوی لامل شو.

- متداولې د کم عمرو رایې اچونې: دا څرګنده وه، چې د څېړنې په ټولو ټولنو کې د کم عمرو اشخاصو رایه اچونه عامه وه، او داسې احساس کیده چې نجونې تر ټولو زیاتې د دغه کار ترسره کوونکې وې. که څه هم په ځانګړي ډول په بامیانو کې، داسې نه څرګندیده چې، ګواکې دا دې د سیستماتیکې ټګۍ یا د نورو د انحصار پایله وي؛ بلکې دا د هغوي په ټولنو کې د ټاکنو لپاره د نفوذ لرونکې عامې لیوالتیا او د ښونځیو د فعال لوبول شوي رول په نتیجه کې رامنځ ته شوې وې.

د ګډون اغېزه

- د ښځو لپاره ځینې محسوسې ګټې، خو د هغو «غړ» لا اوس هم محدود کړای شوی: په هغو سیمو کې چې ښځینه استازې یې درلودې، داسې احساس کېدلُه، چې ټاکنو د هغوي منافعو ته ګټه رسولې، ځکه چې د هغوي ښځینه استازو د ټولنو لپاره د نجونو ښوونځي خوندي او مناسبو سړکونو ته یې د هغوي لاس رسی زیات کړی. خو له دې سره سره، داسې کوم شواهد تر لاسه نه شوو، څو په ډاګه کړي چې ښځینه رایه ورکوونکې د دې جوګه وې چې خپلو استازو ته لاس رسي ولري، او په هیڅ یوه قضیه کې ښځو احساس نه کولو چې ګواکې ټاکنو هغوي ته د هغوي د ټولنو په سیاسي ژوند کې د پرېکړې نیولو د پام وړ واک ورکړی وي.
- مثبته شخصي اغېزه: زیاتره ښځو احساس کولو، چې په ټاکنو کې په ساده ډول برخې اخیستنې–او د نارینه وو په څېر په ورته کچو د یوه کار ترسره کول– د هغوي د په ځان باور او عزت نفس په احساس کې د پام وړ پرمختګ رامنځته کړی. پر دې سربېره، دغه کار یو شمېر دې ته وهڅولې، چې په جدي ډول په ټولنه کې د هغوي د اوسنی موقف په اړه وپوښتي او په دې متیقنه شي، چې لېر تر لېره بدلون شونی دی.

## ۵,۳ وړاندیزونه

دا لاندې وړاندې شوې وړاندیزونه په مستقیم ډول د دغې څېړنې له کلیدي موندنو څخه راپورته کیږي او په اوسني سیستم کې د ښځو د ګډون د اصلاح او زیاتولو هڅه کوي. په افغان سیاست کې د محافظه کارۍ د چلند د زیاتیدنې او د ښځو د توانمند کولو له پروګرامونو سره د نالیوالتیا د فضا یا مستقیمې دښمنۍ په پام کې نیولو سره، په انتخاباتي کاري چوکاټ کې د داسې عمده بدلونونو رامنځته کول، چې وکولای شي د ښځو رول زیات او اصلاح کړي نه یوازې د دې څېړنې له امکان څخه بهر دي، بلکې کیدای شي چې په دې برخه کې په پرلپسې ډول رامنځته شوي نازک پرمختګ له ګواښ سره مخ کړي.

نوماندان

- د سهمیې سیستم خوندي او څرګند کړئ: لکه څنګه چې د دغې څېړنې له خوا په ډاګه شوه، آن هغه ښځینه نوماندانو چې بسیا سرچینې او غښتلې سیاسي ملاتړ کوونکي یې درلودل، د ونډې له مرستې پرته باید هڅه کړې وای، څو انتخاب کړای شي. د پایلې په څېر، دا حیاتي ده، چې د انتخاباتي اصلاحاتوپه راتلونکو فعالیتونو یا په پای کې له طالبانو سره په سیاسي پخلاینې کې دغه سیستم ساتل شوي. د سهمیې د شمېرلو میتودولوژي هم بیرنۍ بیا کتنې ته اړتیا لري، څو هغه ښځې چې بسیا رایې ګټلې د ازادو څوکیو لپاره انتخاب شي نه د سهمیې له خوا ورکړل شویو هغو ته. له دې لارې به دا یقیني کړای شي چې ونډه په انتخاب شویو ادارو کې د ښځو د شتون لپاره معیار وړاندې کوي، نه یو حد.
- روزنې په وخت ترسره کړئ: هغه سازمانونه چې د نوماندانو په روزنه کې ښکیل دي–اساسا ملي دیموکراتیک انستیتوت– باید هڅه وکړي، څو دا یقیني کړي چې د نوماندانو روزنیز ورکشاپونه د هغوي د کمپاین له غونډو څخه په بسیا ډول لا دمخه ترسره شوي، چې د هغوي په کمپاینونو کې توپیر رامنځته کړي. ډونران هم باید د اوږد مهالو پروګرامونو تمویل په پام کې ونیسي، څو د دغې چارې د بشپړتیا په څېر د هغو میرمنو ظرفیت لوړ کړي، چې سیاست ته د داخلیدو لیوالتیا لري.
- هغه لارې چارې ولټوئ، چې په سیاست کې د ښځو ترمنځ د اړیکو جوړولو امکانات زیاتوي: د ښځو چارو له وزارت او ملګرو ملتونو سره په تړاو، د مدني ټولنې ملي او نړیوال سازمانونه باید د داسې لارو چارو په لټه کې شي، چې په مختلفو ولایتونو کې د پارلمان او د ولایتي شوراګانو د بریالیو او ناکامو نوماندانو ترمنځ اړیکې ترویج او تغذیه کړي. د دغه کار په ترسره کولو سره به د نوماندانو لپاره د دې فرصت رامنځته شي چې یو له بل څخه پرته له کوم ګواښه معلومات او تجربې شریکې کړي؛ د کامیابو او نویو هغو نوماندانو یا د پارلمان او ولایتي شوراګانو د غړو ترمنځ د څارنې فعالیتونه تسهیل کړي، چې پارلمان ته د ننوتلو هڅه کوي؛ په دفتر کې د پارلمان او ولایتي شوراګانو غړو لپاره د خپلو فعالیتونو د همغږي کولو زمینه رامنځ ته کړي؛ او په بالقوه ډول د ټاکنو پر مهال د ښځینه نوماندانو ترمنځ همغږي زیاته او منفي سیالي راکمه کړي.
- هغه لارې چارې ولټوئ، چې د ښځینه نوماندانو او ښځینه رایه ورکوونکو ترمنځ اړیکې غښتلې کوي: په څېړنه کې شواهد دا په ډاګه کوي، چېد افغانستان د ښځینه حوزې په ځینو برخو کې، د ښځو د اشتراکي لیوالتیا احساس موجودو، که څه هم په زیاته کچه نه وو کارول شوی. لېر تر لېره په جنډر پورې پر یوه محدود شوي دریځ دریدل– د مثال په ډول د میندو د روغتیا یا د نجونو د تعلیم ملاتړ– له نوماندانو سره د ښځینه رایه ورکوونکو د ملاتړ په برابرولو کې مرسته کولای شي په دې برخه کې، د مدني ټولنې ملي سازمانونه هم باید د داسې انګیزو په لټه کې شي، چې ښځینه نوماندانې له ښځینه رایه ورکوونکو سره په لا ګټور ډول بوختې شي. په جنوبي اسیا کې د ښځو د خوځښتونو د مثال تعقیبول، د هغو نوماندانو لپاره، چې د ښځو د ګټو د استازیتوب کولو ژمنه کوي، په مالي او یا هم د حقیقي رایې ورکونې د بلاکونو په څېر د ملاتړ د وړاندې کولو په بڼه د غړو یا ګټه اخیستنکو همغږي کول رانغاړي. د انفرادي نوماندانو د ملاتړ د سیاسي حساست له امله، دغه ډول هڅې کیدای شي چې په غوره ډول د افغانستان په کمزورو سیاسي ډلو باندې متمرکزې کړای شي. بل اختیار دا دی، چې د ملي پیوستون د پروګرام د ښځو د شورا او راتلونکو ښځینه نوماندانو ترمنځ د اړیکو د رامنځته کولو او ترویج هڅې باید ترسره شي، څو داسې چینلونه تاسیس کړای شي، د کومو د لارې چې کیدای د ښځینه انتخاباتي حوزو غړ واوریدل شي.
- دا یقیني کړئ، چې د ښځو د اختصاصي څوکیو په اړه معلومات د مدني روزنې په فعالیتونو کې شامل کړای شوي: د دې په پام کې نیولو سره چې اوس مهال ښځې کولای شي د نارینه وو په پرتله د ډیرو کمو رایو په ګټلو سره څوکۍ تر لاسه کړي، اختصاصي

څوکې کېداى شي د ښځينه نوماندانو لپاره د معامله کولو مهم وسايل وړاندې کړي. د زيات شمېر ټولنو ترمنځ د پېژندل شوي استازي د انتخابولو د غوښتنې په پام کې نيولو سره، ښځينه نوماندانې کولاى شي په منطقي ډول د دې استدلال وکړي، چې د هغوي نارينه وو همکارانو لپاره د رايه ورکولو په پرتله، د دوي لپاره رايه ورکول زيات د دغې غوښتنې د پوره کولو احتمال لري. پر دې سربيره، د دې لپاره چې دغه استدلال ترسره شي، رايه ورکوونکي بايد د اختصاصي څوکيو په سيستم او د هغه په کارونې پوه شي– يوه داسې پوهه چې د څېړنې له خوا خورا کمه آن د نشت تر کچې په ګوته شوې.

## رايه ورکوونکي

- دټاکنو لپاره مخکې له مخکې تيارى ونيسئ: له دې او نورو څېړنو څخه شواهدو په ډاګه کړه، چې د ټاکنو لپاره چټک تيارى پر ښځو باندې په بې تناسب ډول منفي اغېزې درلودې. مخکې له مخکې د ټاکنو پلان او تمويلول به د عامه پوهاوي د شتون او کيفيت د زياتولو له لارې د ښځو د خبرتيا کچې لوړې کړي، او د ټاکنو د ښځينه بسياشمېر د يقيني کولو له لارې به د رايې اچونې بکسونو ته د هغوي لاس رسي زيات کړي.
- د مدني روزنې څارنه او ارزونه اصلاح کړئ: له وخت څخه مخکې پيل به د غښتلې څارنې او ارزونې د ميکانيزمونو د جوړولو فرصت رامنځته کړي. د دغه کار ترسره کول به په دې کې مرسته وکړي، چې ايا پروګرام په ريښتينې ډول هغو ګټه اخيستونکو ته چې په پام کې نيول شوي، په ځانګړي ډول ښځو ته رسيږي او که نه او لکه څنګه چې اړتيا ده، کار کوي او که څنګه. د دغې څېړنې موندنې د دې وړانديز کوي، چې څارونکى بايد په مشخص ډول د دې پلټنه وکړي، چې ايا په پام کې نيول شوي سړي په خپلو کورنيو کې ښځو ته پيغامونه په عملي ډول رسوي او که نه (لکه څرنګه چې ځينې وختونه د ټاکنو کميسيون ترسره کړي) او تر کومې اندازې د راډيوګانو د خپرونو له لارې عامه پوهاوي ښځو ته رسيږي.
- په ښوونځيو کې مدني ټولګي معرفي کړئ: د عامه پوهاوي د نورو فعاليتونو د مسوولیت د روښانه کولو د يوې لار په څير، د ښوونې وزارت بايد داسې مدني ټولګي عملي کول په پام کې ونيسي کوم چې انتخاباتي پروسه او د هغې تشکيل په ښوونځيو کې روښانه کوي. دغه کار به په غير متناسب ډول په هغو ځوانو ميرمنو چې کيداى شي د مدني روزنې ټولګيو ته لاس رسي و نه لري يا د هغو نوماندانو د کمپاين کولو په فعاليتونو کې ګډون وکړي، چې له ټولنيزو محدوديتونو سره مخ دي، په زياته کچه اغيزه ولري.
- د ټاکنو د فعاليتونو لپاره د تمرکز په څير د ښوونځيو رول په پام کې ونيسئ: د ښځو لپاره د يوې نادرې، خوندي او د جندر په اساس بې طرفه فضا په رامنځ ته کولو کې د ښوونځيو د بالقوه رول په پام کې نيولو سره، څو هغوي د معلوماتو په خپرولو او د کمپاين کولو په فعاليتونو کې ګډون وکړي، د ښوونې وزارت او د ټاکنو د خپلواک کميسيون ترمنځ بايد په واضح ډول پر دې خبرې اترې ترسره شي، چې په راتلونکو ټاکنو کې که چيرې ښوونځي کوم رسمي رول لوبولاى شي او د هرو راتلونکو ټاکنو څخه مخکې لاس ته راغلې موافقه څرګنده کړي.
- په ټولنو کې د ښځو د سياسي ژوند د رول د زياتولو لپاره کار وکړئ: په څرګند ډول د يوه تحميل کيدونکې دندې پر مهال، ډيرو پروګرام جوړونکو لپاره مهمه ده، چې د داسې لارو چارو په لټه کې شي، څو وکولاى شي د ښځو سياسي غږ د هغوي په ټولنو کې خپور کړي. يوه غښتلې لار به دا وي، چې د سياسي پوهاوي زياتونه او د ګډو کارونو د تنظيم فعاليتونه له هغو پروګرامونو سره يو ځاى کړي چې د ښځو د اقتصادي پياوړتيا لپاره کار کوي. په خاص ډول د ملي پيوستون د پروګرام په دننه کې د ښځو له شوراګانو سره. د ښځو لپاره د داسې ځاى برابرول، چې دوي خپلې سياسي ګټې تر بحث لاندې ونيسي، تعريف او تنظيم کړي. دغه شوراګانې يا نورې ادارې، کولاى شي چې د ښځو نقش په سياسي ژوند کې لوړ کړي او د دوي غوښتنې منعکسې کړي، او په اوږد مهال کې له پريکړه کوونکو نورو ادارو سره چې د نارينه وو له خوا اداره کيږي يو انډول رامنځ ته کړي. سره له دې چې د ښځو د حقونو د اجنډا په وړاندې د هيواد په ډيرو برخو کې په پراخ ډول دښمني او بدګماني موجودې دي، له دې امله دغه هڅې بايد له خورا زيات احتياط او بشپړې ژمنتيا سره ترسره شي. د دې ترڅنګ د مدني روزنې د پروګرامونو هدف دا و، چې نارينه نه يوازې په ټاکنو کې د ښځو وړتيا او ارزښت ومني او انتقال يې کړي، بلکې دښځو هغه وړتيا هم څرګنده کړي، چې کولاى شي د ټاکنو په پروسه کې د معلوماتو پر بنا مهم رول ولري.

## څېړنه

- په ټاکنو کې د ښځو د ګډون په اړه د څېړنې اندازه او پراخوالى: که د دې څېړنې محدوده ساحه په پام کې ونيسو ضروري ده، چې د راتلونکو ټاکنو د پلان کولو لپاره په دې ساحه کې بايد نورې څېړنې ترسره شي. دغه څېړنې بايد د پښتنو په سيمو کې ترسره شي، چې ددې څېړنې يو ډير ستر عيب و. پر دې سربيره، د دې اړتيا شته چې د ښځينه رايه ورکوونکو تجربو ته ډيره پاملرنه وکړو، ځکه چې د نوماندانو په پرتله په تيرو کلونو کې د دوي په اړه ډيرې لږې څېړنې شوې دي.
- د کم عمره رايه ورکوونکو په اړه نورې څېړنې: څېړنيز سازمانونه بايد هڅه وکړي، چې د کم عمره رايه ورکوونکو بعدونه وپيژني، څو څرګند شي، چې د هيواد په بيلا بيلو ساحو کې څه نقشونه درلودلاى شي، په ځانګړي ډول که چيرې دغه حقيقت په پام کې ونيسو، چې ښايي په ځينو قضيو کې دوى د ډيرې ليوالتيا له مخې هڅول شوي وي، او د سيستماتيکې درغلۍ نښانې په کې نه وي.

ټاکنې په عام ډول، خصوصا په ټاکنو کې د ښځو ګډون، په افغانستان کې په نسبي ډول يوه نوې پديده ده، چې لا اوس هم د بدلون په حال کې ده. ښځې لا اوس هم له ډيرو محدوديتونو سره مخ دي، څو خپل اواز په ملي کچه او په خپلو ټولنو کې اوچت کړي او نور ډير څه بايد ترسره شي، مخکې له دې چې دوي په سياست کې له نارينه وو سره په يوه کچه په واقعي مانا برخه واخلي. سره له دې هم، د تيرو لسو کلونو برياوې ډيرې څرګندې خو پاينت لرونکې نه دي. څرنګه چې له طالبانو سره د سولې خبرې او په عمومي ډول محافظه کاره چاپيريال د افغانستان په سياسي راتلونکې کې د ښځو په رول شک او ترديد راپيدا کوي، له دې امله اړينه ده، چې افغانې او نړيوال شريکبانې په پرلپسې ډول په دې غور وکړي، چې څنګه کولاى شي دغه برياوې وساتي او د هغو پر بنياد پرمختګ وکړي.

# لومړۍ ضميمه: د ټولنيزې – نفوس پيژندنې معلومات

د ضميمې لومړی جدول: د مرکې د ډول او ساحې پر بنسټ په څېړنه کې د مرکه ورکوونکو او ګډونوالو معلومات

| د مرکې ډول | ساحه | | | ټولټال |
|---|---|---|---|---|
| | بلخ | باميان | کابل | |
| مفصله مرکه | ۲۳ | ۱۹ | ۳۷ | ۷۹ |
| ګروپي مباحثه | ۱۹ | ۲۶ | ۱۹ | ۶۴ |
| ټولټال | ۴۲ | ۴۵ | ۵۶ | ۱۴۳ |

د ضميمې دوهم جدول: د عمر د اندازې او ساحې پر بنسټ په څېړنه کې د مرکه ورکوونکو او ګډونوالو معلومات

| عمر | ساحه | | | ټولټال |
|---|---|---|---|---|
| | بلخ | باميان | کابل | |
| ۲۱– ۳۰ | ۶ | ۷ | ۸ | ۲۱ |
| ۳۱– ۴۰ | ۱۲ | ۱۷ | ۲۱ | ۵۰ |
| ۴۱– ۵۰ | ۶ | ۷ | ۱۵ | ۲۸ |
| ۵۱– ۶۰ | ۱۳ | ۸ | ۳ | ۲۴ |
| ۶۱– ۷۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۷۱– ۸۰ | ۱ | ۱ | ۳ | ۵ |
| له ۸۱ پورته | ۰ | ۱ | ۱ | ۲ |
| ټولټال | ۴۲ | ۴۵ | ۵۶ | ۱۴۳ |

# کتاب پیژندنه (د کتابو او نسخو نبته)

«په افغانستان کې د ۲۰۰۹ ولسمشري او ولایتي شوراګانو ټاکنې.» کابل: ملي دیموکراتیک انستیتوت، ۲۰۱۰.

«د ۲۰۰۹ کال د ولسمشریزې شورا ټاکنې: د راپورو وروستی کتنه.» کابل: د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنیاد، ۲۰۰۹.

«په افغانستان کې د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګې ټاکنې.» کابل: ملي دیموکراتیک انستیتوت، ۲۰۱۰.

«د افغانستان ولایتي لاربنوونې.» کابل: د افغانستان اسلامي دولت او نړیوال بانک، ۲۰۱۰.

«د افغانستان د مدني ټولنې د سازمانونو د نفوسو په اړه معلومات ۱۳۹۰ کال.» کابل: د ملي احصائیې اداره، ۲۰۱۰.

http://www.afghaneic.org/Data/CSO%20Data/Afghanistan%20Population%20population%20CSO%20data%201390%20(2011)%20-12.pdf

بارفیلد، توماس. افغانستان: یو کلتوري او سیاسي تاریخ. د پرینستون ملي جورنال: د پرینستون پوهنتون اعلامیه، ۲۰۱۰.

باري، فرزانه. «د ښځو سیاسي ګډون: ستونزې او ننګونې،» د ښځو د متخصص ګروپ د پرمختګ په موخه د ملګرو ملتونو د خبرو اترو لپاره تیاره شوې لیکنه: د ښځو د پرمختګ او د جندر د برابري د تر لاسه کولو لپاره د مساعد چاپیریال له لارې په پرمختګ کې د ښځو د ګډون غښتلي کول. بنکاک، نومبر ۲۰۰۵.

http://www.un.org/womenwatch/daw/egm/enabling-environment2005/docs/EGM-WPD-EE-2005-EP.12%20%20draft%20F.pdf

باسو، امریتا. «په جنوبي کوریا کې د ښځو سیاسي ډلې او ټولنیز حرکتونه.» ژنیو: د ټولنیز پرمختګ لپاره د ملګرو ملتونو څېړنیز انستیټوت، ۲۰۰۵.

برونیت، ارینای، او اسابیلی سولون هلال. «د فرصت ترلاسه کول: افغان میرمنې او د قانون جوړونې پروسه.» مونتریال: حقونه او دیموکراسي، ۲۰۰۳.

برونز، ګابریلی. «د ښځو سیاسي تقویت- د ښځو د سیاسي تقویت په اړه په سیمه ییز ورکشاپ کې راپور.»

http://www.unescap.org/esid/GAD/Events/BeijingPlatform1999/fes-pap.pdf

«د ویرې په وړاندې کمپاین کول: په افغانستان کې د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې د ښځو ګډون.» کابل: د بشري حقونو څار، ۲۰۰۵.

کوبورن، نوحا. «په افغانستان کې پارلماني او منطقوي سیاستونه: د ټاکنو بې ثباتي II.» کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۰.

کوبورن، نوحا او انا لارسون. حیرانوونکې دیموکراسي. راتلونکې

کوبورن، نوحا او انا لارسون. «د استازي حکومت کمزوري کول: د افغانستان د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنې او د هغو لیږدونکې اغېزه.» کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۱.

کوبورن، نوحا او انا لارسون. «یو ځای رایه اچونه: ولې د افغانستان د ۲۰۰۹ کال ټاکنې یو ناورین و (یا نه و).» کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۰۹.

دوپري، لویس. افغانستان. د پرینستون ملي جورنال: د پرینستون پوهنتون اعلامیه ۱۹۸۰.

دوپري، نانسي هاتچ. «انقلابي بیان او افغان میرمنې،» په انقلابونو او بغاوتونو کې په افغانستان کې: د انسان پیژندنې لید لوري، د نظیف شهراني او روبرت ایل، کانفیلد، ۳۱۶- ۴۵ له خوا تصحیح شوی. بارکیلی، سی ای: د کلفورنیا پوهنتون بیانیه، ۱۹۸۴.

دلروپ، درودی او انجا تاروپ نوردلاند. «د جنډر ونډه: د برابري کیلی؟ د افغانستان او عراق د قضیې څېړنه.» اروپایي سیاسي ساینس ۳. شمېره ۳ (۲۰۰۴): ۹۱- ۹۸.

فارومند–سیمز، چشمک. «سیداو او افغانستان.» د ښځو د نړیوالو څېړنو جورنال ۱۱، شمېره ۱ (۲۰۰۹): ۵۶– ۱۳۶.

فلسچنبرگ، اندریا. د افغانستان پارلمان په رامنځ ته کولو کې: په یوه عنعنوي هیواد کې د جندر پوهیدنه او کارونه. برلین: د هینریچ بول بنیاد، ۲۰۰۹.

گالیگان یونی. «جندر او سیاسي استازیتوب: اوسني تجربوي لید لوري.» د نړیوال سیاسي ساینس کتنه ۲۸، شمېره ۵ (۲۰۰۷): ۷۰– ۵۵۷.

«د رتبې اخیستل؟ د ۲۰۱۰ کال په افغان پارلماني ټاکنو کې د ښځو له ګډون څخه تر لاسه شوي زده کړې.» کابل: د ټاکنو خپلواک کمیسیون، ۲۰۱۰.

«د افغان سیاست لاربنود.» کابل: ملي دیموکراتیک انستیتوت، ۲۰۱۱.

ابراهیم، جبرین. «لومړنۍ ښځینه نښه/حالت او له څواک څخه د ښځو کوښښتوب: د جندر د برابري لپاره امکانات یا مصلحتونه؟» فیمینست افریقا ۳.

www.feministafrica.org/index.php/first-lady-syndrome

نعمت الله ابراهیمي. "د افغانستان د هزاروو ترمنځ د سیاسي پانګې ویش: ۲۰۰۱– ۲۰۰۹." لندن: د لندن د ښوونځي د اقتصادي بحران د هیوادونو څېړنیز مرکز، ۲۰۰۹.

"د افغانستان د اسلامي حکومت پارلماني ټاکنې، د سپتمبر ۱۸، ۲۰۱۰: نهایي راپور." کابل: د اروپایي اتحادیې د ټاکنو د ارزونې ټیم، ۲۰۱۱.

نایلا کبیر عایشه خان او نیسان عدلپرور. "افغان ارزښتونه یا د ښځو حقونه؟ د افغانستان په ښاري سیمو کې د جریان او بدلون په اړه د جندر په اساس کیسې." بریګتون: د پرمختیایي څېړنو انستیتوت، ۲۰۱۱.

کانډیوټي ډنیز. "پخوانۍ ستونزې یا نوې ننګونې؟ په افغانستان کې د جنډر او بیا رغونې سیاست." پرمختګ او بدلون ۳۲، شمېره ۲ (۲۰۰۷): ۹۹– ۱۶۹.

انا لارسون. "په افغانستان کې تحلیلي دیموکراسي." کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۱.

لو، اولیور. "په افغانستان کې دیموکراسي عملي کول: د تفکر، پارلمان او ټاکنو په اړه کلیدي موندنې." کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۱.

مقدم والینټاین ایم. "د انقلاب، مذهب او جندر سیاست: د ایران او افغانستان پرتله." د ښځو د تاریخ جورنال ۱۰،شمېره: ۴ (۱۹۹۹): ۹۵– ۱۷۲.

مقدم سیپي ازربایجاني. «جندر په افغانستان کې.» د دولت په کمزورو شرایطو کې د دیموکراسي د ترویجولو د خپرونې په لړۍ کې، ۱ ګڼه: افغانستان. برلین: د هینریچ بول بنیاد، ۲۰۰۶.

«د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان.» کابل: د ښځو د چارو وزارت، ۲۰۰۸.

«د ۲۰۰۷/۸ د ګواښ او زیانمنتوب ملي ارزونه: د افغانستان طرحه.» کابل: اروپایي اتحادیه/ د افغانستان اسلامي حکومت، ۲۰۰۸.

«یو ګام مخکې، دوه ګامه شاته؟ « د افغانستان د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې د ښځو له ګډون څخه تر لاسه شوي زده کړې.» کابل: د ټاکنو خپلواک کمیسیون، ۲۰۰۹.

پولیودا لیون بی. په افغانستان کې اصلاح او بغاوت، ۱۹۱۹– ۲۹:د قومي ټولنې په مادرینزه کولو کې د امان الله خان ناکامي. اتاکا او لندن: د کرنل پوهنتون اعلامیه، ۱۹۷۳.

پولیې ایلازبیت. «روندا: ښځې پر نیمه یي پارلمان واکمنې دي.» په ښځې په پارلمان کې: له شمېرو هاخوا، د جولی بالیګتون او ازا کرم له خوا تصحیح شوي، ۱۵۴– ۱۶۴. استکهلم: د دیموکراسي او انتخاباتي مرستې نړیوال انستیتوت، ۲۰۰۵.

رایی، شیرین ایم. «په جنوبي اسیا کې تخصیص شوې څوکۍ: یو سیمه ییز لید لوری.» په ښځې په پارلمان کې: له شمېرو هاخوا، د جولی بالیګتون او ازا کرم له خوا تصحیح شوي، ۱۷۴– ۱۸۴. استکهلم: د دیموکراسي او انتخاباتي مرستې نړیوال انستیتوت، ۲۰۰۵.

شیدوا نادیژدا. «په پارلمان کې د ښځو د ګډون خنډونه.» په ښځې په پارلمان کې: له شمېرو هاخوا، د جولی بالیګتون او ازا کرم له خوا

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد وروستۍ خپرونې

د افغانستان د ټاکنو د سیستم جوړونه د اصلاحاتو لپاره دلایل او واکونه، اندرو رونالدز او جان کیری

برابر حقونه نا برابر فرصتونه: د افغانستان په پارلمانیي او د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د ښځو ګډو،

د اولیور لو او چونا اچاویز لیکنه.

جنسیت او اقتصادي غوراوي: په افغانستان کې د ښځو لپاره څه زاړه او څه نوي او عادي دي، د چونا اچاویز لیکنه.

آیا د ملي پیوستون په پروګرامونو کې د ښځو ګډون کولای شي د دوی په ژوندانه کې بدلون راولي؟ د چونا اچاویز لیکنه.

دیرش کاله جګړه: د ۱۹۷۸ نه تر ۲۰۱۱ کاله پورې په افغانستان کې د دولت ضد غونډو هڅوونکي، د انتونیو جیوستوزي او نعمت الله ابراهیمي لیکنه.

په افغانستان کې د جګړې د میراثونو رغونه: د عدالت غوښتنې، سولې او بیا پیوستون لپاره د سیمه ییزو تولنو غوښتنې. د ایمیلي وینټر بوتم لیکنه.

ستونزمن ګامونه: عدالت ، بخښنه او پخلاینه او د افغانستان دسولې له بهیرسره مرسته، د جې لمې او ایمیلي وینټر بوتم لیکنه

د ستونزو او حیرانتیاوو تر مینځ: د هلمند او ننګرهار په ولایتونو کې د ۱۳۹۰–۱۳۸۹ کلونو د کرکیلې پر موسم د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې د هڅو اغیزه، د ډیوید منسفیلد لیکنه.

په افغانستان کې پر کلیوالې بیوزلۍ له سره غور کول، د پاولا کانټور او آدم پین لیکنه.

د جګړې میراث: په غزني ولایت کې د ستونزو حل او مخ په وړاندې تلل: د ایمیلي وینټر بوتم لیکنه.

د جګړې میراث: په بامیان ولایت کې د ستونزو حل او مخ په وړاندې تلل: د ایمیلي وینټر بوتم او فوزیه رحیمي لیکنه.

د جګړې میراث: په کابل ولایت کې د ستونزو حل او مخ په وړاندې تلل: د ایمیلي وینټر بوتم لیکنه.

د جګړې د مهال کړاوونه: په افغانستان کې دسرغړونو نښې نښانې، د ایمیلي وینټر بوتم، او نورولیکنه.

د تکراریدونکو او په یوه وخت ستونزو مدیریت: د ۱۳۹۰–۱۳۸۷ کلونو تر مینځ د هلمند په مرکز کې د اپینو په تولید کې کمښت څرګندوي د ډیوید منسفیلد لیکنه.

په افغان ښاري بدلون کې حکومتداري او استازیتوب ، د توماسو ګیو وچیني لیکنه.

د ښځو پر ژوند د مایکرو فینانس د پروګرامونو اغیزه: د کابل په ولایت کې یوه قضیوي څېړنه، د سو ګل زند لیکنه.

سیمه ییزه حکومتداري د سیمه ییزو اړتیاوو لپاره: د افغانستان لپاره مهمې موندنې او د پالیسۍ انتخابونه، د داګلاس سالت مارشې او ابیلاش میدحي لیکنه.

د کوکنارو کر کیله بیا پیل شوه: په ۱۳۹۰ کال کې د بلخ او بدخشان په ولایتونو کې د کوکنارو د کرکیلې بیا پیل، د آدم پین لیکنه.

په افغانستان کې سیمه ییزه اداره: له سیمې نه یو نظر، د داګلاس سالت مارشې او ابیلاش میدحي لیکنه

د نوو ښارونو د پلان جوړونې په هکله د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د یو ګردي میز دبحث بهیر. د توماسو ګیوو چیني لیکنه.

په افغانستان کې د ولسواکۍ (ډموکراسۍ) تجربه کول: د پارلمان او ټاکنو په اړه د نظریوپه هکله مهمې موندنې، د اولیور لو لیکنه.

د ولسي جرګې سیاسي اقتصاد: مالي سرچینې او د هغو اغیزې دافغانستان په پارلمان کې پر استازیتوب. د نوح کاوبرن لیکنه.

په افغانستان کې د ډموکراسۍ د مفهوم تفسیر، د انالارسن لیکنه.

تصحیح شوي، ۳۴– ۵۰. استکهلم: د دیموکراسي او انتخاباتي مرستې نړیوال انستیتوت، ۲۰۰۵.

«د ۲۰۰۵ په سپتمبر کې په افغانستان کې پارلماني او د ولایتی شوراگانو ټاکنې.» واشنګټن، ډی سی: ملي دیموکراتیک انستیتوت، ۲۰۰۶.

وایلډر، اندریو. «یو ښه ملي جمعیت: د ۴۰ او ۴۵ سلنې ترمنځ.» بهرنۍ پالیسي، د اګست ۲۱، ۲۰۰۹. http://afpak.foreignpolicy.com/blog/۱۰۱۰۲

وایلډر، اندریو. «ویشل شوي کور؟ د ۲۰۰۵ افغان ټاکنو تحلیل.» کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۰۵.

«ښځې او د افغانستان د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنې.» کابل: د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنیاد، ۲۰۱۰.

ورډورت، انا. «د ګټو موضوع: د افغانستان په ولسي جرګه کې اوسنی جندر او سیاست.» کابل:د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۰۷.

## د څرګندونو لپاره ستاسي غوښتنې

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره ډیر علاقه لري چې ستاسو څخه واوري. په هر صورت که تاسی د دی اداریې خپرونو لوستونکی یاست، یا مو د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره کې په لکچر یا ورکشاف کې ګډون کړی وی، یا مو له کتابتون څخه استفاده کړی وی، یا مو له اداري له کارونو او څیړنو سره اشنایی پیدا کړی وی، ستاسي څرګندونی او غوښتنې زمونږ لپاره ډیر د ارزښت وړ دی، ستاسي وړاندیزونه له مونږ سره مرسته کوی ترڅو خپل هدف په ښه توګه تعقیب او د خپلو کارونو لاسته را وړنې په ښه ډیر له خپلو خپرونو لوستونکو سره شریکې کړو.

تر ټولو اسانه لار د څرګندونو لپاره ستاسي غوښتنې د برښنالیک له لاری areu@areu.org.af همدارنګه تاسي کولای چې له مونږ سره په اړیکه کې شي ۹۳+ (۰)۷۹۹ ۶۰۸ ۵۴۸

- تاسي په خپلواکه توګه نظر ورکولای شی، اما ستاسی ځوابونه او معلومات پدی اړه زمونږ لپاره ډیر ارزښناکه تامیږی،
- له دی اداري او د دی اداری له څیړنو سره څنګه اشنا شوی (د خپرونو له لاری، یا د دی اداری په غونډو یا مجلسونو کې ګډون له لاری)
- د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري له څیړنو د څه لپاره استفاده کوی
- د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري څیړنې څنګه تر لاسه کوی
- آیا له خپرونو نه په برښنایي یا چاپی ډیر استفاده کوی
- د خپرونو معلومات ستاسو لپاره په کوم ډیر باندی وړاندی شی
- ستاسو وړاندیزنه د دی اداری د څیړنو په اړه څه شی دی
- ستاسي په زړه پوري خپرونه یا پېښه د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداري څخه کومه ده
- ستاسي په باور په کومو مواردو کې زمونږ کارونه ګټور تامیږی
- علاقه، د دندی ساحه او یا ستاسی د مطالعی ځای

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد وروستۍ خپرونې

د افغانستان د ټاکنو د سیستم جوړونه د اصلاحاتو لپاره دلایل او واکونه

برابر حقونه نا برابر فرصتونه: د افغانستان په پارلمانيي او د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د ښځو ګډون، د اولیور لو او چونا اچاویز لیکنه. * #

جنسیت او اقتصادي غوراوي: په افغانستان کې د ښځو لپاره څه زاړه او څه نوي او عادي دي، د چونا اچاویز لیکنه.

آیا د ملي پیوستون په پروګرامونو کې د ښځو ګډون کولای شي د دوی په ژوندانه کې بدلون راولي؟ د چونا اچاویز لیکنه.

دیرش کاله جګړه: د ۱۹۷۸ نه تر ۲۰۱۱ کاله پورې په افغانستان کې د دولت ضد غونډو هڅوونکي، د انتونیو جیوستوزي او نعمت الله ابراهیمي لیکنه.

په افغانستان کې د جګړې د میراثونو رغونه: د عدالت غوښتنې، سولې او بیا پیوستون لپ

اره د سیمه ییزو ټولنو غوښتنې. د ایمیلي وینټر بوتم لیکنه.

افغانستان وړاندې ګوري: د حکومت او ټولنې د هوساینې لپاره ننګونې

ستونزمن ګامونه: عدالت ، بخښنه او پخلاینه او د افغانستان دسولې له بهیرسره مرسته، د جې لمې او ایمیلي وینټر بوتم لیکنه

د جګړې میراث: په غزني ولایت کې د ستونزو حل او مخ په وړاندې تلل: د ایمیلي وینټر بوتم لیکنه.

د جګړې میراث: په بامیان ولایت کې د ستونزو حل او مخ په وړاندې تلل: د ایمیلي وینټر بوتم او فوزیه رحیمي لیکنه.

د جګړې میراث: په کابل ولایت کې د ستونزو حل او مخ په وړاندې تلل: د ایمیلي وینټر بوتم لیکنه.

د جګړې د مهال کړاوونه: په افغانستان کې دسرغړونو نښې نښانې، د ایمیلي وینټر بوتم، او نورولیکنه.

د تکراریدونکو او په یوه وخت ستونزو مدیریت: د ۱۳۸۷–۱۳۹۰ کلونو تر مینځ د هلمند په مرکز کې د اپینو په تولید کې کمښت څرګندوي د ډیوید منسفیلد لیکنه.

په افغان ښاري بدلون کې حکومتداري او استازیتوب ، د توماسو ګیو وچیني لیکنه.

د ښخو پر ژوند د مایکرو فینانس د پروګرامونو اغیزه: د کابل په ولایت کې یوه قضیوي څېړنه، د سو ګل زند لیکنه.

سیمه ییزه حکومتداري د سیمه ییزو اړتیاوو لپاره: د افغانستان لپاره مهمې موندنې او د پالیسۍ انتخابونه، د داګلاس سالت مارشې او ابیلاش میدحي لیکنه.

د کوکنارو کر کیله بیا پیل شوه: په ۱۳۹۰ کال کې د بلخ او بدخشان په ولایتونو کې د کوکنارو د کرکیلې بیا پیل، د آدم پین لیکنه.

سیمه ییزه اداره د سیمه ییزو اړتیاوو په پوره کولو کې پاتې راغله( پود کست)

په افغانستان کې سیمه ییزه اداره: له سیمې نه یو نظر، د داګلاس سالت مارشې او ابیلاش میدحې لیکنه* #

د نوو ښارونو د پلان جوړونې په هکله د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د یو ګردي میز دبحث بهیر. د توماسو ګیوو چیني لیکنه.

په افغانستان کې د ولسواکۍ( ډموکراسۍ) تجربه کول: د پارلمان او ټاکنو په اړه د نظریوپه هکله مهمې موندنې، د اولیور لو لیکنه.

د ولسي جرګې سیاسي اقتصاد: مالي سرچینې او د هغو اغیزې دافغانستان په پارلمان کې پر استازیتوب. د نوح کاوبرن لیکنه.

په افغانستان کې د ډموکراسۍ د مفهوم تفسیر، د انالارسن لیکنه* #.


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

کورنمبر۱٤۹، حاجي یعقوب څلور لاري څخه دشهید څلورلاري په لور،

ښي اړخ ته دریمه کوڅه. نوی ښار، کابل، افغانستان

ټیلیفون: ٥٨٤ ٦٠٨ ٧٩٩ (٠) ٩٣+ برښنالیک: areu@areu.org.af برښنا پاڼه: www.areu.org.af

ددغه اداری تولی خپرونی په دغه بریښنا لیک کی داونلود لپاره موجوده areu@areu.org.af او یا په چاپ شوو کاپیانو کی په دی پته:


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
کورنمبر٦٤٩، حاجي يعقوب څلور لاري څخه دشهيد څلورلاري په لور،
ښي اړخ ته دريمه کوڅه. نوی ښار، کابل، افغانستان
ټليفون: ٥٨٤ ٦٠٨ ٧٩٩ (٠) ٩٣+
برښنالیک :areu@areu.org.af
برښنا پاڼه :www.areu.org.af